مجاهدينو ته

حفظه الله

د امیرالمؤمنین

لارښوونې

مجاهــدينو ته
د اميرالمؤمنين حفظه الله
لارښــوونې

خپرندوی: د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنگي چارو کميسيون، دتاليف او ترجمې څانگه

د کتاب ځانگـــړنې:

دکتاب نوم: مجاهدینو ته د امیرالمؤمنین لارښوونې

ابلاغ: امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله حفظه الله

ترتیب: شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم صاحب حفظه الله

چاپ کال: ۱٤۳۸هق

چاپ وار: لومړی

چاپ شمېر: ۵۰۰۰ ټوکه

خپرندوی: دافغانستان اسلامي امارت

د فرهنگي چارو کمیسیون، دتالیف او ترجمې څانگه

دخپرونو لړ: ۱٦

ډیزاین: تخنیکي څانگه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ

مــقدمـــه

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره ونستهديه، ونعوذ بـالله مـن شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هـادى له، ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ونشهد أن محمداً عبـده ورسـوله قـال الله تبارک و تعالی: إِنّ اللہ وَمَلائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النّبِيّ يَاأَيُّهَا الّذِينَ آمَنُواصَـلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا [الأحـزاب:٥٦]. اللّٰهُمَّ صـل وسـلم عليـه وعلى آله وصـحبه ومن سارعلى نهجه إلى يوم الدين. و أيضـا قـال الله تبـارک و تعالى:يأَيُّهَـا الَّذِيـنَ ءامَنُواْ اتَّقُواْ الله وَقُولُواْ قَوْلاًسَدِيداً. يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَن يُطِعِ الله وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزاً عَظِيماً. صدق الله العظـيم [الأحـزاب : ٧٠-٧١].

محترمو مسلمانانو وروڼو او بالخصوص د اسلامي امارت مجاهدينو !

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا طریقه وه چې کله به یې د مجاهدینو ټولی د کومې غزا لپاره لیږه نو په دې وخت کې به یې ورته د جهاد د آدابو ، روا او ناروا په باره کې دیني لارښوونې کولې، ترڅو مجاهدین خپل جهادي کردار په شرعي طریقه ترسره کړي او د کوم تجاوز یا انحراف مرتکب نه شي.

په دې باره کې په صحيح مسلم شريف کې د حضرت بريدة رضی الله عنه په روايت حديث راغلی چې فرمايي: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أمّر أميراً على جيش أو سرية أوصاه بتقوى الله ومن معه من المسلمين خيراً، فقال: اغزوا باسم الله، في سبيل الله قاتلوا من كفر بالله، اغزوا ولا تغلوا، ولا تغدروا، ولا تمثلوا، ولا تقتلوا وليداً و ... الخ (رواه مسلم).

حضرت بريدة رضی الله عنه روايت کوي چې کله به رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو د جهاد لښکر يا ټولي ته کوم امير ټاکلو نو هغه أمير او ورسره نورو مسلمانانو ته به يې د تقوی توصيه کوله، ورته ويل به يې: د الله تعالی په نوم او د الله تعالی په لاره کې له هغه چا سره جګړه وکړئ چې له الله تعالی يې انکار کړی او کافران شوي، جهاد وکړئ او په غنيمت کې غلا، غدر او مثله مه کوئ او ماشوم مه وژنئ . . . . داحديث شريف چې خورا اوږد دی رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کې مجاهدينو ته هغه ضروري احکام او آداب ذکر کړي دي چې يو مجاهد ورته اړتيا لري.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم له دې ارشاداتو څخه معلوميږي چې دمسلمانانو دهرأمير دا وظيفه ده چې مجاهدينو ته وخت په وخت لارښوونې او هدايات صادر کړي،ترڅو د مجاهدينو جهاد په شرعي طريقه برابر او له انحرافاتو يا افراط او تفريط څخه محفوظ شي.

جهاد کوم لا محدود عمل يا خودسره قتال نه دی بلکې د هر ديني عمل په څېر د جهاد لپاره هم شريعت ځانګړي فقهي احکام او آداب ټاکلي، چې يو ازې په هماغه لاره

تګ او د هماغو شرایطو، احکامو او لارښوونو په رعایت سره کیدای شي واقعي جهاد ترسره شي "اوبس".

لکه څرنګه چې د نورو عباداتو له پیل نه مخکې د هغو شرعي احکام او آداب زده کول او ځان پرې پوهول ضرور دي، همدا سې په جهاد کې هم باید مجاهد له هر څه مخکې د جهاد په ضروري احکامو او آدابو ځان پوه کړي.

ټول هغه ضروري احکام چې مجاهدین ورته اړتیا لري د اسلامي امارت لخوا په عمومي (لائحه) کې نشر شوي دي، وخت په وخت د اسلامي امارت د زعیم په پیغامونو، ځانګړو هدایاتو، د معسکراتو په درسونو او کلنیو تربیوي پروګرامونو کې هم بیا بیا بیان شوي دي.

ددې لپاره چې مجاهدین نور هم خپل کردار ته ښه متوجه شي، نیتونه او اعمال یې اصلاح او جهاد یې د الله تعالی په دربار کې د قبولتیا وړ وګرځي، د اسلامي امارت د زعیم أمیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله آخندزاده صاحب لخوا مجاهدینو ته دغه لارښوونې وړاندې کیږي، مجاهدین دې کوښښ وکړي چې دا لارښوونې ولولي، ځان پرې پوه کړي او عمل پرې وکړي، که کوم مجاهد یې په خپله نشي مطالعه کولای نو بل مجاهد دې چې لیک لوست کولای شي ورته ولولي او ورباندې پوه دې کړي.

الله تعالی ته دعاء کوو چې دغه لارښوونې مقبولې او مؤثرې وګرځوي ترڅو په مجاهدینو کې د لازیات اخلاص، اصلاح، تقوی، حسنه اخلاقو، اخوت او اتحاد د پیدا کیدو سبب شي. دغه راز د اسلامي امارت د رهبري شورا غړي شیخ الحدیث مولوي

عبدالحکیم صاحب ته هم له الله تعالی څخه کامل اجرونه او د دارینو سعادت غواړو چې د دې رسالې په برابرولو کې یې ډېره همکاري وکړه. الله تعالی دې سعی قبوله کړي.

آمین یا رب العلمین

مجاهدينو ته د شريعت په رڼا کې لارښووني

الحمد لله رب العلمين، الذي بعث رسوله بالخلق العظيم وجعله قائدا للمجاهدين والصلوة والسلام على من أتم مكارم الأخلاق و أمر بها الى الحكام والمجاهدين وعلى اله واصحابه الذين هم قدوة الأمة في اعلاء كلمة الله الى يوم الدين.

امابعد :

څرنګه چې اوس د جهاد وخت دی په ځانګړې توګه زموږ په اشغال شوي هیواد افغانستان کې مجاهدین د دښمنانو په وړاندې په اسلامي مبارزه اخته دي؛ نو ځکه ما اراده وکړه چې د الله جل جلاله د مقدس کتاب او نبوي احاديثو په رڼا کې د دوی لپاره هغه څه ولیکم چې اوس مهال د دوی تر ټولو لومړنۍ اړتیا ده، الله جل جلاله دې موږ او دوی ټولو ته د عمل توفیق راکړي.

❋ ❋ ❋

نيــت او اهمــيت يــې

نيت چې نه يوازې په جهاد بلکې په ټولو عباداتو کې مهم امر دی الله جل جلاله يې په اړه فرمايي: وَما أمروا إلاَّ لِيَعْبُدُوا الله مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّيـنَ حُنَفـاءَ وَيُقِيمُـوا الصَّلاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكاةَ وَذلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ [البينة: ٥]

ژباړه: او هغوی ته (هم) بل څه امر نه و شوی، پرته له دې چې د الله تعالی عبادت وکړي په داسې حال کې چې هغه لره د خپل دين سوچه کوونکي حق پلوي اوسي، لمونځ دې ترسره کوي، زکات دې ورکوي او همدا سم برابر دين دی.

في تفسير المنير، الإخلاص:هو أن يأتي بالفعل خالصا لداعية واحدة ولا يكون لغيرها من الدواعي تأثير في الدعاء إلى ذلك الفعل. وقوله: مُخْلِصِينَ تنبيه على ما يجب من تحصيل الإخلاص من ابتداء الفعل إلى انتهائه. والمخلص: هو الذي يأتي بالحسن لحسنه والواجب لوجوبه، فيأتي بالفعل مخلصا لربه، لا يريد رياء ولا سمعة ولا غرضا آخر، بل قالوا: لا يجعل طلب الجنة مقصودا ولا النجاة عن النار مطلوبا وإن كان لا بد من ذلك.(ج٣٠/ص٣٤٦)

ژباړه: اخلاص دې ته ويل کېږي چې کار يوازې د يوې داعيې لپاره ترسره شي او د نورو غوښتنو اغيز پکې نه وي. د "مخلصين" ټکی د دې خبرداري ورکولو لپاره دی چې کار بايد له پيله تر پايه په اخلاص سره وي او مخلص هغه

ځوک دی چې نېک کارددې لپاره کوي چې په هغه کې ښېګڼه ده او واجب کار ځکه کوي چې پرې واجب دی، په دې ډول هر کاریوائې د خپل خدای لپاره ترسره کوي، نه پکې دریا اراده لري نه د سمعت او نه د کوم بل شي، بلکې علماء خولا دا هم وايي چې د نیک کار له ترسره کولو یې مقصد جنت ته تلل او له دوزخ ځخه د ځان ژغورل هم نه وي، که ځه هم له هغه ځخه چاره نسته).

وفي شرح المهذب: وَعَنْ ذِي النُّونِ رَحِمَهُ الله قَالَ ثَلَاثَةٌ مِنْ عَلَامَاتِ الْإِخْلَاصِ اسْتِوَاءُ الْمَدْحِ وَالذَّمِّ مِنْ الْعَامَّةِ وَنِسْيَانُ رُؤْيَةِ الْأَعْمَالِ فِي الْأَعْمَالِ وَاقْتِضَاءُ ثَوَابِ الْعَمَلِ فِي الْآخِرَةِ. وَعَنْ أَبِي عُثْمَانَ رَحِمَهُ الله قَالَ الْإِخْلَاصُ نِسْيَانُ رُؤْيَةِ الْخَلْقِ بِدَوَامِ النَّظَرِ إِلَى الْخَالِقِ. وَعَنْ حُذَيْفَةَ الْمَرْعَشِيِّ رَحِمَهُ الله قَالَ الْإِخْلَاصُ أَنْ تَسْتَوِيَ أَفْعَالُ الْعَبْدِ فِي الظَّاهِرِ والباطن.(ج١/ص٢٩).

ژباړه: په شرح المهذب کې د حضرت ذوالنون مصري رحمه الله په حواله راغلي چې د مخلص درې علامې دي:

لومړی دا چې د خلکو مدح او ذم به دواړه ورته یو برابر وي.

دوهم خلکو ته به خپل عمل د ریاء لپاره نه ځرګندوي.

دریم په اخرت کې به د عمل په مقابل کې د نیکې بدلې هیله ساتي.

له ابی عثمان رحمه الله ځخه روایت دی وايي: اخلاص دا دی، چې الله تعالی ته د همېشنۍ توجه او نظر له امله خلکو ته ځان ښوونه- نه کوي. د حذیفه مرعشي رحمه الله ځخه یې نقل کړی وايي چې د بنده افعال په ظاهر او باطن کې سره برابر وي دا اخلاص دی.

بل ځای الله جل جلاله فرمایي: وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ [الاعراف ۲۹] .

ژباړه: او د الله عبادت کوئ په داسې حال کي چې یوازې دالله لپاره تاسو (له ریا ، عجب او هر نقصان څخه) د دین خالص کوونکي یاست ، لکه په کوم شان چې الله پیدا کړي یاست په دغه شان به بیا الله تعالی ته ور ګرځئ.

حضرت عمر رضی الله عنه روایت کوي:

قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ». (متفق علیه)

ژباړه: له رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه مې واورېدل چې ویل یې: د عملونو اعتبار (ثواب) په نیت سره دی دهرچا نیت (معتبر) دی، که یو چا د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم لپاره هجرت وکړ، نو هجرت یې د الله او رسول علیه السلام لپاره ګڼل کیږي او که د دنیا حاصلولو او یا له ښځي سره د نکاح کولو لپاره یې هجرت وکړ، نو هجرت یې د همدې شیانو لپاره دی، معنی دا چې صحیح نیت نفع رسوي او فاسد نیت فساد راولي، نو څوک دې په دې نه تیر وځي چې ظاهر یې ښایسته وي، باطن یې بد رنګه وي، الله پاک ته زړونه معتبر دي (فیض الباري).

حضرت موسی اشعري رضی الله عنه روایت کوي: قَالَ أَعْرَابِيٌّ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُذْكَرَ وَيُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ

مَنْ فِي سَبِيلِ الله ؟ فَقَالَ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ الله هِيَ الْعُلْيَا فَهُـوَ فِي سَـبِيلِ الله. (صحيح البخاري برقم٢٨١٠).

ژباړه: يوه اعرابي د الله رسول صلى الله عليه وسلم ته وويل: يو سړی د غنيمت لپاره جهاد كوي، بل د دې لپاره چې خلک يې (په شجاعت او زړورتوب) وستايي او بل د رياء لپاره (چې خلګ و وايي چې ده په فلانۍ غزوه كې شركت كړی و) په دوی كې كوم يو د الله د لارې مجاهد دی ؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل، چې له دوی څخه يوازې هغه فی سبيل الله مجاهد دی چی د الله جل جلاله د كلمې د لوړوالي لپاره جهاد كوي

علماء كرام وايي، كه يو څوک په جهاد كې د الله تعالى د كلمې د لوړوالي نيت ونه كړي، بلكې د نورو اهدافو لپاره يې كوي، نو بيا د هغه عمل ته جهاد نه بلكې جګړه ويل كيږي، چې بيا د هغو انعاماتو مستحق نه ګرځي، چې الله تعالى يې له مجاهدينو سره وعده كړې ده:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ * تُؤْمِنُـونَ بِالله وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ الله بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُـمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ * يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِـنْ تَحْتِهَـا الْأَنْهَـارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾ [الصف ١٠ - ١٢] .

ژباړه: اې هغو كسانو چې تاسو ايمان راوړی (اې مومنانو)، ايا تاسو ته در وښيم داسې تجارت، چې له دردناک عذاب څخه مو ساتي، (دغه تجارت كوئ،

هغه داده چې) ایمان راوړئ په الله تعالی او د هغه په رسول او جهاد کوئ تاسي (اې مومنانو) په لاره د الله تعالی کې، په خپلو مالونو او نفسونو سره، (په الله تعالی او د هغه په رسول ایمان راوړل او د الله تعالی په لاره کې په مال او نفس جهاد کول) خیر دی تاسو لره، که چیرته تاسو پوهیږئ، نو بخښنه به درته وکړي (الله تعالی) د ګناهونو او هغو جنتونو ته به مو داخل کړي، چې (له ماڼیو او ونو) لاندې ورڅخه (د پاکو شرابو، شاتو، شیدو، او خوږو اوبو) ویالې بهیږي او (داخل به مو کړي) په ښائسته او پاکیزه ځایونو (ماڼیو) کې چې د همیشه او سېدلو په جنتونو کې (جوړ شوي) دغه لویه کامیابي ده.

دلته الله تعالی دغه نعمتونه د هغه چا لپاره ټاکلي، چې د الله تعالی په لاره کې جهاد کوي او نبی علیه السلام وایي: د الله تعالی په لاره کې جهاد هغه دی، چې د الله تعالی د کلمې د لوړوالي لپاره وشي، فتح الباري د ابو موسی اشعری رضی الله عنه د حدیث په اړه وایي، چې دلته نبی علیه السلام له بلاغت او ایجاز څخه ډک ځواب ورکړ، ځکه که یې په ځواب کې داسې ورته ویلي وای: چې کوم شیان تا یاد کړل، دا د الله تعالی په لاره کې نه دي، نو دا احتمال یې و، چې له دغو پرته نور ټول د الله تعالی په لاره کې دي او داسې خو نه ده، نو یو جامع لفظ یې ذکر کړ، یعنی که د الله تعالی د کلمې د لوړوالي لپاره و، هغه د الله تعالی په لاره کې جهاد دی او که نه، نو ر چې د هر څه لپاره وي هغه د الله تعالی په لاره کې جهاد نه دی، ابن حجر رحمه الله وایي، چې د اعلاء کلمة الله طلب، د الله تعالی د رضاء، د الله تعالی د ثواب او د الله

تعالی دد ښمنانو د له منځه وړلو په طلب مشتمل دی ، ځکه دا ټول ځیزونه سره متلازم دي.

د الله تعالی د کلمې له لوړوالي څخه مطلب څه دی؟ تفسیر ابن کثیر د دغه آیت: وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ. په تفسير کي وايي: قال ابن عباس: « كلمة الذين كفروا» الشرك و « كلمة الله» هي: لا إله إلا الله .

ژباړه: (الله تعالی) د هغو کسانو کلمه، چې کفر یې کړی دی(کافران دي) ښکته کړې او د الله تعالی کلمه لوړه ده، الله تعالی غالب او د حکمت خاوند دی، ابن عباس رضی الله عنه وایي، چې د کفر د کلمې څخه مطلب شرک او د الله تعالی له کلمې څخه مطلب لا إله إلا الله دی، په تفسير طبري کې کلمة الله د الله تعالی له دین، د الله تعالی له توحید او له لا إله إلا الله څخه عبارت ده.

د الله تعالی د کلمې لوړوالی د شریعت تر تحکیم او نفاذ پوري تړلی دی او د شریعت نفاذ د اسلامي حکومت (خلافت او امارت) تر قائمېدو پورې مربوط دی، ځکه کله چې اسلامي حکومت قائم شي، نو شریعت به نافذ شي او چې شریعت نافذ شو، همدا د الله تعالی د کلمې لوړوالی دی، نو مجاهد چې خاوره له اشغال څخه خلاصوي هم همدا به یې نیت وي، چې تر څو شرعي نظام پرې راولي او د جهاد هدف همدا دی، چې د الله تعالی په ټوله خاوره د الله تعالی کلمه لوړه شي.

کله چې د يو چا نيت د الله تعالی د کلمې لوړوالی نه وي، يعنی باعث اصلي يې همدا نه وي، نو که د جهاد په لاره کې مرګ ورته ورسيږي، هغه حقيقي شهيد نه بلل کيږي او د هغې مرتبې او نعمتونو څخه نه برخمن کيږي، چې شهيد ته ورکړل شوي دي، الله تعالی د شهيدانو په اړه فرمايي: وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ* فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ*يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ* [آل عمران: ۱۶۹-۱۷۱]

ژباړه: په هغو کسانو د مړو ګمان مه کوئ چې د الله تعالی په لاره کې وژل شوي، هغوی ژوندي دي، د رب په نزد ورته (د جنت له خوراکونو او څښاکونو څخه) رزق ورکول کيږي دوی په هغه څه باندې خوشحاله دي چې د الله تعالی له لوري له خپل فضل څخه ورکړل شوي، دوی په هغو کسانو (په ورتللو) خوشحاليږي چې لا په دوی پورې تر دوی وروسته نه دي پيوسته شوي، په دې ډول چې هيڅ ويره په دوی نشته او نه به هم دوی غمجن کيږي، دوی خوشحاليږي په نعمت د الله تعالی او د الله تعالی په فضل سره او بې شکه الله تعالی د مومنانو اجر نه ضائع کوي.

شهادت هغه مرتبه ده، چې نبی عليه السلام يې درې ځله غوښتنه کړې ده والذی نفس محمد بيده لوددت أنی أغزو فی سبيل الله فأقتل ثم أغزو فأقتل ثم أغزو فأقتل، يعنی: نبی عليه السلام وايي، چې زما دې په هغه ذات قسم وي، چې د محمد (صلی الله عليه وسلم) نفس د هغه په "يد" کې دی، زه دا خوښوم، چې د الله

تعالی په لاره کې جګړه وکړم او شهید شم، یا جګړه وکړم او شهید شم، یا جګړه وکړم او شهید شم، همداسې نورډېر آیتونه او احادیث د شهید د مرتبې دلوړوالي په اړه راغلي دي، خود غه کس چې نیت یې په جهاد کې سم نه وي او یا په دغه لاره کې ووژل شي، د شهید له مرتبې څخه محروم دی او د الله تعالی په نزد شهید نه دی.

دچا چې نیت په جهاد کې د الله تعالی لپاره نه وي، اجر خو نه ورکول کیږي، بلکې د عذاب مستحق ګرځي، لکه د حضرت ابو هریره رضی الله عنه په روایت کې چې راځي، سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ، قَالَ: كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ: جَرِيءٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ. (رواه مسلم).

ژباړه: حضرت ابو هریره رضی الله عنه وایي، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل، چې ویل یې: د قیامت په ورځ اول کس چې په اړه به یې فیصله کیږي هغه سړی دی، چې شهید شوی وي، نو را به وستل شي، الله تعالی به ده ته هغه نعمتونه وریاد کړي، چې په دنیا کې یې ورکړي وو، دی به هم هغه ټول ومني، بیا به الله تعالی ورته ووایي: تا زما له درکړل شویو نعمتونو څخه څه ډول کار واخیست؟ هغه به وایي: ما ستا په لاره کې جهاد وکړ، تر څو شهید شوم، الله تعالی به ورته ووایي، چې درواغ دې وویل، تا ددې لپاره جهاد کاوه، چې خلک درته دلاوره ووایي او هغه درته وویل شول، بیا به دغه سړی د الله تعالی په امر پړمخې کش کړای شي او دوزخ ته به ورواچول شي.

حضرت سهل ابن سعد رضی الله عنه روایت کوي:

قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِنْ عَمَلِهِ، وَعَمَلُ الْمُنَافِقِ خَيْرٌ مِنْ نِيَّتِهِ، وَكُلٌّ يَعْمَلُ عَلَى نِيَّتِهِ، فَإِذَا عَمِلَ الْمُؤْمِنُ عَمَلًا نَارَ فِي قَلْبِهِ نُورٌ" (طبراني فی الکبیر: رقم۵۹٤۲).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي، چې د مسلمان نیت د هغه تر عمل غوره دی او د منافق عمل د هغه تر نیت غوره دی، هر یو له دوی څخه د خپل نیت مطابق عمل کوي، کله چې مسلمان کوم عمل وکړي نو په زړه کې یې نور وځلیږي.

د نیت ګټې:

لومړی: په نیت سره عمل لوییږي او ډیریږي.

ابو سعید خدري او ابو هریرة رضی الله عنهما روایت کوي چې: قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا أَدْرَكَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ "(بخاري:رقم۳۶۷۳)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي، چې زما اصحابو ته ښکنځل مه کوئ، زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح د ده په واک کې دی، که

له تاسو څخه يو څوک د أحد د غره هومره مال صدقه وکړي بيا به هم د دوی يو ې او يا نيمي پيمانې (مُد) ته ونه رسيږي، مراد يې دادی چې لږ صدقه د دوی د اخلاص او صحي نيت په وجه دومره غټه ده چې تاسو د احد د غره په اندازه صدقه وکړئ بيا هم د دوی د ثواب اندازې ته نه رسيږي.

قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ: لَا يَقِلُّ عَمَلٌ مَعَ تَقْوَى وَكَيْفَ يَقِلُّ مَا يُتَقَبَّلُ؟ (رواه ابن ابي الدنيا في الاخلاص برقم ٦) .

ژباړه: حضرت علي كرم الله وجهه فرمايي: هغه عمل چې تقوا ورسره وي كه هر څومره كم وي، بيا هم لږ نه دی او منل شوی عمل به څرنګه لږ وي.

وقال الغزالي في احياء العلوم فقد ورد عن بعض السلف رب عمل صغير تعظمه النية ورب عمل كبير تصغره النية. (ج٤ص٣٦٤).

ژباړه: امام غزالي په احياء العلوم کې وايي: په سلف صالحينو کې له ځينو روايت دی، چې ډېر وخت يو وړوکی عمل وي، خو د ښه نيت په وجه ډير لوی شي، همدا رنګه يو ډير لوی عمل وي خو د نيت د خرابي په وجه وړوکی عمل ترې جوړ شي.

خلاصه دا چې پر هر مؤمن مسلمان لازمه ده چې د نيت اصلاح به کوي – په تېره بيا مجاهدته – ځکه چې لږ عمل وکړي په صحيح نيت سره الله سبحانه به يې عمل ورغټ کړي.

دوم: د ښه نيت په وجه دعا او عمل قبليږي.

اخرج ابن ابي الدنيا في الاخلاص برقم(٨) قال حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْحُسَيْنِ، حَدَّثَنِي عَمَّارُ بْنُ عُثْمَانَ الْحَلَبِيُّ، حَدَّثَنَا سِرَارٌ الْعَنَزِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الْوَاحِدِ بْنَ زَيْدٍ، يَقُولُ: الْإِجَابَةُ مَقْرُونَةٌ بِالْإِخْلَاصِ لَا فُرْقَةَ بَيْنَهُمَا.

ژباړه: سرار العنزي وايي چې ما له عبدالواحد بن زيد نه واورېدل چې ويل يې اجابت له اخلاص سره داسې تړلى دى چې تر منځ يې هيڅ بيلتون نشته.

تنبيه: دا چې زموږ دعاوې نه قبليږي ځکه چې اخلاص ورسره نه وي، اخلاص او دعا قبلېدل سره تړلي دي.

دريم: الله تعالى د بندګانو زړونه د مخلص مؤمن په خوا اړوي.

اخرج ابن ابي الدنيا في الاخلاص برقم (١٢) قال حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَمْرٍو الضَّبِّيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو شِهَابٍ عَنْ لَيْثٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ وَاسِعٍ قَالَ: إِذَا أَقْبَلَ الْعَبْدُ إِلَى اللهِ أَقْبَلَ اللهُ بِقُلُوبِ الْعِبَادِ إِلَيْهِ .

ژباړه: محمد بن واسع وايي: کله چې بنده الله ته مخ کړي الله تعالى د نورو بندګانو زړونه ده ته مخ کوي. معنى دا چې کله مسلمان بنده د الله سبحانه عبادت جهاد وي که بل عبادت، په اخلاص او صحيح نيت کوي الله جَلَّ جَلَالُهُ دغه بنده د مسلمانانو په زړو کې محبوب ګرځوي.

څلورم: په نيت سره د مېزان په تله کې عمل درنيږي.

اخرج ابن ابي الدنيا في الاخلاص برقم(٢٣) قال حَدَّثَنَا أَبُو مُحَمَّدٍ الْقَاسِمُ بْنُ هَاشِمٍ السِّمْسَارُ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ قُتَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ

عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ: مَنْ كَانَ ظَاهِرُهُ أَرْجَحَ مِنْ بَاطِنِهِ خَفَّ مِيزَانُهُ يَـوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ كَانَ بَاطِنُهُ أَرْجَحَ مِنْ ظَاهِرِهِ ثَقُلَ مِيزَانُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

ژباړه: حضرت علي كرم الله وجهه وايي: د چا چې ظاهر تر باطن ښكلى وي د قيامت په ورځ به يې عمل سپک خيژي او د چا چې باطن تر ظاهر ښكلى وي نو د هغه عمل به د قيامت په ورځ په تله كې دروند خيژي.

تنبيه: دقيامت په ورځ دنېک عمل سپكوالى اودرندوالى له نيت سره تړلى دى.

پنځم: د الله تعالى مرسته د نيت او اخلاص په اندازه وي.

قَالَ أَبُو الْعَبَّاسِ عَبْدُ الله بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ الله عَنْهُمَا إِنَّمَا يُعْطَى الرَّجُلُ عَلَى قَدْرِ نِيَّتِهِ، (شرح المهذب ج ١ص١٧)

ژباړه: حضرت عبد الله ابن عباس رضى الله عنه وايي: هرچا ته د الله وركړه د هغه د نيت په اندازه وي.

وكتب سالم بن عبد الله إلى عمر بن عبد العزيز اعلم أن عـون الله تعـالى للعبد على قدر النية فمن تمت نيته تـم عـون الله له وإن نقصـت نقـص بقـدره. (احياء العلوم ج٤ص٣٤٦).

ژباړه: سالم بن عبد الله د اسلام خليفه عمر بن عبد العزيز ته وليكل: پوه شه چې له بنده سره د الله تعالى مرسته د بنده د نيت په اندازه وي، د چا چې نيت بشپړ وي د الله تعالى مرسته به هم ورسره بشپړه وي او كه د چا نيت ناقص او كم وي نو د الله تعالى مرسته به هم ورسره كمه وي.

تنبيه: بايد هر مجاهد په تېره بيا اميران د خپلو نيتونو مکمله اصلاح وکړي، ځکه د الله جَلَّجَلَالُهُ امداد په نيت پورې تړلى دى.

شپږم: په سم نيت باندې د هغه عمل ثواب هم تر لاسه کيږي چې ترسره شوى نه وي.

حضرت انس رضى الله عنه وايي: رَجَعْنَا مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ مَعَ النَّبِيِّ صلي الله عليه وسلم، فقال: « إِنَّ أَقْواماً خَلْفَنَا بالْمَدِينَةِ مَا سَلَكْنَا شِعْباً وَلاَ وَادياً ، إلاّ وَهُمْ مَعَنَا ؛ حَبَسَهُمُ العُذْرُ». (رواهُ البخاريُّ رقم: ٢٨٣٨)

ژباړه: موږ له رسول الله عليه السلام سره د تبوک له غزا راستانه شوو، نو رسول الله عليه السلام وفرمايل: بېشکه په مدينه کې داسې خلک زموږ ترشا پاته دي چې موږ به په هيڅ خوړاو کنده نه يو تير شوي مګر دوى راسره په اجر کې شريک دي، هغه کسان چې په غزا کې د شرکت نيت يې وو خو عذر پاته کړل.

تنبيه: له هر مؤمن مسلمان سره بايد هر وخت د جهاد عزم وي که څه هم معذور وي الله سبحانه به د مجاهد ثواب ورکړي.

اووم: په نيت سره مسلمان له منافق څخه بېليږي.

حضرت ابو هريرة رضى الله عنه روايت کوي: قَالَ: «مَنْ مَاتَ وَلَـمْ يَغْـزُ، وَلَـمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالْغَزْوِ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ».(رواه ابوداود:رقم ٢٥٠٢).

ژباړه: څوک چې مړ شي او غزا ونکړي او له ځانه سره يې د غزا کولو نيت هم نه وي کړى، نو هغه د منافقت په يوه ډول مړ سو.

تنبیه: پر هر مؤمن لازمه ده چې په یو قسم د جهاد کې به شرکت کوي او یا به یې زړه کې د جهاد صحیح عزم وي، نو به یې الله تعالی د نفاق له مرګه وساتي.

اتم: نیت داسې علاج دی چې عادت په عبادت بدلوي او بد رنګه ښایسته کوي، نو هوښیار سړی یوازې د الله لپاره عبادت کوي.

له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روایت دی: أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ الله إِلَّا أُجِرْتَ عَلَيْهَا، حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فَمِ امْرَأَتِك». (رواه البخاري، برقم:٥٦)

ژباړه: تا چې د الله لپاره هر څه صدقه او نفقه کړي الله یې ثواب درکوي، تر دې چې د خپلې میرمنې په خوله کې ګوله (مړی) ږدې.

قال في المرقاة وَالْمَعْنَى أَنَّ الْمُنْفِقَ لِابْتِغَاءِ رِضَاهُ تَعَالَى يُؤْجَرُ وَ إِنْ كَانَ مَحَلُّ الْإِنْفَاقِ مَحَلَّ الشَّهْوَةِ وَحَظَّ النَّفْسِ، لِأَنَّ الْأَعْمَالَ بِالنِّيَّاتِ وَنِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِنْ عَمَلِهِ.

د دغه حدیث شریف په شرح کې د مرقات مؤلف لیکي، چې د الله لپاره صدقه ورکونکي ته ثواب شته که څه هم هغه ځای د شهوت او نفسي خواهش وي (لکه خپلې مېرمنې ته په خوله کې ډوډۍ ورکول) ځکه د عملونو ثواب په نیت سره دی او د مؤمن نیت تر عمل غوره دی.

نهم: په نیت سره سړی د خلکو له شره خلاصیږي.

قال الامام الغزالي في الاحياء وكتب عمر بن الخطاب رضي الله تعالى عنه إلى أبي موسى الأشعري من خلصت نيته كفاه الله تعالى ما بينه وبين الناس. (ج۴ص۳۷۸) امام غزالي په احياء العلوم كې ليكي، چې عمر ابن الخطاب موسى اشعرى رضي الله عنهما ته وليكل: د چا نيت چې يوازې د الله رضاوي الله به يې له خلكو وژغوري.

تنبيه: كه مؤمن وغواړي چې د خلكو د ضرر څخه وژغورل سي په خپل عمل كې دې صحيح نيت كوي الله تعالى به يې د خلكو د ضرر څخه وساتي.

لسم: د ناسم نيت په وجه به سړي ته په طاعت هم عذاب وركول كيږي.

له حضرت ابو هريرة رضى الله عنه څخه وپوښتل شول، چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دې كوم حديث اورېدلى دى هغه را ته ووايه!

ابو هريره رضي الله عنه وفرمايل:

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ، قَالَ: كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ: جَرِيءٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ، وَ رَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ، قَالَ: كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ: عَالِمٌ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ: هُوَ قَارِئٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ

عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ، وَ رَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ: مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ، قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ: هُوَ جَوَادٌ، فَقَدْ قِيلَ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ، ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ. (رواه مسلم، رقم:۱۹۰۵)

ژباړه: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي، چې ویل یې: د قیامت په ورځ به لومړی فیصله د درېیو له خلکو په باره کې وي: یو د شهید په باره کې، چې هغه به راوغوښتل شي او الله جل جلاله به ده ته هغه نعمتونه وریاد کړي چې په دنیا کې یې ورکړي ول، دی به هم ټول ومني، بیا به الله تعالی ورته ووایي: چې تا زما له درکړو دغو نعمتونو څنګه کار واخیست؟ هغه به ووایي: چې ما ستا په لاره کې جهاد کاوه ترهغو چې شهید شوم. الله به ورته ووایي: چې دروغ وایې! تا د دې لپاره جهاد کاوه چې خلک درته زړور ووایي، هغه درته وویل شول، دغه سړی به د الله په امر پړمخې کش کړل شي او دوزخ ته به وغورځول شي.

بله فیصله به د هغه عالم په باره کې وي، چې پخپله یې علم کړی وي، قرآن یې زده کړی وي او نورو ته یې هم علم ورښوولی وي، ده ته به هم لکه د شهید غوندې الله تعالی په دنیا کې ورکړي ټول نعمتونه وریاد کړي او هغه به هم ټول ومني، بیا به الله جل جلاله ورته ووایي، چې تا زما له دې نعمتو سره څه معامله وکړه؟ هغه به ووایي، چې ما پخپله هم علم زده کړ او نورو ته مې هم ورساوه او ستا لپاره به مې قرآن لوست. الله تعالی به ورته ووایي، چې دروغ وایې! تا علم د دې لپاره زده کاوه چې خلک

درته عالم ووایي او قرآن دې د دې لپاره وایه چې خلک دې قاري وبولي، هغه درته وویل شول، بیا به دی هم د الله پاک په امر پړ مخې اورته وغورځول شي.

بله فیصله به د هغه شتمن په باره کې وي چې الله جل جلاله په دنیا کې پراخ رزق او ډول ډول مالونه ورکړي وي، ده ته به هم الله تعالی د ورکړل شوو ګڼو نعمتونو یادونه وکړي او هغه به اقرار وکړي چې بالکل دا ټول ما ته په دنیا کې راکړل شوي وو، بیا به الله تعالی پوښتنه ترې وکړي چې په څه کې دې ولګول؟ هغه به ووایي چې ما هیڅ داسې ځای چې په هغه کې صدقه کول تا ته خوښ وو نه دی پرې ایښی، بلکې ستا لپاره مې پکې ستا راکړی مال صدقه کړی دی. الله به ورته ووایي، چې دروا غ وایې! تا د دې لپاره مال ورکاوه چې خلک درته سخي او جواد ووایي او هغه درته وویل شول، بیا به دی هم په پړمخې کشولو سره اورته وغورځول شي.

(تتمه)

حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه روایت کوي:

قَلت: يَا رَسُولَ اللهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْجِهَادِ وَالْغَزْوِ؟ فَقَالَ: «يَا عَبْدَ الله بْنَ عَمْرٍو، إِنْ قَاتَلْتَ صَابِرًا مُحْتَسِبًا، بَعَثَكَ الله صَابِرًا مُحْتَسِبًا وَإِنْ قَاتَلْتَ مُرَائِيًا مُكَاثِرًا بَعَثَكَ الله مُرَائِيًا مُكَاثِرًا، يَا عَبْدَ الله بْنَ عَمْرٍو! عَلَى أَيِّ حَالٍ قَاتَلْتَ أَوْ قُتِلْتَ بَعَثَكَ الله عَلَى تِلْكَ الْحَالِ». (رواه ابو داؤد، رقم: ۲۵۱۹)

ژباړه: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې د جهاد او غزا په هکله وپوښتل، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: اې عبد الله! که چېرې دې په صبر او له الله څخه د اجر ترلاسه کولو په نیت جهاد وکړ الله به دې صابر او محتسب را پاڅوي او که چیرې دې د غنیمت ترلاسه کولو او ریاء لپاره جهاد وکړ الله به دې ریاء کار او غنیمت پرست راپاڅوي، اې عبد الله! په هر حال کې چې دې جهاد وکړ او په هر نیت کې چې ووژل شوې هماغسې به راپاڅول کیږې.

حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت کوي:

أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا أَجْرَ لَهُ». فَأَعْظَمَ ذَلِكَ النَّاسُ وَقَالُوا لِلرَّجُلِ: عُدْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَعَلَّكَ لَمْ تُفَهِّمْهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا؟ فَقَالَ: «لَا أَجْرَ لَهُ». فَقَالُوا: لِلرَّجُلِ عُدْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ: الثَّالِثَةَ. فَقَالَ لَهُ: «لَا أَجْرَ لَهُ». (رواه ابوداود، رقم: ۲۵۱٦)

ژباړه: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چا پوښتنه وکړه چې یو سړی جهاد کوي خو غرض یې د نیوي غوښتنې ته د ځان رسول وي؟ رسول الله علیه الصلاة و السلام ورته وفرمایل، چې هیڅ اجر او ثواب یې نشته. په خلکو د غه خبره درنه تمامه شوه او سړي ته یې وویل: ورشه بیا پوښتنه ترې وکړه، ښایي ته به نه یې پوه شوی. هغه بیا پوښتنه وکړه، چې اې د الله رسوله! یو سړی د الله تعالی په لاره کې جهاد کوي، خو مقصد یې د دنیا یو څه لاسته راوړل وي؟ رسول الله صلی الله

علیه و سلم بیا ورته وویل، چې هیڅ اجر او ثواب یې نشته. خلکو بیا سړي ته وویل چې ته ورشه سمه پوښتنه ترې وکړه ښایي ته به سم نه یې پوه شوی. هغه دریم وار بیا پوښتنه ترې وکړه، مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم همدا ورته وفرمایل، چې هیڅ اجر او ثواب یې نشته.

حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه روایت کوي:

قال رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْغَزْوُ غَزْوَانِ؛ فَأَمَّا مَنْ ابْتَغَى وَجْهَ اللّٰه وَأَطَاعَ الْإِمَامَ وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ وَاجْتَنَبَ الْفَسَادَ، فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنُبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَسُمْعَةً وَعَصَى الْإِمَامَ وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ. (رواه ابوداود، رقم: ۲۵۱۵).

ژباړه: رسول الله علیه وسلم وفرمایل، چې غزاګانې دوه ډوله دي؛ هغه چې د الله د رضا لپاره وي، د امیر اطاعت پکې وشي، غوره مال پکې ولګول شي، له ملګرو سره پکې آساني او ښه ګوزاره وشي، له فساده پکې ځان وساتل شي، نو ویښه او خوب دواړه یې اجر او ثواب دی او ځوک چې د فخر او ریاء لپاره غزا کوي، د امیر اطاعت نه کوي، په ځمکه کې فساد جوړوي، د هغه هیڅ ثواب نشته.

د نیت د اخلاص په باره کې د سلفو اقوال:

د اخلاص النیة د حقیقت په باره کې سلفو صالحینو ویلي دي: هو تصفیة الفعل عن ملاحظة المخلوقین. یعني د نیت اخلاص دې ته وایي، چې د عبادت

فعل د مخلوق له ملاحظې تصفیه شي. بله معنی یې داسې کړې: هو افراد الحق سبحانه بالقصد فی الطاعة. یعني اخلاص دې ته وایي چې په عبادت کې یوازې د الله تعالی قصد وکړی شي او بس.

د اخلاص النیة په باره کې حسن بصري صاحب وایي: النیة أبلغ من العمل. یعنی نیت له عمل څخه مهم دی.

فضیل بن عیاض رحمه الله وایي: ترک العمل من أجل الناس ریاء و العمل من أجل الناس شرک والاخلاص أن یعافیک الله منهما. یعني د خلکو لپاره نیک عمل یا عبادت پریښودل ریاء ده او د خلکو لپاره ترسره کول یې شرک (خفي) دی، اخلاص دا دی چې الله تعالی دې له دې دواړو وساتي.

له حضرت سهل نه وپوښتل شول په نفس باندې کوم شی تر ټولو سخت او درووند دی؟ ده ځواب ورکړ: اخلاص پر نفس تر ټولو سخت دی، ځکه اخلاص خاص د الله لپاره عمل کولو ته وایي او په دې کې نفس ته هیڅ شی نه رسیږي.

یحی بن أبي کثیر رحمه الله وایي: تعلموا النیة فانها أبلغ من العمل. نیت زده کړئ ځکه نیت له عمل نه ډېر مهم دی.

ابراهیم التیمي رحمه الله د خپل وخت لوی ولی الله و، کله به یې په خبرو کې ځنډ وکړ او خاموش به شو، چا به چې ترې وپوښتل، ولې خبرې نه کوې؟

ویل به یې: ته صبر وکړه نیت مې نه دی برابر کړی.

ميمون بن مهران رحمه الله وايي: ان اعمالكم قليلة فأخلصوا هذا القليل. يعنى ستاسو اعمال لږ دي، نو دا لږ اعمال په اخلاص ترسره کړئ.

عبد الرحمن بن حکم رحمه الله وايي: چې ما به سفيان ثوري صاحب ليدلو، چې د خپل وخت د لوی بزرګ عمرو بن قيس صاحب مجلس ته به راتلو او د هغه مخ ته به يې تر ډېره کتل، زما په فکر هغه په دې کتلو کې هم د ثواب نيت کاوه.

حضرت مکحول فرمايي: څوک چې تر څلويښتو ورځو پورې په عباداتو کې نيت اصلاح وساتي الله تعالی به يې له زړه څخه د حکمت چينې راپورته کړي او د ده په ژبه به يې جاري کړي.

تقوی او اهمیت یې

تقوی هم د مجاهد او بلکې د هر انسان لپاره په اسلامي ژوند کې ضروري شی دی چې الله تعالی یې په اړه فرمایي: فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (١٦) التغابن

ژباړه: نو له الله څخه دومره ووېرېږئ څومره موچې په توان کې وي، واورئ (خبرې د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او اطاعت وکړئ (د حکمونو د الله جَلَّ جَلَالُهُ) او صدقه کوئ، دا خیر دی ستاسو لپاره، هغه څوک چې د خپل نفس له بخیلۍ څخه وساتل شول، هغوی بریالي دي.

رښتیني تقوی له الله او د الله تعالی له عذاب څخه وېره، د هغه د اوامرو پرځای کولو او له نواهیو څخه په ډډه کولو سره د ځان ساتنې ته ویل کېږي، تقوی سراسر خیر دی او په ځان کې تقوی پیدا کول وړاندنیو او وروستنیو ټولو خلکو ته د الله جل جلاله توصیه ده.

قال القرطبي: وَقَدْ جَاءَ مَنْصُوصًا عَنْهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَكُونَ أَكْرَمَ النَّاسِ فَلْيَتَّقِ اللَّهَ». وَالتَّقْوَى معناها مُرَاعَاةُ حُدُودِ اللَّهِ تَعَالَى أَمْرًا وَنَهْيًا وَالِاتِّصَافُ بِمَا أَمَرَكَ أَنْ تَتَّصِفَ بِهِ وَالتَّنَزُّهُ عَمَّا نَهَاكَ عَنْهُ. (تفسير قرطبي ج١٦ص٣٤٦)

لوی مفسر قرطبي رحمه الله وایي: په تحقیق سره له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوي دي: که څوک غواړي چې عزتمن د خلکو وي نو تقوی دې خپله کړي، د تقوی معنا د الله تعالی د حدودو د اسې مراعاتول دي چې په کوم شي یې امر کړی وي هغه وکړل شي، له کوم شي څخه چې یې منع کړي وي له هغو څخه ځان وساتل شي، په ځان کې هغه صفتونه پیدا کړل شي، چې الله یې د پیدا کولو امر کوي او هغه له ځانه لرې کړل شي چې الله موږ ترې منع کړي یو.

مایصنع العبد بعزالغنی .... والعزکل العز للمتقی

ژباړه: بنده به د غنا په عزت څه وکړي، عزت خو په ټوله کې د پرهیزګاري دی، معنی دا چې په غنا او د مال په ډېروالي کې عزت نشته ټول عزت په تقوی کې دی.

ابوبکر صدیق رضي الله عنه به د خپل خلافت پر مهال هر استازي ته توصیه کوله چې: اتق الله في السر والعلن فانه من یتق الله یجعل له مخرجا ویرزقه من حیث لا یحتسب.

ژباړه: له الله تعالی څخه په پټه او ښکاره وېره کوه، ځکه څوک چې له الله جل جلاله څخه وېرېږي الله ورته له مشکلاتو د خلاصون لاره پیدا کوي او له داسې لوري روزي ورکوي چې د ده به په ګومان کې هم نه وي.

د تقوی ګټې:

د تقوی له ګټو څخه داده چې په پرهېزګار سړي باندې د ښمن غلبه نه شي موندلای، شمس الدین السفیري د صحیح البخاري په شرح کې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په احوال کې لیکلي: أنه خرج في بعض أسفاره، فبينما هو يسير إذ هو بقوم وقوف، فقال: ما لهؤلاء القوم؟ قالوا: أسد على الطريق قد أخافهم، فنزل عن دابته ثم مشى إليه حتى أخذ بأذنه، ونحاه عن الطريق، ثم قال له: ما كذب عليك رسول الله صلى الله عليه وسلم بقوله: " إنما سلطت على ابن آدم لمخافته غير الله، ولو أن ابن آدم لم يخف إلا الله تعالى لم تسلط عليه ولو لم يرج إلا الله تبارك وتعالى لما وكله إلى غيره". (ج/١ص٤٤١)

ژباړه: عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما په یوه سفر ووت، یوه ډله خلک یې ولیدل چې ولاړ دي پرمخ نشي تلای، پوښتنه یې وکړه چې دې خلکو ته څه وړپېښه ده یعني ولې ولاړ دي؟ دوی ورته وویل: په لاره کې زمری دی، وېرولي یې دي.

هغه له خپلې سورلۍ ښکته شو، زمري ته ورغی هغه یې تر غوږ ونیو له لارې څخه یې ګوښه کړاو بیا یې زمري ته وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم ستا په هکله دروا غ نه دي ویلي چې ته له دې سببه په بندګانو مسلط شوی یې چې دوی له الله تعالی پرته له بل چا هم وېرېږي، که بنی آدم له الله تعالی پرته له بل چا ونه وېرېږي، نو تا به هم الله تعالی پرې مسلط نکړي او که له الله جل جلاله پرته بل چا ته امید ونلري نو الله تعالی به یې بل چا ته ونه سپاري.

د تقوی له ګټو څخه د اسلامي امت اتحاد دی. الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي: فاتقوا الله وأصلحوا ذات بينكم وأطيعوا الله ورسوله إن كنتم مؤمنين . [الانفال: ۱]

ژباړه: د الله تعالی څخه وېرېږئ د خپل ما بين اصلاح وکړئ او د الله جَلَّجَلَالُهُ او دهغه د رسول صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ اطاعت وکړئ، که چېرې تاسو مؤمنان یاست.

په تفسير منير کې ليکي: صلاح الجماعة وقوة الأمة وعزتها مرهون بأمور ثلاثة: تقوى الله في السر والعلن وإصلاح ذات البين، وطاعة الله والرسول، يعنی د اسلامي جماعت صلاح ،دامت قوت او عزت په درو امورو پوري تړلي دي؛ په پټه او ښکاره تقوی، د خپل ما بين اصلاح او د الله جَلَّجَلَالُهُ او د رسول صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ طاعت.

ابن ابي الدنيا له مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ څخه روايت کوي قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «رَأْسُ التَّقْوَى الصَّبْرُ وَحَقِيقَتُهُ الْعَمَلُ وَتَكْمِلَتُهُ الْوَرَعُ». (رقم۱۲).

ژباړه: رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ فرمايلي: چې د تقوی راز صبر دی او حقيقت يې عمل دی او پوره کونکې يې پرهيزګاري ده.

قال ابو بكرالصديق رضي الله عنه في خطبته اعلموا أكيس الكيس التقوى واحمق الحمق الفجور. (البريقة ج۲ ص ۲۱) حضرت ابوبکر رضي الله عنه په خپله خطبه کې ويلي دي: پوه سئ! ډېر هوښيارتوب تقوی او ډېر حماقت فجور دی.

قال علي بن أبي طالب رضي الله عنه: التقوى هي الخوف من الجليل والعمل بالتنزيل والقناعة بالقليل والإستعداد ليوم الرحيل.

ژباړه: حضرت على رضى الله عنه د تقوى د معنى په اړه فرمايي: له الله تعالى څخه وېره، په قران كريم عمل، په كم مال قناعت او له دنيا د رحلت ورځې ته تياري نيولو ته تقوى وايي.

قال أبو الدرداء: (تمام التقوى أن يتقي اللهَ العبدُ، حتى يتقيه من مثقال ذرة وحتى يترك بعض ما يرى أنه حلال خشية أن يكون حرامًا، حجابًا بينه وبين الحرام).(رواه ابن مبارك فى الزهد) حضرت ابودرداء وايي: كامله تقوى داده چې بنده له الله تعالى څخه وويرېږي حتى د يوې ذرې په مقدار له نافرماني هم ځان وساتي او حتى بعض حلال شيان يا روا كارونه هم له دې وېرې پرېږدي چې هسې نه حرام وي، ترڅو دا ډول متروک حلال د بنده او حرامو ترمنځ حجاب واقع شي.

وأبو هريرة رضى الله عنه سئل عن التقوى، قال هل أخذت طريقا ذا شوك؟ قال نعم. قال فكيف صنعت؟قال إذا رأيت الشوك عزلت عنه أوجاوزته أوقصرت عنه.قال ذاك التقوى.

ژباړه: له ابوهريره رضى الله عنه څخه د تقوى په باره كې پوښتنه وشوه، هغه پوښتنه كوونكي ته وويل: آيا په اغزنه لاركله تللى يې؟ هغه وويل هو! ابوهريرة رضى الله عنه وويل: نو په اغزنه لار دې څه كول؟ ځواب يې وركړ: چې اغزي به مې ليدل نو ځان مې ترې ساته، يا ترې تيريدلم او يا مې جامې ترې راټولولې. ابوهريرة

رضي الله عنه وويل: همدغه تقوی ده، یعني له ګناهونو همداسې ځان ساتل لکه له اغزیو چې انسان ځان ګوري.

شاعر وايي:

خل الذنوب صغیرها وکبیرها فهو التقی= واصنع کماش فوق أر ض الشوك
یحذر ما یری= لا تحقرن صغیرة إن الجبال من الحصی

ژباړه: واړه او لوی ګناهونه پرېږده چې همدغه تقوی ده، ځان د هغه چا په شان جوړ کړه چې په اغزنه لار روان وي او چې اغزي ويني ځان ترې ساتي، واړه ګناهونه واړه او کم مه بوله ځکه غرونه له کوچنيو ډبرو جوړ شوي دي.

وقال میمون بن مهران رحمه الله: المتقي أشد محاسبة لنفسه من الشریك الشحیح لشریکه. میمون بن مهران وايي: متقي يا پرهيزګار هغه څوک دی چې له خپل ځان سره داسې سخته محاسبه کوي چې يو بخيل شريک له بل کاروباري شريک سره هم داسې سخت حساب نه کوي.

نیک اخـــلاق

له اخلاقو څخه مراد له خپل ځان، خپل رب ، خپلې کورنۍ، نورو انسانانو او حتی حیواناتو او د الله تعالی له مختلف النوع مخلوقاتو سره د انسان تعامل او چلند دی ، هر مؤمن په دې مکلف دی چې د غه چلند او تعامل یې باید په هغه معیار برابر وي چې اسلام یې ورته لارښوونه کړې او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په خپلو عظیمو اخلاقو ورته مثال وړاندې کړی دی.

الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فرمایي: وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ. [القلم: ٤]ژباړه : او بې شکه ته په لویو اخلاقو مشرف یې.

حضرت عائشة رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اخلاقو په باره کې وایي: كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآنَ. یعنی د هغه اخلاق هغه څه وچې په قرآن کې دي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن أكثر ما يدخل الناس الجنة؟ قال: تقوى الله وحسنُ الخلق وسئل عن أكثر ما يدخل الناس النار؟ فقال: الفمُ والفرجُ. (رواه الترمذي)

ژباړه: ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه، کوم شی جنت ته د خلکو د داخلیدو ډېرسبب ګرځي؟ رسول الله مبارک وویل. تقوی او نیک اخلاق. بیا پوښتنه وشوه او جهنم ته څه شی ډېر

خلک ور دا خلوي؟ رسول الله مبارک وويل: خوله او فرج، يعني د خولې او فرج له ګناهونو ډېر خلک دوزخ ته غورځوي.

عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما قال: لم يكن رسول الله صلى الله عليه وسلم فاحشاً ولا مُتفحشاً وكان يقولُ: « إن من خياركم أحسنكم أخلاقاً » (متفق عليه)

عبدالله بن عمرو بن العاص وايي، چې د الله تعالی پيغمبر نه خو طبعا فاحش و او نه په تکلف سره فحش ويونکی، هغه به ويل: په تاسو کې غوره ستاسو ښه اخلاق لرونکی دی.

عن أبي امامة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أنا زعيم ببيت في ربض الجنة لمن ترك المراء وإن كان محقًّا وببيت في وسط الجنة لمن ترك الكذب وإن كان مازحًاوببيت في أعلى الجنة لمن حسن خلقه.(رواه ابوداود والطبرانى والبيهقى)

ابي امامة رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زه د جنت په اطراف کې د هغه چا لپاره د يوه کور ضامن يم چې جنجال پرېږدي، که څه هم دی په حقه وي او د جنت په منځ کې د هغه چا لپاره د کور ضامن يم چې دروا غ پرېږدي اګر که په ټوکه وي او د جنت په تر ټولو لوړه برخه کې د هغه چا لپاره د کور ضامن يم چې خپل اخلاق نېک کړي.

عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن الرجل ليدرك بحسن خلقه درجات قائم الليل صائم النهار. (رواه أحمد والحاكم)

ژباړه: حضرت عائشه رضی الله عنها روایت کوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وويل: بې شکه يو سړی په نيکو اخلاقو د هغه چا مرتبه پيدا کولای شي چې د ورځې روژه او د شپې په عبادت ولاړ وي.

د نيکو اخلاقو په هکله د اکابرو اقوال:

عبد الله ابن عباس رضی الله عنه وايي: لكل بنيان أساس و أساس الاسلام حسن الخلق. ژباړه: دهرې ودانۍ اساس وي او د اسلام اساس نيک اخلاق دي.

عبد الله ابن مبارک رحمه الله وايي: حسن الخلق: طلاقة الوجه، وبذل المعروف، وكفُّ الأذى. ژباړه: نيک اخلاق، ورين تندی ، د نيکيو کول او له ضرر څخه لاس نيول دي.

عن أحنف بن قيس أنه قال: ألا أخبركم بأدواء الداء؟ قالوا بلى. قال: الخلق الدني واللسان البذى. احنف بن قيس وويل: آيا تر ټولو بد مرض درو ښيم؟ خلکو وويل هو! ده وويل: پست يا بد اخلاق او بدګويه ژبه تر ټولو ناوړه مرضونه دي.

وقيل لعبد الله بن المبارك أجمل لنا حسن الخلق في كلمة، فقال اترك الغضب. ژباړه: عبد الله ابن مبارک رحمه الله ته چا وويل، چې نيک اخلاق په يوه کلمه کې راته خلاصه کړه، هغه ځواب ورکړ: غصه پرېږده.

قال الفضيل: لأن يصحبني فاسق حسن الخلق أحب إلي من أن يصحبني عابد سيئ الخلق. ژباړه: فضيل بن عياض رحمه الله وايي: له ما سره چې يو نېک اخلاقه فاسق ملګرى شي دا تر دې ښه ده چې يو بد اخلاقه عابد راسره ملګرى وي.

د الله پــه لاره کــې جــهــاد

دالله د دین تر حاکمیته به جهاد روان وي

صحابه کرامو رضی الله عنهم له نبوي هدایاتو زده کړي وو، چې د الله جَلَّجَلَالُهُ پـه لاره کـې جهـاد د مسـلمانانو د عـزت یـوه غټـه وسیله ده، مسلمانان پـه اجتمـاعي ژونـد او انفـرادي زنـدګي کـې لـه ذلـت سـپکاوي او نـورو هلاکوونکـو صـفاتو څخـه ژغـوري، ځکـه عـزت د الله جَلَّجَلَالُهُ پـه دیـن کـې دی او اصـلي عزتمنـد مؤمنـان دي د ذلت خاوندان کفار او منافقان دي.

الله تعـالی فرمـایي: وَلِلَّهِ الْعِـزَّةُ وَلِرَسُـولِهِ وَلِلْمُـؤْمِنِينَ وَلَكِـنَّ الْمُنَـافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ. (المنافقون: ۸).

ژباړه: او عزت یـوازې د الله او د هغه د رسول لپاره دی او د مومنانو لپاره دی، مګر منافقان په دې نه پوهېږي (چې عزتمن څوک او بې عزته څوک دي).

قال الله تعالی وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُـؤْمِنِينَ (آل عمـران ۱۳۹) ژبـاړه: تاسو به لوړ او غالب یاست که چېرې تاسو مومنان واست.

تنبیـه: الله جَلَّجَلَالُهُ د مؤمن بریالیتوب د ده پـه ایمـان پـورې تړلـی دی، ځکـه چې په انسان کې ایمان وي هر حال یې د کامیابي او عزت دی.

کله چې مسلمان جهاد پرېږدي او د اخرت پرځای په دنیا مصروف شي نو ډار، ذلت او داسې نورځه بیا وربانديې راوګرځي، لکه چې حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما روایت کوي:

قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: (إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ وَتَرَكْتُمْ الْجِهَادَ، سَلَّطَ اللهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ). (رواه ابو داؤد، رقم:٣٤٢٦)

ژباړه: وایي له رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه مې واورېدل چې ویل یې: کله چې تاسو د (عینه) په ډول اخیستل او خرڅول پیل کړئ، په کښت کرونده بوخت شئ او جهاد ته شا کړئ، نو الله تعالی به دربانديې ذلت مسلط کړي او ترهغه به په دې ذلت کې یاست ترڅو بیرته د الله تعالی دین ته راګرځئ. (عینه: هغې راکړې ورکړې ته ویل کېږي چې یو شی په لوړه بیه و پلوري او بېرته یې په کمه ترې رانیسي).

څوک چې دنیا ته مخ او جهاد ته شا کړي د هغه په باره کې د نفاق وېره ده، لکه چې رسول الله صلي الله علیه وسلم د ابوهریرة رضی الله عنه په روایت کې فرمایي:

من مات ولم يغز ولم يحدث به نفسه مات على شعبة من نفاق. (رواه مسلم، رقم: ١٩١٠)

ژباړه: څوک چې په داسې حال کې ومري چې جهاد یې نه وي کړی او نه یې کله د جهاد اراده کړې وي، نو هغه د نفاق په یوه ډول مړشو.

صحابه کرامو رضی الله عنهم چې جهاد کاوه نو الله تعالی هم په بدل کې نه یوائې دا چې دوی ته عزتونه ورباندې لوروليي ول، بلکې په لويو زيرو يې هم ياد کړل، لکه چې فرمايي:

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ الله لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ. (العنکبوت: ٦٩) ژباړه: او هغه څوک چې زموږ په لاره کې جهاد کوي نو خامخا به موږ ورته لاره وښيو او بې شکه چې الله له نيکي کوونکو سره دی.

جهاد يو هميشنی عبادت دی، چې تر قيامته پوري به روان وي، نبي عليه السلام فرمايي:

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «لَنْ يَبْرَحَ هَـذَا الدِّينُ قَائِمًا يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ». (رواه مسلم) ژباړه: له جابر بن سمرة رضی الله عنه څخه روايت شوی، چې نبی عليه السلام وويل: دغه دين به همدا سې قائم وي او د مسلمانانو يوه ډله به د قيامت تر قائمېدو پوري پرې جګړه کوي.

عمران بن حصين له نبی عليه السلام څخه روايت کوي:

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تَـزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ عَلَى مَـنْ نَـاوَأَهُمْ حَـتَّى يُقَاتِـلَ آخِـرُهُمُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ». (رواه ابو داود) ژباړه: نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلي: زما د

امت څخه یوه ډله به همېشه په حق جګړه کوي، دوی به په خپلو دښمنانو غالب وي، ترهغوچې وروستی د دوی به له دجال سره جګړه کوي.

د في سبيل الله جهاد اهداف:

د عقيدې ساتنه

د الله تعالی په لاره کې د جهاد له مقاصدو څخه یو د حقې عقیدې آزادي ده چې انسان ته د دنیا او اخرت له ذلت څخه خلاصون ورکوي او بل په ځمکه کې د الله د دین نفاذ دی.

لکه چې الله تعالی فرمایي: وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ انتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ (البقرة: ۱۹۳)

ژباړه: او له دوی سره وجنګېږئ ترهغو چې فتنه پاتې نشي او دین ټول د الله لپاره شي، نو که دوی منع شول، بیا هېڅ زیاتی نشته مګر په ظالمانو باندې.

د پورتني آیت د مراد په باره کې علماؤ بیلابیلې خبرې کړې دي.

قال القرطبي قال ابْنُ عَبَّاسٍ وَقَتَادَةُ وَالرَّبِيعُ وَالسُّدِّيُّ وَغَيْرُهُمُ: الْفِتْنَةُ هُنَاكَ الشِّرْكُ وَمَا تَابَعَهُ مِنْ أَذَى الْمُؤْمِنِينَ. امام قرطبي وايي، چې د ابن عباس، قتادة، سدي، الربيع او نور له فتنې څخه مراد شرک او بت پرستي یا له هغه سره تړلې د مسلمانانو ځورونه اخلي.

المراغي د دې پورته آيت په تفسير کې ليکي: وقاتلوهم حتى لا تكون لهم قوة يفتنونكم بها فى دينكم ويؤذونكم في سبيله ويمنعونكم من إظهاره والدعوة إليه، (ويكون الدين لله) أى ويكون دين كل شخص خالصا لله لا أثر لخشية غيره فيه، فلا يفتن بصده عنه ولا يؤذى فيه ولا يحتاج فيه إلى مداهنة ومحاباة أو استخفاء ومداراة، (فإن انتهوا فلا عدوان إلا على الظالمين) أي فإن انتهوا عما كانوا عليه وأسلموا، فلا تعتدوا عليهم، لأن العقوبة والعدوان إنما تكون على الظالمين تأديبا لهم، ليرجعوا عن ظلمهم.

ژباړه: مراد دادی چې له دوی سره ترهغو وجنګېږئ! ترڅو ورسره دد دې زور او ځواک پاتې نه شي چې تاسو په خپل دين کې د دغه ځواک له امله په فتنه کې واچوي او تاسو ته د دين په لاره کې تکليف درکړي او تاسو د دين له ښکاره کولو او دين ته له بلنې څخه منعه کړي. (وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ) يعني: چې د هرچا دين خاص د الله لپاره شي، نه د چا د وېرې اغېزه پکې وي، نه يې څوک له دين څخه په را منعه کولو په فتنه کې واچوي، نه يې د دين له امله ځوروي او نه هم په دين کې غوړه مالي، تساهل، پټوالي او مدارات ته مجبور شي. (فَإِنِ انتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ) يعني: کله چې دوی اسلام راوړي او له هغو کارونو چې پخوا يې کول لاس واخلي نو بيا ورباندې تجاوز مه کوئ؛ ځکه عقوبت او عذاب د ظالمانو لپاره وي، ترڅو دوی ته ادب وروښوول شي او له ظلمه راوګرځي.

همدا راز د الانفال په سورت کې هم الله تعالي فرمايي:

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّه فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّه بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ. (۳۹) ژباړه: او تاسو له دوی سره وجنګېږئ تر هغه پورې چې فتنه پاتې نشي او دین ټول خاص د الله لپاره شي، نو که چېرې دوی منع شي، نو بېشکه الله په هغو عملونو چې دوی يې کوي ښه ليدونکی دی.

په المنير کې راغي چې: شرع القتال في الإسلام للدفاع عن النفس والبلاد والأعراض والحرمات ولم يشرع للعدوان والتقتيل وسفك الدماء وكانت الغاية السامية منه إقرار حرية الدعوة إلى الدين وإعلاء كلمة الله وإعزاز دينه ونصرة شريعته وحماسة أهله ودعاته.

ژباړه: جګړه په اسلام کې د دښمنۍ، وژلو او وينې تويولو لپاره نه، بلکي له ځان، مال، هيواد او نواميسو څخه د دفاع لپاره روا شوې ده او ستر اهداف يې دين ته د بلنې ازادي، د الله تعالي د کلمې لوړتيا، د دين غلبه، د شريعت مرسته او د اهل دين او داعيانو دفاع ده.

د شعائرو او عباداتو ساتنه

بل مقصد د جهاد د شعائرو او عباداتو ساتنه ده؛ لکه چې الله تعالی فرمايي: ولولا دفع الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع وبيع وصلوات ومساجد يذكرفيها اسم الله كثيرا ولينصرن الله من ينصره ان الله لقوى عزيز. [الحج: ٤٠]

ژباړه: او که چیرې خلکو لره د الله دفع کول نه وای، ځینو لره په ځینو نورو، نو خامخا به نړول شوې وې خانقاوې او کلیساوې او عبادتخانې او هغه جوماتونه چې په هغو کې د الله نوم ډیر یادیږي او الله تعالی به خامخا د هغه چا مدد وکړي چې د هغه (الله) مدد کوي، له شک پرته الله ډیر قوي او غالب دی.

نسفي وایي: أی لولا إظهاره وتسلیطه المسلمین علی الکافرین بالمجاهدة لا ستولی المشرکون علی أهل الملل المختلفة في أزمنتهم وعلی متعبداتهم فهدموها ولم یترکوا للنصاری بیعاً ولا للمسلمین مساجد.

ژباړه: که چیرې د مسلمانانو غلبه په کفارو باندې په جهاد سره نه وای نو کفار به په مختلفو زمانو کې د نورو ادیانو په پلویانو مسلط شوي وای او د هغوی عبادت ځایونه به یې نړولي وای، او س به نه د نصاراوو کلیسا وای او نه به هم د مسلمانانو مسجدونه.

د ځمکې له مخه د فساد ورکول

بل مقصد د جهاد د ځمکې له مخه د فساد ورکول دي؛ لکه چې الله تعالی فرمایي: «وَلَوْلا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَكِـنَّ اللهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى العَالَمِينَ» (البقرة ۲۵۱) ژباړه: او که چیري نه وای دفع کول د الله خلکو

لـره ځینو د دوی لـره پـه ځینو نورو ،نوخامخابه خرابه شوې وای ځمکـه،مګرالله پـه خلکوباندې(ډېر)مهربان دی.

المراغـي د دې آیت پـه تفسیر کې لیکي: ای ولـولا دفـع الله أهـل البـغي والجور والشرور والآثام بأهل الإصلاح والخير، لغلـب أهـل الفسـاد وبغـوا على الصالحين وأوقعوا بهم وصار لهم السلطان فى الأرض، فكان من رحمة الله لعبـاده وفضله عليهم، أن أذن للمصلحين بقتال البغاة المفسدين وهـو سـبحانه جعـل أهل الحق حربا لأهل الباطل وهو ناصرهم ما نصروه وأصلحوا فى الأرض.

ژباړه: کـه چیرې الله جل جلالـه باغیـان، ظالمـان د شرخاوندان او ګنهګاران د نیکـانو او صـالحانو پـه واسطه نـه راګرځولای نـو ظالمـان بـه غالـب شـوي وای، د ځمکې پاچاهي به یې کولای او په نیکانو به مسلط وای، نو دا د الله پخپلو بندګانو باندې رحم و چې صالحانو مصلحانو تـه یی لـه ظالمـانو او مفسـدینو سره د جهـاد کولو اجازه ورکړه، اهل باطل یې د اهل حق پـه زور مـات کړل او څو چې دوی د الله د دین مرسته کوي او په ځمکه کې اصلاح راولي الله به د دوی مرستندوی وي.

تفسیر منیر لیکي: بيّن الله تعالى الحكمة من القتـال، فـإذا كانـت الحـرب ظاهرة اجتماعية منذ أن اقتتل أبناء آدم، فقتل قابيل هابيل ولا تخلو مـن ضرر وخطر، فإنها لا تخلو أيضا من نفع وخير، فلولا دفع الله أهل البغي والشر بأهـل العدل والإصلاح والخير وتسليط جماعة على أخرى، لغلب أهل الفساد وفسدت الأرض وعمت الفوضى وساد الظلم وهدّمت أماكن العبادة لذكـر الله ولكـن

الله ذو فضل كبير على الناس جميعا وذو رحمة بهم، حيث يسلط على الظالم من يهلكه ويدحر أهل الباطل بجند الحق، فإذا ظهر ظالم آخر، أرسل الله له في الوقت المناسب من يخلص الناس منه وهكذا ينصر الله رسله بالغيب ويؤيد أعوانه في اللحظة الحاسمة التي يريدها.

ژباړه: په پورتني پاک ارشاد کې الله تعالی د جګړې حکمت بيان کړی، چې جګړه له هغه مهال راهيسې يوه تولنيزه پديده ده، چې د حضرت ادم عليه السلام زوی قابل خپل ورور هابل وواژه، جګړه که له يوې خوا ضررونه او خطرونه لري، نو له بلې خوا بيا له خير او ښېګڼې څخه هم خالي نه ده، که چيرې د مفسدينو او باغيانو دفاع په صالحانو عادلانو نه وای شوې او ځيني په ځينو نورو باندې په جګړه غالب شوي نه وای، نو بيا به فساد جوړوونکي برلاسي وای، ځمکه به له فساده ډکه، ګډوډي به عامه او هر لور ته به ظلم – ظلم وای، د عبادت ځايونه به وران وای، مګر الله په ټولو انسانانو مهربان دی، ځکه په ظالم باندې هغه څوک مسلط کوي، چې د غه ظالم هلاک کړي او اهل باطل د حق په لښکرو ماتوي، کله چې بل ظالم سر راپورته کړي، نو الله تعالی په مناسب وخت کې داسې څوک ورته را وليږي، چې خلک له د غه ظالم څخه خلاص کړي او همدا ډول الله تعالی په غيب سره د خپلو رسولانو نصرت کوي او په سخته شېبه کې د خپلو پيروانو تائيد کوي.

دمؤمنانو آزموينه

بل مقصد له جهاده دادی چې الله تعالی په جهاد باندي مؤمنان ازمويي؛ لکه چې الله تعالی فرمايي: أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ (آل عمران: ١٤٢)

ژباړه: ايا تاسو دا ګومان کوئ چې تاسو به جنت ته داخل شئ، حال دا چې لا تر اوسه الله تعالی په تاسو کې هغه کسان نه دي معلوم (څرګند) کړي چې جهاد يې کړی. (يعني: تر هغه به جنت ته داخل نشئ تر څو د الله تعالی له لوري په بيلا بيلو ازموينښتونو ونه ازمايل شئ او الله له تاسو نه خلکو ته هغه څوک په ډاګه نه کړي چې د الله په لاره کې جهاد کوي او له دښمن سره په مقابله صبر کوي).

د کفارو وېرول

بل مقصد له جهاده د کفارو وېرول دي؛ لکه الله تعالی چې فرمايي: وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ. (الانفال: ٦٠)

ژباړه: او (اې مسلمانانو!) تاسو (د عدد او عدت دواړو په اعتبار) قوت او تړلي آسونه تيار کړئ څومره چې استطاعت لرئ، په دې سره به تاسو د الله دښمنان

او خپل د ښمنان وپروئ او له دوی نه سوا نور خلق (هم) چې تاسو هغوی نه پېژنئ (يعني تر اوسه يې له تاسو سره د ښمني نه ده په ډاګه کړې) الله يې پېژني او تاسو چې د الله په لاره کې څه شی هم خرچ کوئ، تاسو ته به پوره (بدله) درکړل شي او په تاسو به ظلم نه کېږي.

د مسلمانانو د زړونو خوشحالي

بل مقصد له جهاده د مسلمانانو خوشحالي او د زړو شفا ده؛ لکه چې الله تعالى فرمايي: (قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ * وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ). [التوبة: ١٤-١٥]

ژباړه: اې مسلمانانو! د الله تعالى له د ښمنانو سره وجنګېږئ، الله به دوی ته ستاسو په لاسونو عذاب ورکړي او دوی به رسوا کړي، د دوی په مقابل کې به ستاسو مرسته وکړي او (په دې سره به) د مؤمنانو سينو ته شفا ورکړي او د هغوی (مسلمانانو) د زړونو غوسه به يوسي او چا ته چې د الله تعالى خوښه شي توبه به يې قبوله کړي، الله تعالى عليم او د حکمت څښتن دی.

د کفارو د دښمنۍ دفع او د مظلومو خلاصون

د جهاد بل مقصد د کفارو دښمني دفع کول او د دوی له ظلمه څخه د کمزورو مسلمانانو ژغورل دي؛ لکه چې الله تعالی فرمايي: وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَاأَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا [النساء: ٧٥].

ژباړه: او په تاسو څه شوي دي چې د الله په لاره او د کمزورو سړيو، ښځو او ماشومانو (په خلاصولو) کې، نه جنګېږئ هغه چې وايي: اې زمونږه ربه! ته مونږه له دې کلي نه وباسه چې اوسېدونکي يې ظالمان دي او ته زمونږ لپاره له خپله لوري کوم دوست مقرر کړه او ته زمونږ لپاره له خپل جانبه کوم مدد کوونکی وټاکه.

په حجة الله البالغه کې راځي: فالرحمة التامة الكاملة بالنسبة إلى البشر أن يهديهم الله إلى الاحسان وأن يكبح ظالمهم عن الظلم وأن يصلح ارتفاقاتهم وتدبير منزلهم وسياسة مدينتهم، فالمدن الفاسدة التي يغلب عليها نفوس السبعية ويكون لهم تمنع شديد إنما هو بمنزلة الأكلة في بدن الإنسان لا يصح الإنسان إلا بقطعه والذي يتوجه إلى إصلاح مزاجه وإقامة طبيعته لا بد له من القطع والشر القليل إذا كان مفضيا إلى الخير الكثير واجب فعله. (ج٢ ص٢٦٤)

ژباړه: په بشر باندې د الله تعالی بشپړ رحمت دا دی چې د احسان لوري ته یې رهنمایي کړي، د ظالم لاس یې له ظلم څخه لنډ کړي او ټولنه یې د دوی په عدالت، سالم سیاست او مصالحو باندې اصلاح کړې ده؛ ځکه هغه فاسد ښارونه چې وحشي انسانان پرې واکمن او هغوی لره سخت قوت وي داسې مثال لري لکه په بدن کې لاعلاجه دانه چې انسان د هغې له پرېکولو پرته نه روغېږي، هغه څه چې په پرې کولو سره یې د مزاج اصلاح راځي او طبیعت روغوي هغه باید خامخا غوڅه شي او کله چې له لږ شر څخه ډېر خیر موندل کیږي هغه کار واجب دی چې ترسره شي.

نو له پورتنیو آیتونو او د علماوو له وینا وو څخه داسې معلومیږي چې له جهاد کولو څخه مقصد د اسلامي عقیدې ساتنه، له فساد څخه د انسانانو ژغورل او د الله تعالی احکام په ځمکه جاري کول دي، نو که په هیواد کې روان جهاد چې له کفارو او د هغوی له مزدورانو سره پیل شوی، یوا ځې د کفارو په وتلو پوري وتړل شي او څوک داسې وایي چې د کفارو تر وتلو سمدستي دې جهاد ته د پای ټکی کېښوول شي که څه هم له دوی څخه پېښ او خپور فساد همداسې روان وي، نو دا غلطه ده، ځکه چې په دې سره به جهاد بلا هدفه وګرځي او یرغلګر همدا غواړي چې د جهاد په لاره کې د افغانانو ټول کوښښونه بې ثمرې ثابت کړي او دا یقیني ده چې که د دوی ټول مفاسد له بېخه ونه ایستل شي، نو دوی به هر وخت چې حالات سازګار ووینې یو وار بیا ضرور زموږ خاورې ته راځي، نو مجاهدین باید د دوی په خبرو دوکه نشي او تر هغه پورې خپل مقدس جهاد ته دوام ورکړي تر څو د فساد

جرړه ختمیږي او په ځمکه یوائې د الله دین حاکم ګرځي، ترڅو د دوی دا بې شمېره قربانۍ بې نتیجې پاته نشي.

د مسلمانانو د نصرت او بري لاملونه

مجاهدین باید هغه لارې چارې خپلې کړي، چې د دوی د نصرت او فتحې لامل شي، الله تعالی فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا الله يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ. [محمد: ٧].

ژباړه: اې هغو کسانو، چې تاسو ایمان راوړی (اې مومنانو) که تاسو د الله تعالی نصرت وکړئ، نو الله تعالی به ستاسو نصرت وکړي او تاسو به (د دښمنانو په وړاندې) ثابت قدمه کړي.

په دغه آیت کې الله تعالی ټولو مومنانو ته خطاب کوي، چې که تاسو د الله تعالی نصرت وکړئ، الله تعالی به ستاسو نصرت وکړي، د الله تعالی نصرت دا دی، چې د الله تعالی د شریعت پیروي وشي او د دین نصرت یې وشي، نو الله تعالی به مسلمانان په دښمنانو غالب کړي، الله تعالی فرمايي: إِن يَنصُرْكُمُ الله فَلَا غَالِبَ لَكُمْ. یعني که الله تعالي ستاسو (مومنانو) نصرت وکړي، بیا به په تاسو باندې هیڅوک غالب نشي.

الله تعالی فرمايي: وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ الله بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ [آل عمران: ١٢٠]

یعنې که تاسو (اې مومنانو!) صبر وکړئ او تقوا اختیار کړئ، نو بیا به د هغوی (کافرانو) هیڅ فریب زیان درته ونه رسوي، الله تعالی په هر هغه څه چې هغوی یې کوي احاطه کوونکی دی.

تفسیر طبري وایي: اې مومنانو !که تاسو د الله تعالی په طاعت صبر وکړئ او په هغه څه کې چې امریې درته پرې کړی د امر پیروي وکړئ او له هرهغه څخه چې تاسو یې ورڅخه منعه کړي یاست پرهیز وکړئ او له الله تعالی وویریږئ، نو بیا به تاسو ته د هغوی فریب او مکر زیان ونه رسوي، یعنی الله تعالی به مو د هغوی له مکر او د فریب له زیان څخه وساتي او تاسو به بریالی یاست.

دنده او مشري یو امانت دی:

محترمو مجاهدینو ! هرهغه څوک چې امام یې د کوم کار لپاره وټاکي هغه په همدې کار کې امین دی او پرې لازمه ده چې پوره حق یې اداء کړي؛ لکه چې الله جل جلاله فرمایي: إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا. [النساء:۵۸]

ژباړه: بېشکه الله تعالی تاسو ته د دې حکم کوي چې امانتونه خپلو حقدارو ته وسپارئ او دا چې کله تاسو د خلقو په مینځ کې فیصله کوئ، (نو) په انصاف سره یې کوئ، بېشکه الله تعالی تاسو ته ډېر ښه نصیحت کوي، بېشکه الله ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی.

قرطبی لیکي، چې له آیت شریف څخه څرګندیږي چې دا حکم عام او د هرهغه چا لپاره دی چې امانات ورسپارل شوي وي، یا اموال ویشي او یا د مظلوم حق له ظالم څخه اخلي.

امام طبري هم داسې وايي: په دې کې هغه کسان هم راځي چا ته چې امانات سپارل شوي وي يا شاهدي ورپه غاړه وي يا داسې نور، همدارنګه لمونځ، زکات او ټول عبادات هم د الله جل جلاله امانات دي.

همدغه معنی په يوه مرفوع حديث کې داسې راغلې ده: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالْإِمَامُ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ فِي أَهْلِهِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالْمَرْأَةُ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا رَاعِيَةٌ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا وَالْخَادِمُ فِي مَالِ سَيِّدِهِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه. (بخاري، رقم:٥١٨٨)

ژباړه: هر يو ستاسې شپون دی او د خپل رعيت پوښتنه به ترې کېږي، امام شپون دی د رعيت په اړه به پوښتنه ترې کېږي، سړی د خپل اهل شپون دی د اهل په باره کې به پوښتنه ترې کېږي، ښځه د مېړه په کور کې شپنه ده او د خپل کور او څه چې په دې کور کې دي د هغو په اړه به ترې پوښتنه کېږي، خادم د خپل بادار په مال کې شپون دی او په دې اړه به ترې پوښتنه کېږي.

حضرت ابوذر رضی الله عنه فرمايي: قلت: يارسول الله! الا تستعملني؟ قال فضرب بيده منكبي ثم قال: يا أبا ذر! إنك رجل ضعيف وإنها أمانة وإنها يوم القيامة خزي وندامة الا من اخذها بحقها و ادى الذي عليه فيها. (مسلم، رقم:١٨٢٥)

ژباړه: حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي، چې ما رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل: ما په پلاني ځای نه مقرروې؟ هغه زما په اوږه لاس کېښود او راته

ویې ویل: ابوذره! ته کمزوری یې او وظیفه امانت او د قیامت د ورځې رسوایي او پښېماني ده، مګر د هغه چا لپاره نه چې په سم ډول یې سمبال کړه او د وظیفې حق یې هغسې اداء کړ، څنګه چې په ده لازم و.

بل ځای ورته فرمایي: « يا أبا ذر أني أراك ضعيفا وإني أحب لك ما أحب لنفسي لا تأمرن على اثنين ولا تولين مال يتيم». (مسلم، رقم:١٨٢٦).

ژباړه: ابوذره! ته ما ته کمزوری معلومیږې او زه تا ته هغه څه خوښوم چې د ځان لپاره مې خوښ وي، په دوو کسانو هم مه امیر کېږه او د یتیم د مال سرپرستي په غاړه مه اخله.

دا یوه ستره قاعده ده چې سړی باید له امیر جوړېدو څخه ځان وساتي خصوصا هغه چې کمزوری وي.

پورته بیان شوې رسوايي او پښېماني د هغه چا لپاره ده چې د امیر کېدلو اهل نه وي، یا خو اهل وي مګر عدل پکې نه چلوي، خو څوک چې د ولایت او امارت اهل هم وي او عدالت هم پکې وکړي هغه بیا د سترې مرتبې خاوند دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُونَ عَلَى الْإِمَارَةِ وَسَتَكُونُ نَدَامَةً يَوْمَ القِيَامَةِ، فَنِعْمَ المُرْضِعَةُ وَبِئْسَتِ الفَاطِمَةُ». (البخاري، رقم: ٧١٤٨)

ژباړه: ابوهریره رضی الله عنه وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسو به د امارت ډېر خواهش کوئ، خو هغه به د قیامت په ورځ پښېماني وي، ښه ده تی ورکوونکې او بده ده له تي جلاکوونکې.

پښېماني به د هغه چا لپاره وي چې د امارت پر مهال یې هغسې چلند نه وي کړی څنګه چې پکار و «ښه وي تی ورکوونکې» له دې څخه مراد د امارت د پیل شېبې ورځې او حال احوال دی، ځکه چې مال، دولت، مرتبه او خوندونه وي او «بده وي له تي جلاکوونکې» له دې څخه مراد بیا د امارت پای دی، ځکه چې کله قتل وي، کله معزولېدل وي او په دې برسېره په قیامت کې ورڅخه پوښتنه هم کېږي.

خو هغه څوک چې د امیر کېدلو اهل وي، د هغه حق اداء کړي، عدل پکې هېر نکړي، نو د هغه لپاره به داسې ستر فضل او لوی ثواب وي چې د اویا کلونو تر عبادت به غوره وي، لکه رسول الله علیه السلام یې چې په اړه فرمایي، د زهیر رضی الله عنه روایت دی: « إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عند الله على مَنَابِرَ من نُورٍ عن يَمِينِ الرَّحْمنِ وكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وأَهْلِيهمْ وَمَا وَلُوا». (رواه مسلم، رقم: ۱۸۲۷)

ژباړه: حضرت زهیر رضی الله عنه وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: عادل حاکمان به د قیامت په ورځ د الله تعالی ښي اړخ ته د نور په منبرونو ناست وي– د الله دواړه اړخه ښي دي– دا به هغه کسان وي چې په خپل حکومت، خپل اهل او عیال او رعیت کې یې عدل کړی وي.

قاضي عياض رحمه الله د دغه حديث په بيان کې وايي: اى «الذين يعدلون فى حكمهم وأهليهم وما ولوا» فدل هذا الفضل لكل من عدل فيما تقلده من خلافة وإمارة أو ولاية يتيم أو صدقة أو غير ذلك أو فيما يلزمه من حقوق أهله أو من يقوم به.

قوله: «على منابر من نور» أصل تسمية المنبر لارتفاعه فيحتمل أن يكون منابر كما ذكر على وجهها أو منازل رفيعة وأماكن علية كما جاء فى الحديث الآخر: «يجىء يوم القيامة على تل وفى آخر، على كوم».

وقوله: «عن يمين الرحمن» معناه: فى الحالة الحسنة والمنزلة الرفيعة، قال ابن عرفة، يقال: أتاه عن يمينه إذا أتاه من الجهة المحمودة والعرب تنسب الفعل المحمود والإحسان إلى اليمين وضده اليسار، قالوا: واليمين من اليمن وتسمى اليمين وتسمى الشمال الشؤمى من الشؤم، اه. (اكمال المعلم ج٦ص ٢٢٧)

ژباړه: "يعني هغه څوک چې په حکم، خپل اهل او هغه څه کې چې ده ته په واک کې ورکول سوی وي عدل کوي "نو دغه حديث دلالت کوي، چې دغه فضل او رتبه هر هغه کس لره ده چې په هر هغه څه کې عدل کوي چې دی پکې مقرر سوی وي خلافت وي، که امارت، ولايت وي که د يتيم مال او که صدقات وي او يا داسې نور او هغه چې پر ده لازم وي لکه حقوق د اهل د ده او هغه چې ده ته په واک کې ورکول سوي وي.

د «على مَنَابِرَ من نُورٍ» څخه مراد يا خو دا چې حقيقي منبرونه او يا لوړ ځايونه دي چې په دې حديث شريف کې يې هم يادونه شوې ده: «يجىء يوم القيامة على .....
د (يَمينِ الرَّحْمنِ) د الله له ښي لوري څخه مراد دا چې د ښه حال خاوند به وي او ستره

مرتبه به يې په برخه وي، ابن عرفه رحمه الله وايي، هغه مهال چې يو څوک له ښه (ستايل شوي) لوري څخه راشي، نو هغه ته ويل کيږي چې له ښي لوري راغی، عربان هر ښه شي ته يمين وايي، چې ضد يې يسار دی يمين له يُمن څخه اخيستل شوی او مبارک ته ويل کيږي، لکه شمال چې له شوم څخه اخستل شوی او بد شامتي ته وايي.

وَقَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ مَسْعُودٍ:لَأَنْ أَقْضِيَ يَوْمًاأَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ عِبَادَةِ سَبْعِينَ سَنَةً. وَمُرَادُهُ أَنَّهُ إِذَا قَضَى يَوْمًا بِالْحَقِّ كَانَ أَفْضَلَ مِنْ عِبَادَةِ سَبْعِينَ سَنَةً، فَكَذَلِكَ كَانَ الْعَدْلُ بَيْنَ النَّاسِ مِنْ أَفْضَلِ أَعْمَالِ الْبِرِّ وَأَعْلَى دَرَجَاتِ الْأَجْرِ، قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ. (المائدة: ٤٢) فَأَيُّ شَيْءٍ أَشْرَفُ مِنْ مَحَبَّةِ اللهِ تَعَالَى. (معين الحكام ص٨)

په معين الحكام کې راغلي چې عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي: زه چې يو ورځ قضاء وکړم دا راته له اويا کلونو عبادت څخه غوره دی، له دې څخه مراد هره قضا نه، بلکې په حق سره قضاء ده.

دغه رنګه د خلکو تر منځ عدل کول هم له لويو نېکيو څخه يو ده او تر سره کوونکي ته به يې الله تعالی لوی درجات ورکوي؛ لکه چې د مائدې په سورت کې الله پاک فرمايي: وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ [المائدة :٤٢]

ژباړه: او که چېرې ته (د نورو ترمنځ) فيصله کوې، نو د دوی تر مينځ په انصاف سره فيصله وکړه، بېشکه الله تعالی له انصاف کوونکو سره مينه کوي، (نو کوم شی د الله جَلَّ جَلَالُهُ تر ميني غوره دی)

تنبیه: هیڅا ته نه ښایي چې په خپله خوله امارت وغواړي او یا په زړه کې دا مینه وساتي چې کاشکې امارت ورکړل شوی وای، ځکه دا کار په شریعت کې منع دی، خو که دد ې لپاره یې غواړي چې د خلکو تر منځ اصلاح راولي او عدل قائم کړي، نو بیا روا دی، مګر زموږ او ستاسو په زمانه کې د یوسف علی نبینا وعلیه السلام په شان یو څوک پیدا کېدل ډیر شاذ او نادر دي، ځکه نو باید له داسې کړنې ځان وساتل شي، یوسف علیه السلام چې په خپله خوله د دندې غوښتنه کړې وه، هغه پوهیده، چې دغه دنده بل څوک په دغه ډول نشي ترسره کولای، دی پوهیده، چې اصلاح راوستلی او عدل قائمولی شي).

عبدالرحمن ابن سمرة رضی الله عنه فرمایي: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ سَمُرَةَ، لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ، فَإِنَّكَ إِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا وَإِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا(مسلم، رقم: ١٦٥٢)

ژباړه: حضرت عبدالرحمن ابن سمرة رضی الله عنه وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویل: اې عبد الرحمانه! د امارت غوښتنه مه کوه، ځکه چې که ستا په غوښتنه درکړل شي نو ته به ورته وسپارل شې او که له غوښتنې پرته درکړل شي بیا به الله درسره مرسته کوي چې سرته یې ورسوې.

همدارنګه ابوبکر صدیق رضی الله عنه وایي: والله ما كنت حريصا على الإمارة يوما ولا ليلة قط ولا كنت فيها راغبا ولا سألتها الله في سر ولا علانية ولكني أشفقت من الفتنة وما لي في الإمارة من راحة ولكني قلدت أمرا

عظيما ما لي به طاقة ولا يد إلا بتقوية الله عز وجل، (كنز العمال، رقم: ١٤٠٦٠) و كذا نقل عن عمر رضي الله عنه مثل ذلک.

ژباړه: زما دې په خپل رب قسم وي چې د يوې شپې او يا يوې ورځې لپاره هم په امارت حريص نه يم، (د دې حرص راسره نشته چې په مشرۍ دې پاتې يم) او نه ورسره مينه لرم، او يا به مې له الله تعالى څخه په پټه يا ښکاره د دې طلب کړې وي، لکن قبول مې له دې وجهې کړ، چې له فتنې څخه بېرېدم، ماته په مشرۍ او امارت کې هيڅ راحت او سوکالي نشته، خو په دا سې غټ کار مقرر سوم چې ما لره پرې هيڅ قدرت او برلاسی د الله جَلَّجَلَالُهُ له مرستې پرته نشته او له عمر رضی الله عنه څخه هم دغسې روايت شوی دی.

په البدايه و النهايه کې وايي: لما ولى عمر بن عبد العزيز الخلافة جاءه صاحب الشرطة ليسير بين يديه بالحربة على عادته مع الخلفاء قبله، فقال له عمر: ما لي ولك؟ تنح عني، إنما أنا رجل من المسلمين. ثم سار وساروا معه حتى دخل المسجد، فصعد المنبر واجتمع النَّاس إليه فقال: أَيُّهَا النَّاسُ! إِنِّي قد ابتليت بهذا الأمر عن غير رأي كان مني فيه ولا طلبة له ولا مشورة من المسلمين وإني قد خلعت ما في أعناقكم من بيعتي فاختاروا لأنفسكم ولأمركم من تريدون، فصاح المسلمون صيحة واحدة: قد اخترناك لأنفسنا وأمرنا ورضينا كلنا بك.

فلما هدأت أصواتهم حمد الله وأثنى عليه وقال: أوصيكم بتقوى الله، فإن تقوى الله خلف من كل شئ وليس من تقوى الله خلف و أكثروا من ذكر

الموت فإنه هادم اللذات وأحسنوا الاستعداد له قبل نزوله وإن هذه الأمة لم تختلف في ربها ولا في كتابها ولا في نبيها وإنما اختلفوا في الدينار والدرهم وإنِّي والله لا أعطي أحداً باطلاً ولا أمنع أحداً حقاً، ثم رفع صوته فقال: أيها الناس! من أطاع الله وجبت طاعته ومن عصى الله فلا طاعة له أطيعوني ما أطعت الله، فإذا عصيت الله فلا طاعة لي عليكم.(ج٩ ص٢٣٨)

ژباړه: کله چې عمربن عبدالعزيز خليفه شونو د حفاظتي ځواکونو مشر ورته راغی او غوښتل يې ده ته هم د حفاظت لپاره د داسې ساتندوی ګارډ انتظام وکړي څنګه چې به د نورو خلفاؤ ترمخ روان وو. عمربن عبدالعزيز ورته ويل زما او د دې کار يې سره څه؟! لرې شه زما څخه! زه هم د مسلمانانو څخه يو تن يم! بيا روان شو مسجد ته ننوت، منبرته وخوت، خلک ورته راغونډ شول او داسې خطبه يې وفرمايله:

اې خلکو! ما ته د غه ابتلاء داسې راکړل شوې ده چې زما رايه پکې نه ده اخستل شوې، نه ما غوښتنه کړې او نه هم له مسلمانانو سره مشوره شوې ده، ستاسو په غاړو کې چې زما کوم بيعت و له هغه څخه مې خلاص کړي ياست، هر څوک چې خليفه ټاکئ ستاسو خوښه ده، مسلمانانو په يوه غږ چيغه کړه چې موږ د خلافت لپاره ته غوره کړی يې او زموږ ټولو ستا خلافت خوښ دی.

کله چې د خلکو ګڼه ګوڼه کمه او ځوږ کرار شو نو هغه د الله تعالی حمد او ثنا وويله او بيا يې وفرمايل: اې خلکو! تاسو ته د تقوی توصيه کوم، تقوی د هر څه بدل کېدلی شي، خو هيڅ شی د تقوا بدل نشي کېدلی (دا شونې ده، چې تقوی د هر څه جبيره شي، خو که تقوی له منځه ولاړه هيڅ شی يې عوض نشي کېدلی) مرګ ډېر يادوئ، ځکه چې

مرګ لذتونه هیروي، ښخوا تر دې چې مرګ درته راشي هغه ته تیاری وکړئ، دغه امت نه د الله تعالی په هکله اختلاف لري، نه د پیغمبر په هکله او نه د الله تعالی د کتاب په هکله، بلکې دوی چې پرې اختلاف کوي هغه درهم او دینار دی.

زما دې په الله قسم وي، چې نه به هیڅا ته ناحقه څه ورکوم او نه به له هیچا څخه د ده حق ګرځوم، بیا یې خپل غړ اوچت کړ او ویې ویل: اې خلکو! څوک چې د الله اطاعت کوي د هغه د خبرې منل واجب دي، نو ترڅو چې زه د الله اطاعت کوم تاسو زما خبره منئ او کله چې زه له الله څخه سرغړونه او عصیان پیل کړم نو بیا پر تاسو زما هیڅ اطاعت نشته.

د دندو د حرص زیانونه:

پوه شه چې د دندو مینه او حرص ډېر فسادونه لري چې علماوو په خپلو کتابونو کې لیکلي دي:

(۱) یو دا چې له عدل څخه محرومیت راځي؛ لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: لا یحرص فی الامارة فعدل فیهـا. یعني: یو څوک چې د مشرۍ په ترلاسه کولو کې حرص کوي، هغه عدل نشي کولای.

همدغه مطلب له حضرت عمر رضی الله عنه څخه په کنزالعمال کې رانقل شوی دی: عن عمر قال: ماحرص رجل کل الحرص في الامارة فعدل فیها. (کنز العمال، رقم: ۱٤۲۹۵) یعنی: یو څوک چې د امارت او مشرۍ په ترلاسه کولو کې ډېر حرص کوي هغه عدل نشي کولای.

(۲) دا چې د الله تعالی له مرستې څخه به محروم وي؛ لکه د عبد الرحمن بن سمرة رضی الله عنه په حدیث کې چې تېرشو، ابن حجر رحمه الله د عبد الرحمن ابن سمره رضی الله عنه د حدیث په شرح کې لیکي: أَنَّ مَنْ طَلَبَ الْإِمَارَةَ فَأُعْطِيَهَا تُرِكَتْ إِعَانَتُهُ عَلَيْهَا مِنْ أَجْلِ حِرْصِهِ وَيُسْتَفَادُ مِنْهُ أَنَّ طَلَبَ مَا يَتَعَلَّقُ بِالْحُكْمِ مَكْرُوهٌ، فَيَدْخُلُ فِي الْإِمَارَةِ الْقَضَاءُ وَالْحِسْبَةُ وَنَحْوُ ذَلِكَ وَأَنَّ مَنْ حَرَصَ عَلَى ذَلِكَ لَا يُعَانُ، فَإِنَّ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مِنَ اللهِ عَوْنٌ عَلَى عَمَلِهِ لَا يَكُونُ فِيهِ كِفَايَةٌ لِذَلِكَ الْعَمَلِ، فَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُجَابَ سُؤَالُهُ وَمِنَ الْمَعْلُومِ أَنَّ كُلَّ وِلَايَةٍ لَا تَخْلُو مِنَ الْمَشَقَّةِ، فَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مِنَ اللهِ إِعَانَةٌ، تَوَرَّطَ فِيمَا دَخَلَ فِيهِ وَخَسِرَ دُنْيَاهُ وَعُقْبَاهُ، فَمَنْ كَانَ ذَا عَقْلٍ لَمْ يَتَعَرَّضْ لِلطَّلَبِ أَصْلًا، بَلْ إِذَا كَانَ كَافِيًا وَأُعْطِيهَا مِنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ، فَقَدْ وَعَدَهُ الصَّادِقُ بِالْإِعَانَةِ وَلَا يَخْفَى مَا فِي ذَلِكَ مِنَ الْفَضْلِ.

ژباړه: څوک چې په خپله خوله وظیفه غواړي او ورکول شي، نو په دې دنده کې مرسته ورسره نه کیږي، ځکه چې په حرص یې ترلاسه کړې ده او دا هم ترې جوتیږي چې د هر هغه څه غوښتنه چې تر حکم او مشرۍ پورې اړه لري مکروه ده، نو په امارت کې قضا، احتساب او داسې نور هم داخل شول، هرڅوک چې یې په خوله وغواړي او ورکړل شي، نو مرسته ورسره نه کیږي او له هر چا سره چې د الله مرسته نه وي هغه نشي کولای چې په یوازې ځان دې د یو کار د سرته رسولو توان ولري، نو باید د دندې د غوښتلو وړاندیزیې ونه منل شي.

معلومه خبره ده چې هره وظیفه او دنده مشکلات لري او له هرچا سره چې د الله تعالی مرسته نه وي هغه ګواکې په کې راګیر شو او دنیا او اخرت یې وبایلل، نو

څوک چې هوښیار وي هغه په خپله خوله امارت نه غواړي، خو څوک چې یې اهل او مستحق وي او د ده له غوښتنې پرته ورکول شي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د مرستې خبر ورکړی او دا بیشکه چې فضل او بهتري ده.

(۳) دا چې هرڅوک په خوله وظیفه غواړي هغه به خامخا یا د ده نفسي خواهش وي چې له مال، متاع، دولت او مرتبې سره یې مینه وي او یا د دې لپاره چې له وظیفې ترلاسه کولو څخه په استفاده له خپل مخالف لوري څخه انتقام واخلي.

د دندې غوښتنه نه د نفسي خواهش په بنیاد او نه هم د خپلو مخالفینو د ټکولو لپاره جائز ده، ځکه وظیفه هغه الهی امانت دی، چې د مسلمانانو مصالح ورپورې تړلي دي، نو ځکه یې باید څوک د نورو اهدافو لپاره د ترلاسه کولو کوښښ ونه کړي.

د آمــر اطـاعــت

د شرعي امیر اطاعت واجب دی؛ لکه چې الله تعالی فرمایي:

يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا الله وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى الله وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِالله وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا. [النساء، ٥٩]

ژباړه: اې د ایمان خاوندانو! د الله او د رسول خبره منئ او د هغو چې په تاسو امیران ټاکل شوي دي، نو که چېرې تاسو په خپلو کې د څه شي په باره کې جګړه وکړئ، هغه الله او د هغه رسول ته راجع کړئ، که چېرې تاسو په الله تعالی او په ورځ د اخرت ایمان لرئ، دا (کار) ډېر غوره دی او د انجام په لحاظ ډېر ښه دی.

الله تعالی لومړی بنده ته د خپل حکم د منلو امر فرمایلی او بیا یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او وروسته د اولوا الامر کسانو د اطاعت حکم ورته کړی دی.

حضرت سهل بن عبدالله وايي: وَإِذَا نَهَى السُّلْطَانُ الْعَالِمَ أَنْ يُفْتِيَ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُفْتِيَ، فَإِنْ أَفْتَى فَهُوَ عَاصٍ وَإِنْ كَانَ أَمِيرًا جَائِرًا.

ژباړه: که چیری سلطان یوه عالم ته امر وکړ چې فتوا مه صادروه، هغه بیا حق نلري چې فتوا ورکړي که یې فتوا ورکړه ګنهګار دی، که څه هم امیر ظالم وي.

امام قرطبي لیکي: فامر الله تَعَالَى بِرَدِّ الْمُتَنَازَعِ فِيهِ إِلَى كِتَابِ الله وَسُنَّةِ نَبِيِّهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَيْسَ لِغَيْرِ الْعُلَمَاءِ مَعْرِفَةَ كَيْفِيَّةِ الرَّدِّ إِلَى الْكِتَابِ

وَالسُّنَّةِ وَيَدُلُّ هَذَا عَلَى صِحَّةِ كَوْنِ سُؤَالِ الْعُلَمَاءِ وَاجِبًا وَامْتِثَالِ فَتْوَاهُمْ لَازِمًا، قَالَ سَهْلُ بْنُ عَبْدِ اللهِ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَظَّمُوا السُّلْطَانَ وَالْعُلَمَاءَ، فَإِذَا عَظَّمُوا هَذَيْنَ أَصْلَحَ اللهُ دُنْيَا هُمْ وَأُخْرَاهُمْ وَإِذَا اسْتَخَفُّوا بهذين أفسدوا دنياهم واخراهم.

ژباړه: بیا الله تعالی امر وکړ چې په کومو مسئلو کې ستاسو ترمنځ منازعه وي هغه دې د الله کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو ته حواله شي او دا چې د الله تعالی کتاب او د رسول صلی الله علیه وسلم سنتو ته څنګه حواله کېږي؟ دا بیا له علماوو پرته بل چا ته نه معلومیږي، نو له دې څخه ثرګنده شوه چې له علماوو پوښتنه کول واجب او د امر امتثال یې لازم دی.

سهل بن عبد الله رحمه الله وایي: خلک ترهغو په خیر کې دي څو چې د علماوو او سلطان تعظیم کوي، که دا دواړه یې کول نو دنیا او آخرت به یې ښایسته وي او که ددې دواړو سپکاوی یې کاوه نو دنیا او آخرت یې لاړل. حضرت ابي بکرة رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: من أكرم سلطان الله تبارك وتعالى في الدنيا أكرمه الله يوم القيامة ومن أهان سلطان الله تبارك وتعالى في الدنيا أهانه الله يوم القيامة. (احمد، رقم: ٢٠٤٣٣)

ژباړه: چا چې په دنیا کې د الله تبارک و تعالی خلیفه ته عزت ورکړ الله به یې په قیامت کې عزتمن کړي او چا چې په دنیا کې د الله تعالی خلیفه او سلطان سپک کړ الله به یې په قیامت کې سپک کړي.

عَنْ زِيَادِ بْنِ كُسَيْبٍ الْعَدَوِيِّ، قَالَ كُنْتُ مَعَ أَبِي بَكْرَةَ رضى الله عنه تَحْتَ مِنْبَرِابْنِ عَامِرٍوَهُوَ يَخْطُبُ وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ رِقَاقٌ،فَقَالَ أَبُوبِلاَلٍ: انْظُرُوا إِلَى أَمِيرِنَا يَلْبَسُ ثِيَابَ الْفُسَّاقِ، فَقَالَ أَبُوبَكْرَةَ: اسْكُتْ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه وسلم يَقُولُ:«مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ الله فِي الأَرْضِ أَهَانَهُ الله». (ترمذي،رقم:۲۲۲٤)

ژباړه: له زياد بن کسيب عدوی څخه روايت شوی، چې زه له ابوبکرة رضی الله عنه سره د ابن عامر تر منبر لاندې ناست وم، هغه خطبه ويله او نرۍ جامې يې اغوستې وې، نو ابوبلال وويل، وګورئ، خپل امير ته چې د فاسقانو جامې يې په تن کړي دي، ابو بکرة وويل: چُپ شه! ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويل يې: څوک چې په ځمکه کې د الله خليفه او سلطان سپک کړي الله به يې (په قيامت کې) سپک کړي.

لکه څنګه چې د خليفه او د مسلمانانو د ستر امير درناوی لازم دی، همداسې د ښکته اميرانو د امر د متابعت تر څنګ د هغوی درناوی او احترام هم لازم دی. د هجرت په ۱۱ کال نبی عليه السلام د روم د غزوې لپاره يو لښکر تيار کړ، چې حضرت ابوبکر صديق، عمر فاروق، سعد بن ابی وقاص، ابا عبيدة بن جراح او داسې نور کبار صحابه رضی الله عنهم پکې وو او د لښکر مشري يې اسامه بن زيد رضی الله عنه کړ، چې په دغه وخت کې يې عمر تر شلو کلونو نه اوښت، په دغه مهال د نبی عليه السلام ناروغي سخته شوه او لښکر له روانېدلو څخه وځنډېده، نبی عليه السلام په دغه مرض کې رحلت وکړ، وروسته مسلمانانو له حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه سره بيعت وکړ، هغه د دغه لښکر د لېږلو امر وکړ او اسامه بن زيد رضی الله عنه

ته یې وویل، چې که په حضرت عمر رضی الله عنه زما مرسته وکړې، یعنی را سره پرې یې ږدې، هغه هم ورسره پریښود، له دې وروسته چې به کله هم حضرت عمر رضی الله عنه له اسامه رضی الله عنه سره مخ شو، نو ورته به یې ویل: مرحبا باميري! یعنی زما امیر ته دې ښه راغلاست وي، کله چې به یو څوک له دغې خبرې او عمر رضی الله عنه له لوري اسامه رضی الله عنه ته د عزت په ورکولو حیران شو، نو هغه به وویل، لقد أمّرَهُ عليّ رسول الله صلی الله علیه وسلم، یعنی نبی علیه السلام هغه په ما امیر ټاکلی و. (صور من حياة الصحابة)

دلته د امیر درناوی هم څرګند شو او دا هم ورسره څرګنده شوه، چې که مشر امیر په تاسو امیر وټاکي (که څه هم هغه کشر وي) باید تابعداري یې وشي.

ابوهریرة رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ عَصَى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي. (رواه مسلم، رقم: ١٨٣٥)

ژباړه: چا چې زما اطاعت وکړ، هغه د الله تعالی اطاعت وکړ او چا چې زما نافرماني وکړه، هغه د الله تعالی نافرماني وکړه او چا چې زما د امیر نا فرماني وکړه، هغه زما نافرماني وکړه.

همدارنګه د ابوهریره رضی الله عنه په یوه بل روایت کې هم راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: عليكَ السَّمع والطاعة في عُسرِك ويُسرِك ومنْشَطِك ومكْرَهِك وأثرة عليك. (مسلم)

ژباړه: تاسو به په هر حال د امير اطاعت کوئ که تکليف وي او که راحت، که خوښ ياست او که نا خوښ، که څه هم پر تاسو بل څوک غوره شوی وي.

د فتح الملهم په تکمله کي د (اثرة...) په تشريح کي دا سې ليکلي: که څه هم بل چا ته تر تا زيات امتيازات، بخښښونه او نور ورکړل شي، مقصد دا چې اطاعت د دې په وجه پرېښودل نه دي روا، چې امير خپلو مأمورينو ته په امتيازاتو او امکاناتو ورکولو کې عدالت نه کوي او يوه ته تر بل زيات څه ورکوي.

حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي: إن خليلي أوصاني أن أسمع وأطيع وإن كان عبدا مجدع الأطراف (رواه مسلم) ژباړه: زما دوست (محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم) ما ته وصيت فرمايلی، چې د خپل امير اطاعت به کوم که څه هم هغه داسې مريی وي، چې مقطوع الاطراف وي (يعنی ډير ناڅيزه څوک هم وي)

تنبيه: که د مجاهدينو امير کمزوری دني النسب (ټيټ ذاتی) وي هم يې اطاعت لازم دی.

د امير اطاعت د امتيازاتو په شرط ناروا دی

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايل: «تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الخَمِيصَةِ إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ، تَعِسَ وَانْتَكَسَ وَإِذَا شِيكَ فَلاَ انْتَقَشَ، طُوبَى لِعَبْدٍ آخِذٍ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَشْعَثَ رَأْسُهُ، مُغْبَرَّةٍ قَدَمَاهُ، إِنْ كَانَ فِي الحِرَاسَةِ،

كَانَ فِي الحِرَاسَةِ وَإِنْ كَانَ فِي السَّاقَةِ كَانَ فِي السَّاقَةِ، إِنِ اسْتَأْذَنَ لَمْ يُؤْذَنْ لَهُ وَإِنْ شَفَعَ لَمْ يُشَفَّعْ» (بخاري، رقم: ۲۸۸۷)

ژباړه: بدمرغه دی د دینار او درهم مریی، همدارنګه د ښو جامو او ښو فرشونو مریی، هغه ته که څوک څه ورکوي نو خوښ وي او که یې نه ورکوي نو په قهر وي، بې برخې او محروم دی که اغزی یې تر بدن شي د مرستې څوک نشي موندلای او ایستلای یې هم نشي، نیکمرغي او بشارت دی هغه چاته، چې د الله تعالي په لار کې یې د آس ملونې نیولې وې سپېرې پښې، ببر سر، که یې په څارو ګومارې نو پیره کوي، که یې د لښکر وروستۍ برخې ته استوې، هلته ځي، که اجازه وغواړي نه ورکول کیږي او که د چا سپارښتنه کوي هغه هم نه منل کیږي، یعني چې څوک د دنیا د اسبابو حریص وي داسې چې که څېري شی ورکول کیږي نو خوشحال وي، کنه نو په غوسه وي، دغه کس هلاک دی، څوک دې هیڅ مرسته نه کوي.

د الله په نافرماني کې د امیر اطاعت نشته

علي رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ، إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ». (مسلم رقم ۱۸٤۰)
ژباړه: په هیڅ هغه شي کې چې د الله نافرماني وي د بشر اطاعت نشته، (ځکه) اطاعت په روا کارونو کې دی.

د اطاعت يوه ګټه داده، چې د مسلمانانو اتحاد او يووالی تامينوي، ځکه چې که مسلمانان سره يو نه وي نو هر يو به په مفاسدو اخته وي. بله ګټه يې داده، چې په دې سره د مسلمانانو غلبه راځي او په د ښمنانو لاس بري کېږي.

په امام او مسئولينو بايد نېک ګومان ولرئ

ټول عامه ولس او په ځانګړې توګه مجاهدينو ته په کار دي چې په امير او نورو مسئولينو نېک ګومان ولري او د هغوی کړه وړه په فاسد تأويل سره ونه ارزوي، بلکې تر خپله وسه دې د دوی کړنې په سم لوري توجيه کوي، الله تعالی فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ. (الحجرات ١٢)

ژباړه: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! تاسو له ډېرو (بدو) ګمانونو څخه ځان وساتئ، بېشکه ځينې ګومانونه ګناه وي، پټ عيبونه مه لټوئ او ځينې ستاسو د ځينو نورو غيبت مه کوئ، ايا په تاسو کې يو څوک دا خوښوي چې د خپل مړه ورور غوښه وخوري؟ تاسو دغه (خوراک) بد ګڼئ، نو له الله تعالی څخه ووېرېږئ، بېشکه الله ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی دی.

امام قرطبي وايي: معنی دا چې که د دوی کارونه په ظاهره تاسو ته د خير ښکاري، نو بيا د خير په خلګو بد ګوماني مه کوئ. حضرت ابو هريره رضی الله عنه روايت کوي چې

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الحَدِيثِ وَلاَ تَحَسَّسُوا وَلاَ تَجَسَّسُوا وَلاَ تَحَاسَدُوا وَلاَ تَدَابَرُوا وَلاَ تَبَاغَضُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا». (رواه البخاري ٦٠٦٤)

ژباړه: له بد ګومانۍ څخه ځان وساتئ (ځکه) بد ګوماني د دروا غو تر ټولو ناوړه ډول دی د عوراتو يعني عيبونو پلټنې مه کوئ، د خلکو اسرار مه لوټوئ، د ضد سيالۍ مه کوئ، يو له بله کينې مه پالئ، يو له بله خفګان مه کوئ، بغض او عداوت مه کوئ او د الله تعالى (رښتيني) عبادت کوونکي شئ، په داسې حال کې چې ترمنځ مو وروري قائمه وي څنګه چې در ته امر شوی دی.

قرطبي ليکي: الظن هُنَا وَفِي الْآيَةِ هُوَ التُّهْمَةُ وَمَحَلُّ التَّحْذِيرِ وَالنَّهْيِ إِنَّمَا هُوَ تُهْمَةٌ لَا سَبَبَ لَهَا يُوجِبُهَا، كَمَنْ يُتَّهَمُ بِالْفَاحِشَةِ أَوْ بِشُرْبِ الْخَمْرِ مَثَلًا وَلَمْ يَظْهَرْ عَلَيْهِ مَا يَقْتَضِي ذَلِكَ وَدَلِيلُ كَوْنِ الظَّنِّ هُنَا بمعنى التهمة قوله تَعَالَى: "وَلا تَجَسَّسُوا" وَذَلِكَ أَنَّهُ قَدْ يَقَعُ لَهُ خَاطِرُ التُّهْمَةِ ابْتِدَاءً وَيُرِيدُ أَنْ يَتَجَسَّسَ خبر ذلك ويبحث عنه ويتبصر ويستمع لتحقق مَا وَقَعَ لَهُ مِنْ تِلْكَ التُّهْمَةِ، فَنَهَى النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ وَإِنْ شِئْتَ قُلْتَ: وَالَّذِي يُمَيِّزُ الظُّنُونَ الَّتِي يَجِبُ اجْتِنَابُهَا عَمَّا سِوَاهَا، أَنَّ كُلَّ مَا لَمْ تُعْرَفْ لَهُ أَمَارَةٌ صَحِيحَةٌ وَسَبَبٌ ظَاهِرٌ كان حراما واجب الاجتناب وَذَلِكَ إِذَا كَانَ الْمَظْنُونُ بِهِ مِمَّنْ شُوهِدَ مِنْهُ السَّتْرَ وَالصَّلَاحَ.

ژباړه: ګومان دلته او په آيت شريف کې د تهمت په معنا دی، ممانعت له دې شوی چې بې ځايه تهمت مه لګوئ، مثلا يو څوک په زنا يا شراب څښلو متهم کړئ، مګر په

هغه باندې د دغه تهمت هیڅ اثار هم نه وي، د دې دلیل چې ظن دلته د تهمت په معنی دی: دا قول د الله تعالی دی "لاتجسسوا" ځکه کله پریو چا د سړي په زړه کې تهمت پیدا سي بیا یې تحقیق او تجسس کوي پلټنه یې کوي، د لیدلو او اوریدلو کوښښ یې کوي، ترڅو دا تهمت پرې ثابت کړي، د دغه قسم تهمت څخه رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ منع کړې ده او هغه (ظن) چې کول یې حرام دي، دا دی چې تاسو د هغه ظاهري سبب او نښې نښانې نه وینئ او هغه څوک هم چې تاسو ورباندې بد ګومان کوئ اهل خیر وي، یعني ښه کارونه کوي او امانت کار وي نو دغه تهمت حرام او واجب الاجتناب دی.

د بدګومانۍ زیانونه

بد ګوماني ډېر زیانونه لري: لومړی دا، چې په آیت شریف کې ذکر شو چې (إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ) یعني ځیني ګومانونه داسې ګناه ده چې د جزا وړ وي، لکه په ښو خلکو او مومنانو بد ګوماني کول.

دوهم دا، چې بد ګوماني عداوت پیدا کوي او د نږدې خلکو ترمنځ د اوږدې فاصلې سبب کیږي. دریم، که چیري په آمرانو بد ګوماني وشي نو ضرور خبره تر عدم اطاعت پورې رسیږي.

تــواضــع

راغب اصفهاني د تواضع د معنا په هکله لیکي: تواضع د انسان لپاره په هغه مرتبه رضا کېدلو ته وايي چې د ده له استحقاق څخه ټیټه وي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَاخفِض جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ المُؤمِنِينَ (الشعراء ۲۱۵) ژباړه: او ته خپل وزر ښکته کړه (په تواضع او رحمت سره نرم اوسه) د هغه چا لپاره چې ستا پیروي یې کړې ده، چې مومنان دي.

ملا علي قاري رحمه الله وايي، چې ټول حاکمان په دغه امر کې شامل دي، نو د هر حاکم امیر د پاره ښايي چې د خپل ما تحت خلګو سره تواضع او نرمي وکړي او رسول الله صَلَّىٰ ٱللَّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ فرمايي: التواضع لايزيد الا رفعة، فتواضعوا يرفعكم الله. (كنزالعمال) ژباړه: تواضع سړي ته لوړتیا وربښي، نو تواضع کوئ چې الله مو لوړ کړي.

حضرت ابوهريره رضی الله روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ وَمَا زَادَ الله عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ الله. (ترمذي، رقم: ۲۰۲۹)

ژباړه: صدقه له مال څخه څه نه کموي او الله تعالی بنده ته په عفوه سره نه ورزیاتوي مګر عزت او هرڅوک چې د الله تعالی لپاره تواضع وکړي الله به یې لوړ کړي.

دغه رنګه ابو هریرة رضی الله عنه په بل روایت کې فرمايي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل: طوبی لمن تواضع فی غیرمنقصة. (الطبراني في مكارم الاخلاق، رقم :۱۷) نیکمرغي او زیری دی د هغه چا لپاره چې له ذلت او پستي قبلولو پرته تواضع وکړي

قال المناوي في تفسير هذا الحديث بان لايضع نفسه بمكان يزري به ويؤدي الى تضييع حق الحق فان القصد بالتواضع خفض الجناح للمؤمنين.
المناوي د دغه حدیث په شرح کې وايي: تواضع دا نه ده، چې یو څوک ځان حقیر او سپک کړي او یا دې تواضع د ذی حقه د حق د ضائع کېدلو لامل شي، مقصود له تواضع څخه دا ده، چې د مومنانو لپاره وزر ښکته کړای شي او له هغوی سره نرمي او ښه چلند وکړای شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم مقداد رضی الله عنه په یوه سریه امیر مقرر کړ، کله چې بېرته راستانه شول، رسول الله علیه السلام ورڅخه وپوښتل: امارت څنګه و؟ مقداد رضی الله عنه په ځواب کې ورته وویل: اې د الله رسوله! کله چې روان شوو ما داسې نه انګېرله چې زه تر چا غوره او بهتریم، خو بېرته داسې راستون شوم لکه چې ټول زما مریيان وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: امارت همداسې وي. دا روایت ابو نعیم کړی دی. یعنی امارت او مشري په سړي کې غرور او لويي پیدا کوي، نو په دغه حال کې، چې یو څوک امیر وي باید تواضع او عاجزي وکړي او که یو څوک په دغه حالت کې تواضع وکړي، نو دا واقعي تواضع ده، تواضع تر هر چا زیات له امیرانو سره مناسبه ده، ځکه هغوی ته خلک اړ وي او

په هغوی خپل لاندې کسان راټول وي، نو که دوی له مومنانو سره ناوړه چلند او په هغوی سختي کوي، نو بیا به خلک له دوی څخه خپلې اړتیاوې نشي پوره کولای، نو مصالح ځنډيږي او نه به هم خپل ماتحت کسان ورسره ګوزاره کولای شي، او یو والی یې ترمنځ نه پاته کیږي.

ابن حبان رحمه الله وايي: تواضع دوه ډوله ده، یوه یې ښه او بله یې بده او ناسمه تواضع ده، ښه یې داده چې په خلکو ځان لوړ و نه ګڼې او ناروا یې دا چې د دشتمن سړي په وړاندې د دې لپاره تواضع وشي چې له دنیا څخه یې برخمن شي. (روضة العقلاء)

دتواضع ګټې:

۱: کله چې امیر له رعیت سره تواضع کوي، نو د دوی محبت لاس ته راوړي.

۲: تواضع د رب العالمین د محبت دلیل ده.

۳: په تواضع سره د الله تعالی نصرت حاصلیږي.

۴: په تواضع سره په مال او عمر کې برکت راځي.

تواضع او سلف صالحين

وعن عروة بن الزُّبير رضي الله عنهما قال: (رأيت عمر بن الخطَّاب رضي الله عنه وعلى عاتقه قربة ماء، فقلت: يا أمير المؤمنين! لا ينبغي لك هذا، فقال:

لما أتاني الوفود سامعين مطيعين دَخَلَت نفسي نخوة فأردت أن أكسرها. (الرسالة القشيرية)

ژباړه: عروه بن زبير رضی الله عنهما روايت کوي چې يوه ورځ مې دوهم خليفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په داسې حال کې وليد چې د اوبو ژی يې په اوږه و، ما ورته وويل: اميرالمؤمنينه! له تا سره دا نه ښايي. عمرفاروق راته وويل: کله چې ماته د خلکو وفدونه په داسې حال کې راغلل چې منونکي او اورېدونکي وو، نو نفس مې يو څه غټ شو نو مې اراده وکړه چې بيرته يې مات کړم.

عن عائشة رضي الله عنها، قالت: «إِنَّكم لتغفلون أفضل العبادة: التَّواضُع». (رواه النسائي فی سنن الکبری) ژباړه: روايت دی چې حضرت عائشې رضی الله عنها وفرمايل: تاسو له أفضل عبادت څخه غافل ياست چې هغه تواضع ده.

كان عند عمر بن عبد العزيز قوم ذات ليلة في بعض ما يحتاج إليه، فغشي سراجه، فقام إليه فأصلحه، فقيل له: يا أمير المؤمنين! ألا نكفيك؟ قال: وما ضرَّني؟ قمت وأنا عمر بن عبد العزيز ورجعت وأنا عمر بن عبد العزيز. (سيرة عمر بن عبدالعزيز لابن عبدالحكم)

ژباړه: يوه شپه چې د ځينې ضروري خبرو په اړه د اميرالمؤمنين عمر بن عبدالعزيز په مجلس کې خلک ناست و نو د مجلس څراغ کمزوری شو يعني ګُل کېدو ته قريب شو، اميرالمؤمنين عمر بن عبدالعزيز خپله ورولاړ شو او څراغ يې سم کړ. په خلکو کې يو چا وويل: أميرالمؤمنينه! آيا موږ کافي نه يو؟ يعني موږ دا

ځراغ سمولی شوای! امیرالمؤمنین ځواب ورکړ: ما ته څه تاوان رسیدلی چې ولاړ شوم هم عمر بن عبدالعزیز وم او چې بیرته راوګرځیدم هم عمر بن عبدالعزیز یم.

وقال قتادة: «مَن أُعْطِي مالًا أو جمالًا وثيابًا وعلمًا، ثمَّ لم يتواضع، كان عليه وبالًا يوم القيامة» (التواضع و الخمول لابن أبى الدنيا). حضرت قتاده رحمه الله وایي: چا ته چې د الله تعالی له طرفه مال، ښایست، ښې جامې او علم ورکړ شوی وي او تواضع نه کوي نو دا به د قیامت په ورځ دده لپاره پیټی (درونډ بار) وي.

په التواضع و الخمول کتاب کې لیکلي چې حسن بصري صاحب د تواضع معنی داسې کړې: «التواضع أن تخرج من منزلك ولا تلقى مسلما إلا رأيت له عليك فضلا»، : تواضع داده چې له کوره ووځې او له هر مسلمان سره چې مخ کیږې هغه پرځان غوره درته ښکاره شي.

قال عمرو بن القيس الملائى: ثلاث من رءوس التواضع: أن تبدأ بالسلام على من لقيت وأن ترضى بالمجلس الدون من الشرف وأن لا تحب الرياء والسمعة والمدحة في عمل الله. (التواضع و الخمول)

ژباړه: عمرو بن القيس وایي، چې درې شیان د تواضع مهم امور دي: دا چې له چا سره د مخامخ کیدو په مهال وړاندې اول سلام اداء کړې او د اشرافو او جاه لرونکو په نسبت د غریبو خلکو په مجلس راضي اوسې او بل دا چې په دیني عمل کې ریاء، سمعت او ستاینه خوښه نکړې.

اميـرانـو او واكمنانـو تـه نصـيحت

(١) له نېكوخلكو سره ناسته ولاړه :

اميرانو او نورو واكمنانو ته په كار ده چې له علماوو او صالحانو سره ناسته ولاړه ولري له هغوی سره مشوره وكړي او نصيحت ته يې غوږ ونيسي، همدغه د پخوانيو نيكانو واكمنو دستور وو.

إِنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ لَمَّا وَلِيَ الْخِلَافَةَ دَعَا سَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللهِ وَمُحَمَّـدَ بْـنَ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ ورجاء بن حيوة فقال لهم: قَدِ ابْتُلِيتُ بِهَـذَا الْبَـلَاءِ فَأَشِيرُواعَلَيَّ. فَقَالَ لَهُ سَالِمُ بْنُ عَبْـدِ اللهِ: إِنْ أَرَدْتَ النَّجَـاةَ مِـنْ عَـذَابِ اللهِ فَصُـمْ عَـنِ الدُّنْيَـا وَلْيَكُنْ إِفْطَارُكَ مِنْهَا الْمَوْتَ.

وَقَالَ لَهُ مُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ: إِنْ أَرَدْتَ النَّجَـاةَ مِـنْ عَـذَابِ اللهِ فَلْـيَكُنْ كَبِـيرُ الْمُسْلِمِينَ عِنْدَكَ أَبًا وَأَوْسَطُهُمْ عِنْدَكَ أَخًا وَأَصْغَرُهُمْ عِنْدَكَ وَلَدًا فَوَقِّرْ أَبَاكَ وَأَكْـرِمْ أَخَاكَ وَتَحَنَّنْ عَلَى وَلَدِكَ.

وَقَالَ لَهُ رَجَاءُ بْنُ حَيْوَةَ: إِنْ أَرَدْتَ النَّجَاةَ مِنْ عَذَابِ اللهِ فَأَحِـبَّ لِلْمُسْـلِمِينَ مَـا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ وَاكْرَهْ لَهُمْ مَا تَكْرَهُ لِنَفْسِكَ ثُمَّ مُتْ إِذَا شِئْتَ. (التوابين لابن قدامة)

ژباړه: كله چې عمر بن عبدالعزيز رحمه الله خليفه وټاكل شو نو د وخت لوی صالحان سالم بن عبد الله، محمد بن كعب او رجاء بن حيوة رحمهم الله يې

راوغوښتل او ورته ويې ويل: زه په دې ازموينښت کې راغلی يم تاسو مشوره راکړئ چې زه څه وکړم؟

سالم بن عبد الله ورته وويل: که ته غواړې چې نجات پيدا کړې نو له دنيا څخه داسې روژه ونيسه چې افطار يې ستا مرګ وي!

محمد بن کعب ورته وويل: که د الله تعالی له عذابه نجات غواړې نو د مسلمانانو مشر داسې وګڼه لکه خپل پلار او ځوان يې لکه خپل ورور او کشر يې لکه خپل زوی، د پلار احترام کوه، له ورور سره نيکي کوه او په زوی دې شفقت کوه!

رجاء بن حيوة ورته وويل: که د سبا ورځې نجات غواړې نو د مسلمانانو لپاره هغه څه غوره کړه چې د ځان لپاره يې غوره کوې او د دوی لپاره هغه نا خوښه وګڼه چې د ځان لپاره يې نا خوښه ګڼې، بيا دې چې هر وخت خوښه شي ومره!

امير ته نه ده روا چې له خپلو خپلوانو يو څوک چې د کار اهل نه وي او يا بل څوک تر ده اهل وي په کار وګوماري، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "من ولي ذا قرابة محاباة وهو يجد خيرا منه لم يجد رائحة الجنة". (ابن عساكر عن أبي بكر) كنز العمال، رقم: ١٤٧٥٢.

ژباړه: د هغه چا به د جنت بوی هم تر سپوږمو نشي څوک چې د خپلوي په خاطر خپلوان په کار ګوماري په داسې حال کې چې تر هغه اهل بل څوک هم وي.

بل ځای فرمايي: "من استعمل عاملا من المسلمين وهو يعلم أن فيهم أولى بذلك منه وأعلم بكتاب الله وسنة نبيه فقد خان الله ورسوله وجميع المسلمين".

(عن ابن عباس) كنز العمال، رقم: ١٤٩١٩). ژباړه: که امیر په مسلمانانو یو ځوک مقرر کړ او پوهیده چې ترده اهل او په قرآن او سنت پوه بل ځوک هم شته، نو دغه امیر له الله تعالی، رسول صلی الله علیه وسلم او ټولو مسلمانانو سره خیانت وکړ.

همدا راز عمر رضی الله عنه وايي، عن عمر قال: من استعمل فاجرا وهو يعلم أنه فاجر فهو مثله. (كنز العمال، رقم:١٤٣٠٦) ژباړه: که يو ځوک فاجر سړی په وظيفه مقرر کړي او په فجوريي علم هم ولري نو مقررونکی هم دهغه په شان فاجر دی.

(٢) دراز ساتنه

امیرانو ته په کار ده چې خپل سِر او راز پټ وساتي، حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه روایت کوي، چې كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَلَّمَا يُرِيدُ غَزْوَةً يَغْزُوهَا إِلَّا وَرَّى بِغَيْرِهَا. (بخاري، ٢٩٤٧)

ژباړه: رسول الله علیه السلام به ډېر ځله چې د کومې غزا اراده لرله نو خلکو ته به یې بل لوری په نظر ورکاوه، یعني نبی علیه السلام دا کار ځکه کاوه، تر څو د جګړې لوري ته د تګ راز پټ وساتل شي، چې هسې نه، د مسلمانانو د تګ لوری دښمنانو ته څرګند شي او هغوی په لاره کې مسلمانانو ته تکلیف ورسوي، د هر هغه څه په څرګندېدلو کې چې د مسلمانانو زیان وي، هغه باید پټ وساتل شي.

ماوردي روایت کوي: قال علي بن أبي طالب رضي الله عنه: «سرُّك أسيرك، فإن تكلمت به، صرت أسيره».

ژباړه: حضرت علي رضی الله عنه وفرمایل، چې ستا راز ستا بندي دی، که دې تکلم ورباندې وکړ او افشاء دې کړ نو ته به یې بندي شې! یعني بیا به د همدغه راز د افشاء له وجې تا ته مسؤلیت متوجه وي.

ماوردي وايي: د راز ساتنه د کامیابۍ تر ټولو لوی سبب او د سمون او اصلاح وسیله ده.

ابن حبان وايي: که چا خپل راز پټ وساتی تدبیر یې پوخ او بری یې حتمي دی.

قال عمر بن عبد العزيز رضي الله عنه: (القلوب أوعية الأسرار والشفاه أقفالها والألسن مفاتيحها فليحفظ كلُّ امرئ مفتاح سرِّه. (أدب الدنيا و الدين للماوردى) عمر بن عبد العزيز رحمه الله وايي: زړونه د اسرارو لوښي دي، شونډې یې قلفونه او ژبې یې کلیانې دي، په هر چا لازمه ده چې د رازونو خلاصوونکې کلیانې وساتي، یعني ژبې د رازونو له افشاء څخه محفوظې کړي.

د مجاهدينو حفاظت د راز په ساتنه کې نغښتی دی، نو امیر ته په کار ده چې له هغه ملګري سره مشوره وکړي چې رازونه ساتي.

(۳) د مجاهدینو او شهیدانو په کورنیو پاملرنه

امیرانو او موظفینو ته په کار ده چې تر خپله وسه د مجاهدینو د کورنیو اړتیاوې پوره او په ځانګړې توګه د هغو ملګرو د کونډو او یتیمانو غم وخوري چې شهیدان شوي دي.

حضرت بریده رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِينَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِينَ فِي أَهْلِهِ فَيَخُونُهُ فِيهِمْ إِلَّا وُقِفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيَأْخُذُ مِنْ عَمَلِهِ مَا شَاءَ، فَمَا ظَنُّكُمْ؟»

ژباړه: د مجاهدینو د مېرمنو حرمت په ناستو کسانو باندې د خپلو مېندو د حرمت په څېر دی، که له جهاد څخه یو ناست تن د یوه مجاهد د کور ساتنه کوي او بیا د هغه له اهل سره خیانت وکړي د قیامت په ورځ به د مجاهد لپاره ودرول شي او د خائن له نېکو اعمالو څخه به څومره چې یې خوښه شي واخلي، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته وکتل او ویې فرمایل: تاسو څه ګومان کوئ؟

«حرمة نساء المجاهدین» یعنی د مجاهدینو میرمنو ته په بد نظر کتل، یا بدې خبرې داسې حرامې دي لکه خپلې مورته او یا دا چې له حرمت نه مراد د هغوی احترام او له هغوی سره احسان او نیکي کول او اړتیاوې یې ور پوره کول دي، چې دا له جهاد څخه په ناستو کسانو داسې لازم دي لکه د خپلو میندو احترام چې پرې لازم

دی، «فماظنکم؟» تاسو څه ګومان کوئ چې څومره نيکي به ځني واخلي؟ معنا دا چې ټولې نيکۍ به ترې واخلي.

امام قرطبي وايي: دغه حديث په دې دلالت کوي چې د غازي په اهل کې خيانت تر نورو خيانتونو ستر دی، ځکه چې په نورو خيانتونو کې خيانت کړی شوي (مخون) لپاره دا اختيار نشته چې د خائن له نيکيو څخه څومره چې غواړي هغومره واخلي، بلکې يوازې د خيانت په اندازه نيکي اخيستلای شي، خو دلته چې دا مجاهد د خائن څومره نيکۍ اخلي، هغومره اخيستلی شي.

حضرت أنس رضی الله عنه فرمايي: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَدْخُلُ بَيْتًا بِالْمَدِينَةِ غَيْرَ بَيْتِ أُمِّ سُلَيْمٍ إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِ فَقِيلَ لَهُ، فَقَالَ: «إِنِّي أَرْحَمُهَا قُتِلَ أَخُوهَا مَعِي».

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم به په مدينه منوره کې د ام سليم رضي الله عنها له کوره پرته د بل هيچا کورته نه ننوت، چا ترې (هلته د ډير ورتلو) پوښتنه وکړه، نو نبی عليه السلام په جواب کې وفرمايل: په هغې مې زړه سوځي ځکه چې د هغې ورور له ما سره شهيد شوی دی، أم سليم رضي الله عنها د رسول الله صلی الله عليه وسلم رضاعي خاله وه او ورورېې حرام بن ملحان د بئر معونة په واقعه کې شهيد شوی و.

نو امير ته لازمه ده چې د خپلو لښکرو او د هغوی د اولادونو او کورونو احوال پرسي وکړي او د هغوی اړتياوې ورته پوره کړي، څوک چې دده تر امر لاندې شهيد

شوی وي، تر خپله توانه د هغو د اولادونو تکفل وربانديې واجب دی، دغه کړنلاره له جهاد سره د مجاهدينو رغبت زياتوي او د الله تعالی په لاره کې خپل سرونه قربانول ورته اسانه کوي.

دقوم پالنې بدوالی

الله تعالی فرمايي: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ». (الحجرات ۱۳)

ژباړه: اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او يوې ښځې پيدا کړي ياست او تاسو مو برخې برخې او قبيلې ګرځولي ياست، د دې لپاره چې يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نزد په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی.

معنا دا، چې په قومونو او قبيلو ويشل د دې لپاره دي تر څو د ميراث او ديت پېژندنه وشي، نه دا چې يو په بل باندې عزتمن وبلل شي، ځکه تر ټولو عزتمن هغه څوک دی چې په تقوی کې لوړ وي، نو په پلرونو، نيکونو، قومونو او قبيلو فخر کول ناسم کار دی.

حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ان أَنْسَابَكُمْ هَذِهِ لَيْسَتْ بِمَسَبَّةٍ عَلَى أَحدٍ، كُلُّكُمْ بَنُو آدَمَ، طَفُّ

الصَّاعِ لَمْ تَمْلَئُوهُ، لَيْسَ لِأَحَدٍ عَلَى أَحَدٍ فَضْلٌ إِلَّا بِدِينٍ أَوْ تَقْوَى وَكَفَى بِالرَّجُلِ أَنْ يَكُونَ بَذِيًّا بَخِيلًا فَاحِشًا» (احمد:١٧٤٤٦)

ژباړه: دغه ستاسو نسبونه هیڅ یو پیغور او سپکاوي لامل نشي ګرځېدلی تاسو ټول د آدم اولاده یاست، داسې یاست لکه خالي پیمانې چې ډکې کړې مو نه وي. هیڅ یوه لره په بل بهتري نشته، مګر په دیانت او تقوی سره ، د یوه انسان د بدي لپاره د هغه عبث ګویي، بخل او بد ردویل بس دي.

امام زهري وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ما دَخَلَ فِي رَجُلٍ مِنَ الْعَصَبِيَّةِ شَيْءٌ إِلَّا خَرَجَ مِنْهُ مِنَ الْإِيمَانِ مِثْلَ مَا دَخَلَ فِيهِ مِنَ الْعَصَبِيَّةِ». (ابوداوود في مراسله٤٨٠)

ژباړه: په یو چا کې چې څومره عصبیت (قومپالنه) پیدا کیږي په همدومره اندازه ترې ایمان وځي .

له بنت واثلة بن الاسقع څخه روایت دی: أَنَّهَا سَمِعَتْ أَبَاهَا، يَقُولُ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! مَا الْعَصَبِيَّةُ؟ قَالَ: «أَنْ تُعِينَ قَوْمَكَ عَلَى الظُّلْمِ». (ابوداود، رقم: ٥١١٩)

ژباړه: د واثلة لور له خپله پلاره وايي چې ویل یې: ما له رسول الله علیه السلام څخه پوښتنه وکړه، چې عصبیت څه شی دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: چې په ظلم کې د خپل قوم ملاتړ وکړې. (ابوداود : ٥١١٩)

د عبد الله بن مسعود زوی عبد الرحمن رضی الله عنهم له خپله پلاره روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: من نَصَرَ قَوْمَهُ عَلَى غَيْرِ الْحَقِّ، فَهُوَ كَالْبَعِيرِ الَّذِي رُدِّيَ، فَهُوَ يُنْزَعُ بِذَنَبِهِ». (ابوداود: ۵۱۱۷)

ژباړه: څوک چې په باطله لارکې د خپل قوم او ټبر ملاتړ کوي د هغه اوښ په شان دی چې په کندې یا کوهي کې لوېدلی وي او تر لکۍ را کش کول کیږي، معنا دا، چې ځان داسې هلاکوي لکه هغه اوښ چې په کوهي کې ولوېږي تر لکۍ راکشول کیږي، ځکه دا د اوښ نجات نشي تضمینولای چې د لکۍ په را کشولو دې له کوهي را بهر او وژغورل شي، نو دغه کس هم نجات نشي موندلی.

همغږي او یووالی

مجاهدینو ته لازمه ده چې په خپلو کارو کې متحد واوسي، یووالی مراعات کړي او خپل نظم وساتي.

الله تعالی فرمایي: وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ الله جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ الله عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ الله لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (آل عمران ۱۰۳)

ژباړه: او تاسو د الله په رسۍ (تړول) په جمع سره منګولې ولګوئ او سره بیلېږئ مه، د الله (هغه) نعمتونه در یاد کړئ چې پر تاسو باندې شوي دي، کله چې تاسو د ښمنان وئ، بیا الله تعالی ستاسو د زړونو تر مینځ جوړښت راوست، نو د

هغه په (دې) نعمت سره تاسو ورونه شوئ او تاسو له اور نه د ډکې کندې په غاړه واست، تاسو يې له هغه نه وژغورلاست، همدا رنګه الله تعالی تاسو ته خپل آيتونه بيانوي، د دې لپاره چې تاسو نېغه لار وموموئ.

مجاهدين بايد په هيڅ يوه کار کې اختلاف ونکړي، خو که اختلاف راتلونودا به يا په شرعي کار کې وي يا په سياسي امورو کې، نو دوی بايد په شرعي امورو کې علماء کرامو او په سياسي چارو کې خپلو اميرانو ته رجوع وکړي، لکه چې الله تعالی فرمايي: وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ. (النحل: ٤٣)

ژباړه: او مونږ له تا نه مخکې نه دي لېږلي مګر سړي، چې مونږ هغوی ته وحي کوله، نو تاسو د علم له خاوندانو پوښتنه وکړئ که چېرې په څه نه پوهېږئ.

دغه رنګه يو بل ځای الله جل جلاله فرمايي:

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا الله وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُوْلِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى الله وَالرَّسُولِ إِنْ كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِالله وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا. (النساء ٥٩)

ژباړه: اې د ايمان خاوندانو! د الله تعالی او د رسول صلی الله عليه وسلم خبره منئ او د هغو هم چې په تاسو اميران ټاکل شوي دي، که چېرې ستاسو په خپل منځ کې په يو شي باندې جګړه راغله، نو هغه (شی) الله او د هغه رسول ته راجع کړئ، که

په الله او په ورځ د آخرت ایمان لرونکي یاست، دا (کار) ډېر غوره دی او د انجام په لحاظ ډېر ښه دی.

د مجاهدینو ترمنځ اختلاف د دوی قوت او هیبت له منځه وړي او هغه وېره چې له دوی څخه د دښمن په زړه کې پیدا ده ختموي، لکه چې الله تعالی فرمایي: وَأَطِيعُوا اللَّه وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّه مَعَ الصَّابِرِينَ. (الانفال ٤٦)

ژباړه: او تاسو د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ، په خپل مینځ کې جګړه مه کوئ (ګنې) نو بې زړه به شئ او ستاسو زور به لاړ شي او صبر کوئ، بېشکه الله د صبر کوونکو ملګری دی.

دولس د حقوقو ساتنه

په هر امیر لازمه ده چې د ولس او رعیت د حقونو ساتنه وکړي.

له حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل: كُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالْإِمَامُ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ فِي أَهْلِهِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالْمَرْأَةُ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا رَاعِيَةٌ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا وَالْخَادِمُ فِي مَالِ سَيِّدِهِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِه. (بخاري، رقم: ٥١٨٨)

ژباړه: هر یو ستاسې شپون دی او د خپل رعیت پوښتنه به ترې کېږي، امام شپون دی د رعیت په اړه به پوښتنه ترې کېږي، سړی د خپل اهل شپون دی د اهل په

باره کې به پوښتنه ترې کېږي، ښځه د مېړه په کور کې شپنه ده او د خپل کور او څه چې په دې کور کې دي د هغو په اړه به ترې پوښتنه کېږي، خادم د خپل بادار په مال کې شپون دی او په دې اړه به ترې پوښتنه کېږي.

بل ځای ام المؤمنين عائشة صديقه رضي الله عنها روايت کوي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې واورېدل: « اللّٰهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهِ ». (رواه مسلم: ١٨٢٨)

ژباړه: يا الله! چا ته چې زما د امت چارې وسپارل شي او دوی ورسره سختي وکړي، الهي ته هم له هغه سره سختي وکړې او چا ته چې زما د امت چارې وسپارلي شي او هغوی ورسره نرمي وکړي، الهي ته هم ورسره نرمي وکړې.

ابو مريم ازدی وايي، چې زه معاويه رضي الله عنه ته ورغلم نو ده رانه پوښتنه وکړه ما ورته وويل: يو حديث شريف مې اورېدلی، هغه به درته ووايم، ما له رسول الله څخه اوريدلي دي: «من ولاه الله شيئا من امرالمسلمين فاحتجب دون حاجتهم وخلتهم وفقرهم احتجب الله عنه دون حاجته وخلته وفقره» قال: فجعل رجل على حوائج الناس. (ابوداود، رقم: ٢٩٤٨)

ژباړه: يو چا ته چې الله تعالی د مسلمانانو د چارو واکې وسپارې او هغه بيا د دوی پر مخ دروازې وتړي او حاجتونه يې نه پوره کوي، نو الله تعالی به هم د دوی په وړاندې خپلې دروازې وتړي او حاجتونه به يې نه ترسره کوي، ابو مريم وايي، چې

معاویه رضي الله عنه سمدستي یو سړی د خلکو د حاجتونو د پوره کولو (د سمع شکایات) لپاره مقرر کړ.

نو امیرانو ته په کار ده چې له خلکو څخه ځانونه پټ نه کړي، بلکې د دوی د حال احوال پوښتنه وکړي، د مظلوم لاس نیوی وکړي او د ظالم لاس لنډ کړي.

لکه د حضرت انس رضی الله عنه په روایت کې چې راځي و ایې رسول الله علیه السلام وفرمایل: انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا. (رواه البخاري، ٢٤٤٣) ژباړه: دخپل ورور مرسته وکړه که ظالم وي او که مظلوم، یعنی، د ظالم مرسته دا ده، چې له ظلم څخه یې را وګرځوي.

د امارت کارکوونکي باید د هر چا خبره د بل چا د جرم او جنایت په هکله ونه مني، ځکه کېدای شي د هغوی تر منځ پخوانی عداوت وي، بلکې په کار ده چې پخپله ښه پلټنه وکړي او یا بل امین څوک وګوماري چې حال معلوم کړي، الله تعالی فرمایي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ (الحجرات ٦)

ژباړه: اې د ایمان خاوندانو! که تاسو ته کوم فاسق (بدکار سړی) خبر راوړي، نو تاسو ښه تحقیق کوئ، په دې چې تاسو به یو قوم ته په ناخبري سره تکلیف ورسوئ، بیا به تاسو په خپلو کړو باندې پښېمانه شئ.

خلیل بن احمد وایي: څوک چې تا ته چغلي کوي هغه ستا چغلي بل ته هم کوي او څوک چې تا ته د بل چا عیب راوړي، ستا عیب هم بل چا ته وړي.

خو لکه څنګه چې په امیرانو د ولس د حقونو ساتنه لازمه ده، همداسې امیران په ولس حقونه لري، نبی علیه السلام فرمایي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « الدِّينُ النَّصِيحَةُ» . ثَلاَثَ مِرَارٍ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ لِمَنْ قَالَ « لِلَّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ». رواه ترمذی

ژباړه: له حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت شوی، چې نبی علیه السلام وویل: دین نصیحت دی، درې ځله یې دا توري وویل، هغوی (صحابه وو رضی الله عنهم) ورته وویل، اې د الله تعالی رسوله (صلی الله علیه وسلم)! د چا لپاره؟، نبی علیه السلام وویل: د الله تعالی، د هغه د کتاب، د مسلمانانو د امیرانو او عامو مسلمانانو لپاره، (دین نصیحت دی).

نصیحت هغو الفاظو ته ویل کیږي، چې د منصوح له (مخاطب) د خیر او ښېګڼې اراده پکې شوې وي، نصیحت او نصح په اصل کې د صمیمیت او خلوص په معنا سره دی، د مسلمان مشر تا به خواخوږي داده، چې په حق کې د هغوی پیروي او تابعداري وشي او که اړتیا پیښه شوه، په بشپړ ادب او درناوي هغوی د حق لوري ته راوبلل شي، علامه خطابی رحمه الله وایي، د مسلمانو مشرانو لپاره خواخوږي داده، چې په هغوی پسې لمونځ وکړئ، له هغوی سره یو ځای په جهاد کې برخه

واخلئ، هغوی ته صدقې او زکات ور ادا کړئ، د هغوی لپاره باید له الله تعالی څخه د خیر او ښېګڼې دعا وغوښتله شي، که له هغوی څخه ظلم او یا فساد څرګند شي په خلاف یې باید توره را وانه خیستلای شي، د رناوی یې باید وشي او که د الله تعالی نافرماني نه وه، د امر اطاعت یې لازم دی.

د اسلامي حکومت (خلافت او امارت) ارزښت

دهغه خلیفه او سلطان له تسلط پرته چې د اسلام په اساس ولاړوي شرعي احکامات په بشپړه توګه نشي تطبیق کېدلی، قرآن کریم د الله تعالی له لوري رالیږل شوی یو بشپړ نظام دی، چې په هغه کې د خلکو مصالح، معاملات، عقیده، جهاد، اوامر، نواهي، حدود، تربیه، امر بالمعروف، نهی عن المنکر، اخلاق، آداب او هر څه موجود دي او د دې ټولو تطبیق تر یوه داسې اسلامي حکومت پورې تړلې، چې په رأس کې یې داسې خلیفه او سلطان وي، چې هغه د الله تعالی را لیږل شوی قانون د خپل حکومت په مټ پلی او نافذ کړي.

کله چې د فرضي احکاماتو پلي کېدل تر اسلامي نظام مربوط شول، نو د اسلامي نظام راوستل فرض کیږي، د اصولو ستره قاعده ده "مالایتم الواجب الابه فهو واجب" یعنی که واجب امر تر هر څه موقوف شو، هغه موقوف علیه هم واجب ګرځي.

الله تعالی فرمایي: إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيْفَةً. [البقرة].

ژباړه: زه په ځمکه کې د خلیفه ګرځوونکی یم، یعنی په ځمکه کې خلیفه پیدا کوم. امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسیر کي د دغه آیت اړوند وایي: "هذه الآية أصلٌ في نصب إمامٍ وخليفةٍ يُسمعُ له ويطاعُ؛ لتجتمع به الكلمةُ؛ وتنفذ به أحكامُ الخليفة. ولا خلافَ في وجوب ذلك بين الأُمة ولا بين الأئمّة إلا ما روي عن الأصَمِّ- أبو بكرٍ الأصم من كبارِ المعتزلة... ودليلُنا قَوْلُ اللهِ تَعَالَى: (إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيْفَةً) وقَوْلُهُ تَعَالَى: (يَا دَاوودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَـةً فِي الاَرْضِ) وقال:

(وَعَدَ اللّهُ الّذِينَ آمَنُوا مِـنْكُمْ وَعَمِلُـوا الصّـالِحَاتِ لَيَسْـتَخْلِفَنّهُم فِي الأرض) أي يجعلُ منهم خلفاءَ، إلى غيرِ ذلك من الآيِ".

ژباړه: دغه آیت د داسې امام او خلیفه په درولو کې اصل دی، چې خبره یې واورېدل شي او اطاعت یې وشي، ترڅو د مسلمانانو یو والی پرې راشي او د خلافت احکام پرې نافذ شي، نو دي په واجب والي کې هیڅ اختلاف نشته، نه په امت او نه هم په امامانو کې، مګر یو ازې ابوبکر اصم چې له سترو معتزله وو څخه دی وایي، چې واجب نه دی.

زموږ لپاره دلیل د الله تعالی دا قول دی، چې فرمایي: زه په ځمکه کې د خلیفه رامنځته کوونکی یم، الله تعالی فرمایي: اې داوده (علیه السلام)! زه تا په ځمکه کې خلیفه ګرځوم" بل ځای " فرمایي: الله تعالی په تاسو کې له هغو کسانو سره وعده کړې چې ایمان یې راوړی او نېک اعمال یې ترسره کړي، چې دوی به خامخا په ځمکه کې خلیفه ګان (واکمنان) کړم، او همداسې نور آیتونه هم موجود دي، چې د خلافت په قیام دلیل دي.

امام قرطبی رحمه الله وایي: کله چې د خلیفه د ټاکلو په سر د انصارو او مهاجرینو ترمنځ اختلاف پېښ شو، انصارو وویل، چې زموږ څخه به هم یو امیر وي او ستاسو څخه به هم یو امیر وي، حضرت ابوبکر صدیق، عمر فاروق او مهاجرینو رضی الله عنهم بیا قناعت ورکړ، هغوی هم له خپلې خبرې وګرځېدل او د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خلافت یې اتفاق وکړ، نو که چیرته خلافت واجب نه وای، نو ولې به د خلافت

په اړه دومره مباحثه او مناظره کېدلای، ځکه یو ثوک ویلای شي، چې که خلافت واجب نه وای، نو بیا به ولې د هغوی ترمنځ په غیر واجب امر کې منازعه راتللی.

محمد عمر النسفی رحمه الله په خپل کتاب العقائد کې لیکي:

والمسلمون لا بد لهم من إمام يقوم بتنفيذ أحكامهم وإقامة حـدودهم وسـدّ ثغورهم وتجهيز جيوشهم وأخذ صدقاتهم وقهر المتغلبة المتلصصة وقطاع الطريق وإقامة الجمع والأعياد وقبول الشـهادات القائمـة على الحقـوق وتـزويج الصـغار والصغيرات الذين لا أوليـاء لهـم وقسـمة الغنـائم". ژباړه: مسلمانان باید امام ولري، چې د هغوی احکام نافذ کړي، حدود قائم کړي، پولې یې وساتي، لښکرې یې برابرې کړي، د مسلمانانو صدقات (عشر او زکات) واخلي، د ظالمانو، غاصبانو، غلو او لاري شکوونکو مخه ونیسي، د جمعو او اخترونو لمونځونه قائم کړي، د خلکو په منځ کې د جګړو مخه ونیسي، د حقوقو اړوند شهادتونه قبول کړي، د داسې وړو هلکانو او انجونو چې ولیان ونه لري نکاح وکړي او غنیمت تقسیم کړي او داسې نور.

ابن خلدون رحمه الله په خپله مقدمه کې وایي، د امام ټاکل واجب دي او په شریعت کې یې وجوب په اجماع د صحابه وو او تابعینو سره ثابت شوی دی، ځکه کله چې نبی علیه السلام رحلت وکړ، نو صحابه وو تر هر څه وړاندې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ټاکلو ته مخکې والی ورکړ، هغه زیاتوي، چې په هره زمانه کې مسلمانانو خپل امیر ټاکلی او په یوه زمانه کې هم مسلمانان له امیر پرته نه دي پاته شوي او دا اجماع د امام په درولو دلیل ده.

علماء کرام وايي: د امام درول د دين له اهمو واجباتو څخه دي، چې صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبی علیه السلام تر دفن وړاندې خلیفه وټاکه او بیا یې وروسته نبی علیه السلام دفن کړ، چې له دې څخه هم د خلافت او امارت د قیام اهمیت څرګندیږي، په دې اړوند د علماوو زیات اقوال راغلي دي، چې هیڅوک هم ورڅخه انکار نشي کولای.

که اسلامي واکمني نه وي، بیا په قرآن کریم او احادیثو کې راغلي ټول شرعي احکامات معطل پاته کیږي، سره له دې، چې د غه احکامات د تنفیذ لپاره راغلي دي نه د معطل کېدلو لپاره، نو د مجاهدینو له لوري د اسلامي امارت د قیام لپاره هلې ځلې د دین د یوه تر ټولو اهم واجب د عملي کولو لپاره دي.

مجاهدين دې په عشر او زکات کې بې ځايه تصرف نه کوي

مجاهدین باید د مسلمانانو له لوري ورکړل شوي صدقات لکه عشر، زکات او داسې نور په مناسبو ځایونو کې مصرف کړي، په دغو مالونو کې په خپل سر له شخصي استعمال او بې ځایه مصرف څخه ځانونه وساتي، نبی علیه السلام فرمایي:

عَنْ خَوْلَةَ الأَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ القِيَامَةِ».

(رواه البخاري) ژباړه: له حضرت خوله رضی الله عنها څخه روایت شوی، چې وایي، ما له نبی علیه السلام څخه واورېدل، چې ویل یې: ځیني کسان د الله تعالی په مال (زکات، عشر، غنیمت، فئ) کې بې ځایه تصرف کوي، نو دوی لره د قیامت

په ورځ اور (دوزخ) دی، ابن حجر رحمه الله وايي، چې له دې څخه مطلب دادی، چې دوی د مسلمانانو په مالونو کې په باطله او ناحقه تصرف کوي.

نبی علیه السلام فرمايي:

عن خولة بنت قيس رضى الله عنهـا قالـت سـمعت رسـول الله صـلى الله عليه وسلم يقول: إِنّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ مَنْ أَصَابَهُ بِحَقِّهِ بُورِكَ لَهُ فِيهِ ، وَرُبّ مُتَخَوِّضٍ فِيمَا شَاءَتْ بِهِ نَفْسُهُ مِنْ مَالِ اللهِ وَرَسُولِهِ ، لَيْسَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلّا النّارُ. (رواه الترمذي)

ژباړه: حضرت خوله رضی الله عنها وايي، چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل، چې ويل يې: دا مال شين (ښايسته) او خوندور دی، (مرقات ليکي، ځکه خوندور دی، چې له مشقت او ستړتيا پرته ترلاسه شوی) که چا د خپل استحقاق په اندازه ور واخيست، نو خدای پاک به برکت پکې ورواچوي، ډېر داسې خلک شته، چې د الله تعالی او د هغه د رسول په مال کې په خپله خوښه او څنګه يې چې زړه غواړي هغسې تصرف کوي، نو د قيامت په ورځ به د دوزخ له اوره پرته بل څه ورته نه وي، يعنی دوزخ ته به ور واچول شي.

مرقات ليکي، چې له «مال الله ورسوله» څخه مراد زکات او غنيمت دی، يعنی که څوک د زکات او غنيمت په مال کې بې ځايه تصرف کوي او چې څنګه يې زړه وغواړي هغسې يې مصرفوي، نو هغه ته به د قيامت په ورځ د دوزخ له اور پرته بل څه ورنه کړل شي، مجاهدين دې د داډول مالونو د مصرف په اړه له معتمدو او مشرانو علماء کرامو څخه رهنمايي غواړي چې د هر مال د مصرف ځايونه ښه ورمعلوم شي، تر

څو الله دې نه کوي دا سې نشي چې مجاهد قرباني هم ورکوي او په کار کې يې نيت هم د خير وي خو کار يې په شريعت برابر نه وي او د عذاب سبب يې شي.

له بنديانو سره بايد غوره چلند وشي

د دښمن له بنديانو سره معامله د مسلمانانو د مشر په واک کې ده، نبی عليه السلام له بنديانو سره څلور ډوله عمل ترسره کړی دی، نبی عليه السلام د بدر په ورځ نضر بن الحارث او عقبة بن ابی معيط تر نيولو وروسته ووژل او د بدر نور ټول بنديان يې د فديې په بدل کې خوشې کړل، نبی عليه السلام ثمامة بن اثال تر نيول کېدلو وروسته له بدلې او عوض پرته خوشی کړ او د سلمه بن الاکوع رضی الله عنه په مينځه يې د مسلمانانو بنديان را خوشې کړل.

الله تعالی فرمايي:

فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا. [محمد: ٤].

ژباړه: کله چې تاسو (اې مسلمانانو) له هغو کسانو سره مخامخ شوئ چې کفر يې کړی، نو غاړې يې ورووهئ، چې ډېر يې ووژنئ، بيا يې بنديان کړئ، وروسته يې يا له فديې پرته همدا سې خوشې کړئ، يا يې د فديې په بدل کې خوشې کړئ، چې جګړه پای ته رسيږي، يعنی تر څو له اسلام پرته بل دين پاتې نشي، لکه دا قول چې مجاهد کړی، يا تر څو چې عيسی عليه السلام راځي، حسن رحمه الله وايي، تر څو له

الله تعالی پرته د بل چا عبادت و نشي، يعنی تر هغه وخته له اسيرانو سره دا درېدوله چلند کيږي.

امام قرطبی رحمه الله وايي، چې له مَنًّا او فِدَاءً سره يې قتل ذکر نه کړ، ځکه د هغوی وژل د آيت په لومړي سر کې ذکر شول، چې غاړې يې ور ووهئ، تفسير قرطبی وايي، چې دا آيت محکم دی او امام په هر حال کې اختيار لري، يعنی امام اختيار لري، چې له بندي سره څه ډول چلند کوي، وژني يې، د فديې او د مسلمانانو په بدل کې يې خوشي کوي او که يې له عوض پرته پرېږدي.

قاضی د امام وکيل بلل کيږي، مجاهدين که د دښمن بنديان نيسي، نو تر څو چې قاضي فيصله نه وي پرې کړې، خپله دې په خپل سر سزا نه ورکوي، مطلب دا چې مجاهدين بايد له بنديانو سره غوره چال چلند وکړي، نه شکنجه شي، نه ووهل شي، نه په لوږه او تنده و ځورول شي، نه په لمر او يخنی عذاب ورکړل شي.

سيرة ابن هشام را نقل کړي، چې کله په بدر کې مشرکين ونيول شول، نو نبی عليه السلام خپلو صحابه وو ته له بنديانو سره د ښه چلند توصيه وکړه.

کله چې صحابه وو د بنی حنيفه وو سردار او مشر ثمامه بن اثال ونيو او د مسجد نبوي په يوه ستنه (پايه) پوري يې وتاړه، تر څو يې نبی عليه السلام په اړه فيصله وکړي او يا يې په اړه دوی ته امر کوي، سهار چې نبی عليه السلام مسجد ته راووت، نو ويې ليدل، چې ثمامه په ستنه پوري تړل شوی، نو صحابه وو رضی الله عنهم ته يې وويل، ايا تاسو پوهيږئ، چې څوک مو نيولی؟

صحابه وو رضی الله عنهم ورته وويل، نه پوهيږو، اې د الله تعالی رسوله!

نو نبی علیه السلام وفرمایل: هذا ثمامة بن أثال الحنيفي،فأحسنوا أساره، یعنی دا ثمامه بن اثال دی، تاسو له خپل بندي سره ښه وکړئ، وروسته نبی علیه السلام کور ته ستون شو او ویې ویل: اجمعوا ماکان عندکم من طعام وابعثوا به الی ثمامه بن اثال... یعنی هغه خوراکه چې ستاسو سره ده، هغه راټوله کړئ او ثمامه بن اثال ته یې ولیږئ، وروسته یې امر وکړ، چې د هغه له اوښې څخه شیدې لوشئ او سهار او ماښام یې هغه ته ورکوئ، وروسته نبی علیه السلام ورته راغی او ورته یې وویل، چې اې ثمامه! ستا سره څه دي؟

هغه ورته وویل، خیر (ښېګڼه) راسره ده، که دې ووژلم، نو دوینې خاوند دې وواژه، یعنی ستاسو کسان مې وژلي، چې د هغو په قصاص کې به وژل کیږم، که دې نیکي راسره وکړه، یعنی عفوه دې راته وکړه، نو یوه شکر کوونکي ته به دې ښېګڼه کړې وي، یعنی شکر به دې ادا کړم او که دې مال ته اراده وي، نو څومره چې دې خوښه وي هغه وغواړه در به کړل شي، نبی علیه السلام دوه ورځې همداسې پرېښود، دوه ورځې، او به او شیدې به ور ورکول کېدلې.

نبی علیه السلام بیا ورته راغی او ورته یې وویل: ثمامه! ستا سره څه دی؟

هغه ورته وویل: له ما سره له هغه پرته بل څه نشته، چې ما درته وویل، بیا یې خپلې تیرې خبرې تکرار کړې، نبی علیه السلام بیا ورڅخه ولاړ او په دابله ورځ بیا ورته راغی، بیا یې ترمنځ د تیرو ورځو په څیر سوال او ځواب ترسره شو، نبی علیه السلام خپلو صحابه وو رضی الله عنهم ته وکتل او ورته یې وویل، ثمامه خلاص کړئ، هغوی هم خلاص کړ، سره له دې، چې ثمامه د نبی علیه السلام د قتل اراده

کړې وه، صحابه یې هم په شهادت رسولي وو، او نبی علیه السلام د هغه وینه هدر ګرځولې وه او په ټولو صحابه وو کې یې د دې اعلان هم کړی و.

ثمامه بن اثال تر خوشې کېدلو وروسته، چې له مسجد نبوی څخه ووت بیرته راستون شو او ایمان یې راوړ. (صور من حیاة الصحابه)

صحابه وو رضی الله عنهم له ثمامه بن اثال سره غوره چلند وکړ، خو په دغو ځلورو ورځو کې یې یوازې هغه تړلی و، تر څو ونه تښتي او یا صحابه وو رضی الله عنهم ته کوم زیان ونه رسوي، نو مجاهدین هم باید بندیانو ته تعذیبونه ورنه کړي، بلکې یوازې یې تړل ورته جائز دي او یا یې باید په یوه داسې کوټه کې واچوي، چې ونه تښتي او یا مجاهدینو ته کوم زیان ونه رسوي.

الله تعالی فرمایي: وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا، یعنی دغه نیکان سره له دې، چې خپله یې ډوډۍ ته زړه کیږي، خو مسکینانو، یتیمانو او بندیانو ته یې ورکوي، تفسیر طبري وایي، له اسیر څخه مراد یا د دار حرب هغه حربي کافر دی، چې په زوره ونیول شي، یا ورڅخه مراد هغه څوک دی، چې هغه له اهل قبلې څخه وي او د یوه حق له امله نیول شوی او بندي شوی وي، نو الله تعالی د دغو نېکانو کسانو ستاینه کړې، چې د غو درې ډوله خلکو ته ډوډۍ ورکوي.

په اهل قبله وو کې هغه بندیان هم شاملیږي، چې د جنایي جرمونو مرتکب شوي وي، نو باید د قاضي له حکم وړاندې کومه سزا ورنه کړل شي او چې کله یې بندیخانې ته بیایي هم غوره اخلاق ورسره وکړي او په عزتمنده طریقه یې بوځي.

د بنی قریظه وو د بندیانو په اړه نبی علیه السلام فرمایلي: قال علیه السلام في بنی قریظه بعدما احترق النهار في یوم عاصف لا تجمعوا علیهم حر هذا الیوم و حر السلاح، قیلوهم حتی یبردوا ... (السیر الکبیر لامام محمد بن الحسن الشیبانی)

ژباړه: کله چې د اوړي په موسم کې د ورځې ګرمي زیاته شوه، نو نبی علیه السلام د بنی قریظه وو په اړه وویل، چې په هغوی باندې د دغې ورځې ګرمي او د وسلې ګرمي مه یو ځای کوئ، په قیلوله (د غرمې په ارام او استراحت) ورکولو سره ارامتیا ورکړئ، تر څو یې ګرمي له منځه ولاړه شي، په یوه بل روایت کې راغلي، چې ښه ورسره وکړئ، د غرمې ارام ورکړئ او اوبه ورکړئ، سره له دې، چې په بنی قریظه وو د مرګ حکم شوی وو، خو بیا هم نبی علیه السلام ورسره د غوره چلند حکم وکړ.

مـجـاهـد تـه آداب

(۱) لومړی دا، چې جهاد او اطاعت به يې د مال او دنيا لپاره نه بلکې يوازې د دين لپاره وي.

ابو هريره رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ثَلاثٌ لا يُكَلِّمُهُمْ الله يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ ولا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ رَجُلٌ عَلَى فَضْلِ مَاءٍ بِالْفَلاةِ يَمْنَعُهُ مِنْ ابْنِ السَّبِيلِ وَرَجُلٌ بَايَعَ رَجُلًا بِسِلْعَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ فَحَلَفَ لَهُ بِاللهِ لَأَخَذَهَا بِكَذَا وَكَذَا فَصَدَّقَهُ وَهُوَ عَلَى غَيْرِ ذَلِكَ وَرَجُلٌ بَايَعَ إِمَامًا لَا يُبَايِعُهُ إِلَّا لِدُنْيَا فَإِنْ أَعْطَاهُ مِنْهَا وَفَى وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ مِنْهَا لَمْ يَفِ. (رواه مسلم)

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: درې کسان دي چې الله به د قيامت په ورځ ورسره خبرې نه کوي او نه به د رحمت په نظر ورته ګوري، ښنه به ورته نه کوي او دوی لره دردناک عذاب هم دی. يو هغه تن چې په بېديا کې اضافه اوبه وي خو دی يې مسافرو ته نه ورکوي، بل هغه چې ماز ديګر يو شيز په چا پلوري او قسم اخلي چې په دومره يې اخيستی، خو په هغومره يې نه وي اخيستي او رانيونکی دده په قسم باور کوي او دريم هغه چې له امير سره د دنيا لپاره بيعت کوي، که مال او دولت يې ورکړ نو په بيعت وفا کوي کنه بيا بيعت ماتوي.

په فتح الملهم کې ليکي: په بيعت کې قاعده داده چې په امير به دا خبره ږدې چې حق به پالي، حدود به جاري کوي، امر بالمعروف او نهی عن المنکر به نه

پرېږدي، دغه رنګه ليکي، چې هرهغه عمل چې په هغه سره مقصد د الله رضا نه بلکې دنيا وي نو هغه عمل فاسد او کوونکی يې ګنهګار دی.

(۲) دوهم داچې: مجاهد به ځان له غلول او خيانت څخه ساتي، ځکه چې د عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت شوی، چې وايي:

قال: لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ، أَقْبَلَ نَفَرٌ مِنْ صَحَابَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: فُلَانٌ شَهِيدٌ، فُلَانٌ شَهِيدٌ، حَتَّى مَرُّوا عَلَى رَجُلٍ، فَقَالُوا: فُلَانٌ شَهِيدٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَلَّا، إِنِّي رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ فِي بُرْدَةٍ غَلَّهَا أَوْ عَبَاءَةٍ»، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا ابْنَ الْخَطَّابِ، اذْهَبْ فَنَادِ فِي النَّاسِ، أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ»، قَالَ: فَخَرَجْتُ فَنَادَيْتُ: أَلَا إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ. (مسلم، رقم: ١١٤)

ژباړه: کله چې د خيبر غزا وه، نو څو تنه صحابه رضی الله عنهم راغلل او ويې ويل: فلانی شهيد شو، فلانی شهيد شو، ترڅو په يوه سړي تېر بدل او ويي ويل، چې فلانی هم شهيد شو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: دغسې نه ده! هغه ما په اور کې وليد چې د غلول(خيانت) چپنه يا څادر يې اغوستی و، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د خطاب زويه! لاړ شه، خلکو ته ووايه چې جنت ته به له مومنانو پرته بل څوک نه ننوځي، حضرت عمر رضی الله عنه وايي، چې زه ووتلم او آوازمې وکړ، چې ګورئ! جنت ته به يوازې مومنان داخلېږي (غلول په غنيمت کې خيانت ته وايي).

په بل حديث شريف کې حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې:

قال: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى خَيْبَرَ، فَفَتَحَ اللهُ عَلَيْنَا فَلَمْ نَغْنَمْ ذَهَبًا وَلَا وَرِقًا، غَنِمْنَا الْمَتَاعَ وَالطَّعَامَ وَالثِّيَابَ، ثُمَّ انْطَلَقْنَا إِلَى الْوَادِي وَمَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدٌ لَهُ، وَهَبَهُ لَهُ رَجُلٌ مِنْ جُذَامٍ يُدْعَى رِفَاعَةَ بْنَ زَيْدٍ مِنْ بَنِي الضُّبَيْبِ، فَلَمَّا نَزَلْنَا الْوَادِيَ، قَامَ عَبْدُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُلُّ رَحْلَهُ، فَرُمِيَ بِسَهْمٍ، فَكَانَ فِيهِ حَتْفُهُ، فَقُلْنَا: هَنِيئًا لَهُ الشَّهَادَةُ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَلَّا وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، إِنَّ الشَّمْلَةَ لَتَلْتَهِبُ عَلَيْهِ نَارًا أَخَذَهَا مِنَ الْغَنَائِمِ يَوْمَ خَيْبَرَ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ»، قَالَ: فَفَزِعَ النَّاسُ، فَجَاءَ رَجُلٌ بِشِرَاكٍ أَوْ شِرَاكَيْنِ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَصَبْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «شِرَاكٌ مِنْ نَارٍ أَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ». (رواه مسلم رقم:١١٥)

ژباړه: له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خیبرته ووتلو او الله تعالی فتحه رانصیب کړه، په دغه وار زموږ لاس ته سره او سپین نه دي راغلي، بلکې جامې، خواړه او نور توکي مو ترلاسه کړل، بیا وادی القری خوړ ته ورسیدلو او له رسول الله سره یو مریی هم و، چې د جذام قبیلې یوه تن رفاعه بن زید چې د ضبیب له کورنۍ څخه و ورته هبه کړی و، کله چې خوړ ته ښکته شوو نو هغه مریی د بار په پرانیستلو پیل وکړ، ناڅاپه یو غشی راغی او په هغه ولګید، نو موږ وویل، چې شهادت دې ورته مبارک وي اې د الله رسوله.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دغسي نه ده، زما دې په هغه ذات قسم وي چې د محمد صلی الله علیه وسلم روح یې په ید د قدرت کې دی، هغه

شمله(یو ډول چپنه) به وربانديږ او ربل کړي، چې د خيبر له غنيمتونو څخه يې تر وېش له مخه اخيستی وه، نو خلک وویرېدل چا يو شراک (د څپلۍ تسمه) او يا دوه راوړل او ويې ويل: يا رسول الله! موږ هم دغه د خيبر په ورځ اخيستي دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: شراک وي او که دوه له اوره دی.

په فتح الملهم کې وايي، چې که يو څوک له غنيمت څخه يو شی واخلي، نو واجب ده چې بېرته يې ور وسپاري او بايد ځني ومنل شي، معنا دا، چې امير يې ور څخه قبول کړي.

(۳) مجاهد او په خاصه توګه امير ته لازمه ده چې د بيت المال له مال څخه داسې ځان وساتي لکه د يتيم له مال څخه چې سړی ځان ساتي.

کنزالعمال کې د عمر بن الخطاب رضی الله عنه په اړه ليکي چې هغه فرمايلي: الا اني انزلت من مال الله بمنزلة ولي اليتيم ان استغنيت عففت وان افتقرت اكلت بالمعروف. ژباړه: بيت المال مې د يتيم د مال په څېر ګرځولی که مې ورته اړتيا نه وه ځان ترې ساتم او که مې ورته اړتيا پيښه شوه، نو په معروفه طريقه به يې لګوم.

ابونعيم ليکي: كان عثمان يطعم الناس طعام الامارة ويدخل بيته فيأكل الخل والزيت. ژباړه: حضرت عثمان رضی الله عنه به خلکو ته د امارت له ماله خوراک ورکاوه او پخپله به کور ته لاړ هلته به يې په سرکه او غوړيو سره ډوډۍ خوړله.

(۴) مجاهد به بې ځایه مرمۍ نه ولي، ځکه چې دغه د مال ضائع کول دي، ډېر ځله داسې وي چې دلته بې ځایه وویشتل شي، خو کله چې د ضرورت ځای راشي بیا هیڅ ورسره پاته نه وي، حمزه بن اسید له خپله پلاره روایت کوي، چې کله د بدر په ورځ قریشو زموږ او موږ د قریشو لپاره صفونه وتړل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل:

«اذا اکثبوکم فعلیکم بالنبل» کله چې درته نژدې شول (یعني یقیني وه چې ستاسو غشی دوی ته رسېږي) بیا یې و ولئ، د ابوداود په روایت کې دا هم راغلي چې د غشو ساتنه کوئ.

(۵) مجاهد ته په کار ده چې د ټولو هغو جنګي سامان آلاتو زده کړه ترسره کړي کوم ته چې په جهاد کې د ده ضرورت وي، الله تعالی فرمايي: وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ [الانفال: ٦٠]

ژباړه: او (اې مسلمانانو!) څومره چې استطاعت لرئ د کم او کیف دواړو په اعتبار قوت او تړلي آسونه تیار کړئ! په دې سره به تاسو د الله دښمنان او خپل دښمنان وېروئ! له دوی پرته نور خلق (هم) چې تاسو يې نه پېژنئ، الله يې پېژني (یعني تر اوسه يې له تاسو سره دښمني نه ده په ډاګه کړې) او تاسو چې د الله په لاره کې هر څه خرچ کوئ، تاسو ته به يې پوره (بدله) درکړل شي او په تاسو به ظلم نه کېږي.

له قوت څخه مراد د هغو وسائلو زده کول دي چې په اوس وخت کې ورته اړتیاده او دا کار په اوس وخت کې لا ډېر زیات ضروري دی، د بخارا سلطنت خو په دغه ناپوهي له لاسه ووت، پاچا له علماوو غوښتنه وکړه چې د وخت عصري وسلې ترلاسه کړي، خو هغوی دغه کار بدعت وګاڼه او د اخیستلو اجازه یې ورنکړه، هغه و چې لویه ماته یې وخوړه او روسان ورباندې مسلط شول، هم داسې د روم له پاچا سره هم وشول هغه پخپله بت پرست و، نو ځیني مسلمانو پاچهانو ته یې ولیکل چې زه د اسلام راوړلو اراده لرم او له دوی څخه یې وغوښتل چې په شراب څښلو کې ورته ځکه اجازه ورکړي چې هغه له شراب څښلو پرته ګوزاره نشوای کولای، دوی خپلو عالمانو ته استفتا وړاندې کړه، خو هغوی ورته وویل چې شراب حرام دي اجازه نشته، که د روم پاچا ایمان راوړل غواړي نو شراب څښل دې پرېږدي، هغه وویل شراب نشم پرېښودای هغسې بت پرست پاتې شو، الله دې موږ له جهالته وساتي، که دوی له ما فتوی غوښتې وای نو ما به ورته ویلي وای، چې ته اسلام راوړه او د شرابو په باره کې دا عقیده وساته چې دا حرام دي، ځکه چې کله اسلام راوړي او په زړه که یې د شرابو خباثت راسي نو خپله شراب خوړل ورته خبیث عمل ښکاري. (فیض الباري)

(۶) مجاهد ته ویښ او بیدار او سېدل پکار دي، هیڅکله د دښمن له چل او فریب نه بې غمه نشي، دښمن که څه هم ډېر کمزوری وي خو کمزوری یې ونه ګڼي او د یوه قوي دښمن په څېر اسباب ورته برابر کړي. علامه طرطوشي لیکي: د هوښیار پاچا له صفتونو یو دا ده چې دښمن کمزوری نه ګڼي که څه هم ذلیل وي او ترې

غافله کیږي نه، که څه هم بې وسه وي، ځکه ډېر ځله غوماشی فیل نا ارامه کولای شي.

صلابي د عمرة القضاء په بیان کې د واقدي د مغازی په حواله ویلي: چې رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ځانه سره مکمله اسلحه واخستله که څه هم د قریشو سره یې دا شرط منلی و چې موږ به حرم ته یوازې توري راسره وړو هغه هم په پوښ کې، لکن د قریشو د غدر څخه مطمئن نه و، نو یې مکمله اسلحه د ځانه سره راوړه، خو د حرم څخه بهر د دوو سوو محافظینو مجاهدینو سره یې کېښېښودله، چې که چېرې قریش غدر وکړي زموږ اسلحه به حاضر وي. (سیرة الصلابي ج۲ص۴۴۶)

(۷) مجاهدین باید ګړی په ګړی د دښمن د حالاتو څارنه وکړي، د عسکرو حال یې واخلي، د دښمن په لیکو کې جاسوسان وګوماري او په دې ښه پوره ځان خبر کړي چې مشران یې څوک دي؟ په دوی کې ښه جګړه ماران څوک او دوی څه ډول وسلې لري.

عنْ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرًا يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ : مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ؟ فَقَالَ الزُّبَيْرُ: أَنَا، ثُمَّ قَالَ: مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ؟ فَقَالَ الزُّبَيْرُ: أَنَا، ثُمَّ قَالَ: مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ؟ فَقَالَ الزُّبَيْرُ: أَنَا، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيَّ وَإِنَّ حَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ -٤١١٣- وَمُسْلِم)

ژباړه: ابن منکدر وایي، له حضرت جابر رضی الله عنه څخه مې واورېدل چې د احزاب جګړې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دښمن حال به څوک معلوم کړي؟ زبیر رضی الله عنه وویل: زه به یې معلوم کړم، بیا یې وویل د

دښمن حال به څوک راوړي؟ زبیر رضي الله عنه وویل زه به یې راوړم، نبی علیه السلام بیا وویل، چې د دښمن حال به څوک راوړي؟ زبیر رضی الله عنه ورته وویل، چې زه یې راوړم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر پیغمبر لره حواري (مؤید او مرسته کوونکی) وي، زما حواري زبیر دی.

(۸) اتم: مجاهدینو ته په کار ده چې د خپل مشر استوګنځی پټ وساتي ترڅو دښمن وربانديې ناڅاپه حمله ونه کړي، ځکه (الحرب خدعة) جګړه خو د دښمن تېر ایستل دي، همدارازدغه ډول پېښې دښمن ته د تبلیغاتي پروپاګند زمینه برابروي او د مسلمانانو د خواشینۍ لامل ګرځي، په مجاهدینو دا لازمه ده، چې د خپلو امیرانو او مشرانو ساتنه وکړي، ترڅو دښمن ورته کوم زیان ونه رسوي.

له حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت شوی، هغه وایي: كان النبي ـ صلى الله عليه وسلم ـ يُحرس حتى نزلت هذه الآية:« وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ»، فأخرج رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ رأسَه من القبة، فقال لهم: يا أيها الناس، انصرفوا عني، فقد عصمني الله.(الترمذي)

یعنی: په نبی علیه السلام به پیره کېدله، ترڅو دغه آیت را نازل شو، الله تعالی دې له خلکو (دښمنانو) څخه حفاظت کوي... ، نو نبی علیه السلام له قبې (خېمې) سر را وویست او هغوی ته یې وویل: اې خلکو! تاسو زما څخه ولاړ شئ، زه الله تعالی ساتلی یم.

دلته څرګنده شوه، چې صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبی علیه السلام د ساتنې لپاره په هغه پیره کوله، ترڅو یې الله تعالی د حفاظت وعده وکړه، نو د

مسلمانانو په نورو اميرانو بايد پيره او د هغوی ساتنه وشي، ځکه الله تعالی يې د ساتنې وعده نه ده کړې، نو د ښمن زيان ورته رسولی شي او له زيان څخه د خوندي کېدلو يوه لاره يې دا هم ده، چې ځای يې پټ وساتل شي او له دې سره سره بايد پيره هم پرې وکړل شي، په ځانګړې توګه د غه ډول اقدامات په داسې حالاتو کې چې دا اوس دي؛ ډير لازمي دي.

(۹) په مجاهدينو لازمه ده چې د جګړې تر پيلولو مخکې کوم نيک کار ترسره کړي، په دې باندې امام بخاري پخپل کتاب کې يو ځانګړی باب ايښی دی: بَابٌ عَمَلٌ صَالِحٌ قَبْلَ القِتَالِ وَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ: «إِنَّمَا تُقَاتِلُونَ بِأَعْمَالِكُمْ».

ژباړه: ابو درداء رضی الله عنه وايي: تاسو په خپلو اعمالو جنګيږئ يعني نيک عملونه تاسو ته ثبات دربښي او په جګړه کې برې در په برخه کوي.

(۱۰) لسم: مجاهد ته په کار ده چې د خپل ملګري ملا وتړي، هغه يو ازې د ښمن ته پرېنږدي، بلکې تر هغه له مخه ځان د ښمن ته ور ورسوي، ابو موسی رضي الله عنه روايت کوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «المُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ، يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا» ثُمَّ شَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ. (البخاري، رقم: ۶۰۲۶).

ژباړه : يو مؤمن د بل مؤمن لپاره د تعمير د خښتو مثال لري چې يوه يې بله ټينګوي، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم (د مثال په ډول) د لاسونو ګوتې يو په بل کې سره ننباسلې.

دغه رنګه د انصارو په مدح کې الله تعالی فرمايي :«وَيُـؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِـهِمْ ولوكان بهم خصاصة»

ژباړه: او هغوی نور (مسلمانان) په خپلو ځانونو غوره کوي که څه هم په دوی تنګسيا (لوږه) وي.

له حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې: جاء رجل إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: إني مجهود فأرسل إلى بعض نسائه فقالت: والذي بعثك بالحق ما عندي إلا ماء ثم أرسل إلى أخرى فقالت مثل ذلك حتى قلن كلهن مثل ذلك: لا والذي بعثك بالحق ما عندي إلا ماء فقال النبي صلى الله عليه وسلم: من يضيف هذا الليلة ؟ فقال رجل من الأنصار: أنا يا رسول الله فانطلق به إلى رحله فقال لامرأته: أكرمي ضيف رسول الله صلى الله عليه وسلم وفي رواية قال لامرأته هل عندك شيء ؟ فقالت: لا إلا قوت صبياني قال: فعلليهم بشيء وإذا أرادوا العشاء فنوميهم وإذا دخل ضيفنا فأطفئي السراج وأريه أنا نأكل فقعدوا وأكل الضيف وباتا طاويين فلما أصبح غدا على النبي صلى الله عليه وسلم: فقال: لقد عجب الله من صنيعكما بضيفكما الليلة. (متفق عليه)

ژباړه: يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: زه په مشقت يم يعني له لوږې په تکليف يم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپلو مېرمنو څخه يوې ته حال ورکړ چې دغه مېلمه ته ډوډۍ ورکړي، هغې وويل: زما دې قسم وي په هغه ذات چې ته يې په پيغمبرۍ مبعوث کړی يې له ما سره له اوبو

پرته بل څه د خوراک نشته، نبي عليه السلام بلې مېرمنې ته مراجعه وکړه هغې هم کټ مټ همداسې ځواب ورکړ، تر دې چې ټولو ازواجو مطهراتو همدا وويل، چې زما دې قسم وي په هغه ذات چې ته يې په پيغمبرۍ مبعوث کړی يې له ما سره له اوبو پرته بل څه د خوراک نشته، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه وو ته مخ کړ او ويې ويل: څوک به نن شپه دغه مېلمه ته ډوډۍ ورکړي ؟ د انصارو له جملې يوه صحابي وويل: زه، اې د الله رسوله! نو هغه انصاري ميلمه خپل کور ته بوتلو او خپلې مېرمنې ته يې وويل، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ميلمه اکرام وکړه او په بل روايت کې راځي، چې دغه انصاري سړي له خپلې مېرمنې وپوښتل: آيا د خوراک درسره کوم شی شته؟ ميرمنې يې ځواب ورکړ، بل شی نشته يوازې د خپلو بچيانو خوراک ده.

صحابي خپلې مېرمنې ته وويل: ماشومان په څه شي غلط کړه او چې کله هغوی د شپې د ډوډۍ اراده وکړي، نو ويده يې کړه، کله چې مېلمه کورته را داخل شي ،څراغ مړ کړه او موږ به مېلمه ته(د ژامو په اواز سره) داسې ښيو چې موږ هم ګواکې خوراک کوو، نو دوی همداسې وکړل، مېلمه ډوډۍ وخوړله او دوی دواړه وږي ويده شول، کله چې سبا شو او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلل، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: تاسو چې د شپې له ميلمه سره کوم چلند وکړ په يقين سره د الله تعالى ډير خوښ شو او ښه يې وباله.

امام ترمذي د ابوهريرة رضی الله عنه په روايت حديث راوړی چې يوه انصاري ته د شپې مېلمه راغی خو دده په کورکې د عيال له ډوډۍ پرته د خوړلو بل څه نه و، نو هغه

خپلې مېرمنې ته وویل چې ماشومان ویده کړه ډیوه مړه کړه او مېلمانه ته هغه ډوډۍ راوړه چې په کورکې شته، بیا دا آیت نازل شو « وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ».

و قال ابن عمر أهدى لرجل من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم رأس شاة فقال: إن أخي فلاناً وعياله أحوج إلى هذا منا، فبعثه إليهم، فلم يزل يبعث به واحد إلى آخر حتى تداولها سبعة أبيات، حتى رجعت إلى أولئك، فنزلت: «وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ». ژباړه: قرطبي په خپل تفسیر کې لیکي: چې ابن عمر وایي: یو چا د رسول الله صلى الله عليه وسلم یوه صحابي ته د پسه سر راووړ، هغه وویل، زما هغه پلانی ورور او د هغه اولاد تر موږ ورته ډیره اړتیا لري، نو هغوی ته یې ور ولیږه، هغه بیا بل صحابي ته واستاوه، تر دې، چې له اوو کورونو څخه ووت او بالآخره بیا هغه لومړي کورته را ولیږل شو، نو بیا دغه آیت را نازل شو.

هر مسلمان په خاصه توګه مجاهد ته ښایي چې د اړتیا د رفع پر وخت بل مسلمان او مجاهد پر ځان مخکي کړي.

قال أبو جهم بن حذيفة العدوي: انْطَلَقْتُ يَوْمَ الْيَرْمُوكِ أَطْلُبُ ابْنَ عَمِي وَمَعِي شَنَّةٌ مِنْ مَاءٍ أَوْ إِنَاءٍ، فَقُلْتُ: إِنْ كَانَ بِهِ رَمَقٌ سَقَيْتُهُ مِنَ الْمَاءِ وَمَسَحْتُ بِهِ وَجْهَهُ، فَإِذَا أَنَا بِهِ يَنْشَغُ، فَقُلْتُ: أَسْقِيكَ؟ فَأَشَارَ: أَيْ نَعَمْ، فَإِذَا رَجُلٌ يَقُولُ: آهٍ، فَأَشَارَ ابْنُ عَمِي أَنْ أَنْطَلِقَ بِهِ إِلَيْهِ، فَإِذَا هُوَ هِشَامُ بْنُ الْعَاصِ أَخُو عَمْرٍو، فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ: أَسْقِيكَ؟ فَسَمِعَ آخَرَ فَقَالَ: آهٍ، فَأَشَارَ هِشَامٌ: أَنْ أَنْطَلِقَ بِهِ إِلَيْهِ، فَجِئْتُهُ فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ، فَرَجَعْتُ إِلَى هِشَامٍ فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ، فَرَجَعْتُ إِلَى ابْنِ عَمِي فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ! (البيهقي في شعب الايمان، رقم: ٣٢٠٨)

ژباړه: ابو جهم بن حذيفه رضی الله عنه وايي، چې زه د يرموک په ورځ د زخميانو په کتار کې د خپل اکا په زوی پسې ګرځېدم او د اوبو لوښی را سره و، ما له ځان سره وويل، چې که د هغه په مرۍ کې سا وه، يو غوړپ به وڅښي او مخ به يې پرې لوند کړم، چې ناڅاپه ور سره په داسې حال کې مخ شوم، چې وروستۍ ساه يې اخيستله، ما ورته وويل او به درکړم؟ هغه اشاره وکړه، چې هو، په دې وخت کې بل زخمي آه وکړ، د کاکا زوی مې اشاره وکړه چې هغه ته يې ورکړه، که ګورم هغه د عمرو ورور هشام بن العاص و، هغه ته مې وويل او به درکړم؟ زما دا خبره بل چا واورېدله او آه يې وکړ، هشام راته وويل هغه ته يې ورکړه، کله چې زه ورغلم هغه وفات شوی و بېرته په شا را وګرځېدم هشام ته چې راغلم هغه هم وفات شوی و او چې خپل د کاکا زوی ته بېرته ور رسېدم، نو هغه هم په دې تنده کې سا ورکړې وه.

دغه ده د مسلمانانو ايثار او فداکاري، چې په دغه ډول سخت وخت کې هم بل مسلمان او ملګری تر ځان غوره کوي.

(۱۱) مجاهد بايد خامخا خپل نيت سم کړي او خپل هر څه يوازې د الله تعالی لپاره کړي، چې په دې باره کې تفصيل مخکې تېر شو.

(۱۲) مجاهد بايد له قوم پرستۍ څخه ځان وساتي، د دې تفصيل هم مخکې تېر شو.

(۱۳) مجاهد ته په کار ده چې په جهادي چارو کې له چا سره نزاع ونکړي، بلکې د هغه کار امير ته وسپاري يا هغه چا ته چې ور او مستحق يې وي.

(۱۴) مجاهد ته لازمه ده چې په هغو امورو کې چې د الله تعالی معصیت نه وي د خپل امیر پوره اطاعت وکړي، د دې تفصیل هم تېر شو.

(۱۵) مجاهدینو ته په کار ده چې په خپل منځ کې مینه او محبت وکړي او په ټولو خلکو په ځانګړې توګه په بې وزلو ډېر مهربان وي، ځکه چې تاسو د هغوی د دعا په برکت په دښمن غلبه مومئ، الله تعالی د صحابه وو رضي الله عنهم په صفت کې فرمايي:

مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَاناً سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً واجرا عظيماً. [الفتح:۲۹].

ژباړه: محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله رسول دی او هغه کسان چې له ده سره دي، په کافرانو ډېر سخت، او په خپل مینځ کې ډېر سره مهربان دي، ته به یې وینې چې رکوع کوونکي، سجده کوونکي دي، له الله نه فضل او رضامندي غواړي، د دوی (د دینداری) نښې د سجدو له اثر نه د دوی په مخونو کې دي، دغه په تورات کې د دوی مثال دی او په انجیل کې د دوی مثال دی: لکه هغه فصل چې خپل تېغ راوباسي، بیا یې قوي کړي، بیا پېړ او کلک شي، بیا دغه (فصل) په خپلو پنډیو (او بېخونو) ودرېږي، په داسې حال چې زمینداران (کروندګر) په تعجب کې اچوي، د دې لپاره چې په دغو سره کافران په غصه کړي، الله له هغو کسانو سره چې

ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، چې هغه (صحابه) دي، د بخښنې او د ډېر لوی اجر وعده کړې ده.

طلحه له مصعب بن سعد رضی الله عنهم څخه روایت کوي چې: رأى سعد ان له فضل على من دونه،فقال النبی صلى الله علیه وسلم:هل تُنصرون وترزقون الا بضعفائكم. ژباړه: سعد رضی الله عنه ته داسې معلومه شوه چې په نورو کسانو غوره دی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل تاسو ته د ضعیفانو له وجې مرسته او رزق درکول کیږي.

جریر بن عبد الله وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: من لا یرحم الناس لا یرحمه الله. (ترمذي،۱۹۲۲) ژباړه: څوک چې په خلکو رحم نه کوي، الله په هغه رحم نه کوي.

(۱۶) مجاهد ته په کار ده چې په هیچا ظلم ونه کړي نه په مال کې او نه په نورڅه کې، ځکه د مظلوم دعا خامخا قبلیږي، لکه په دې حدیث کې چې حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت کړی، هغه وایي:

أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ: اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الله حِجَابٌ. (ترمذي، ٢٠١٤)

ژباړه: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ رضی الله عنه یمن ته استاوه نو ورته وېي ویل: د مظلوم له ښېرا ځان ساته ځکه د مظلوم د ښېرا او الله

ترمنځ هیڅ حجاب نشته، نو مجاهد که فرد وي، که امیر وي او که قاضي په خلکو دې ظلم نه کوي او د هغوی ترمنځ دې په عدالت فیصلې کوي.

علامه شیزري وایي: اعلم ان العدل اشرف اوصاف الملک و اقوم لدولته، لانه يَبعث على الطاعةِ، ويدعو إلى الأُلفة، وبه تصلُح الأعمال وتنمو الأموال.

ژباړه: پوه شه چې عدل د پادشاه تر ټولو غوره صفت او د ده د پاچاهي ټینګوونکی دی. ځکه عدل د خلکو د اطاعت باعث دی او خلک محبت ته رابولي، په عدل سره د خلکو اعمال اصلاح کیږي او اموال زیاتیږي.

(۱۷) مجاهد باید میړنی او غیرتمن وي، تقوی ولري، د عفت خاوند وي، د موسساتو او شتمنو خلکو مالونو ته تمه ونه لري.

مالقي په الشهب اللامعة کې وایي: جسم الحرب الشجاعة وقلبها التدبير وعينها الحذر وجناحها الطاعة ولسانها المكيدة وقائدها الرفق وسائقها النصر!
ژباړه: د جګړې جسم میړانه ده، زړه یې تدبیر، سترګې یې بیداري، وزر یې طاعت، ژبه یې چل ول، رهنما یې نرمي او پرمخ بیوونکی یې نصرت دی.

حضرت انس رضی الله عنه روایت کوي چې:

كان رسول الله صلى الله عليه وسلم أحسن الناس وأجود الناس وأشجع الناس، قال: وقد فزع أهل المدينة ليلة سمعوا صوتًا، قال: فتلقاهم النبي صلى الله عليه وسلم على فرس لأبي طلحة عُرْيٍ وهو متقلِّد سيفه، فقال: لم تراعوا،

لم تراعوا، ثم قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: وجدته بحرًا، يعني الفرس. (بخاري، ۲۹۰۸)

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو خلکو ښايسته، تر ټولو سخي او تر ټولو غيرتمن و، يوه ورځ د مديني منورې خلکو يو غږ واوريده او وويريدل، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسې حال کې چې د ابو طلحه په شا لوڅي آس سپور و او توره يې په غاړه وه د دې حال د معلومولو لپاره پسې لاړ او ويل يې: لم تراعوا، لم تراعوا، مه ويرېږئ، مه ويرېږئ، بيا يې ماته وويل سمندر په لاس راغی، مطلب يې اس و.

ابن ابي الدنيا وايي، چې حسن بن علي رضی الله عنهما به ويل چې الله پاک وايي: يا ابن آدم! اذا قنعت بمارزقناک فانت اغنى الناس. ژباړه: اې انسانه! که ته په هغه رزق ځان بسيا وبولې چې ما درکړی، نو ته تر ټولو خلکو غني او سرمايه دار يې.

ابی امامه رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «أَظْهِرُوا الْيَأْسَ فَإِنَّهُ غِنًى وَإِيَّاكُمْ وَالطَّمَعَ فَإِنَّهُ فَقْرٌ حَاضِرٌ». ژباړه: خلکو ته طمعه مه کوئ همدا بډاينه او غنا ده، له طمعې ځان وساتئ! ځکه طمعه موجود او حاضر فقر ده.

لَقِيَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلامٍ كَعْبَ الأَحْبَارِ عِنْدَ عُمَرَ فَقَالَ يَا كَعْبُ: مَنْ أَرْبَابُ الْعِلْمِ؟ فَقَالَ: الَّذِينَ يَعْمَلُونَ بِهِ، قَالَ: فَمَا يُذْهِبُ الْعِلْمَ مِنْ قُلُوبِ الْعُلَمَاءِ بَعْدَ إِذْ

عَقِلُوهُ وَحَفِظُوهُ؟ قَالَ: يُذْهِبُهُ الطَّمَعُ وَشَرَهُ النَّفْسِ وَتَطَلُّبُ الْحَاجَاتِ إِلَى النَّاسِ قَالَ: صَدَقْتَ.

عبد الله بن سلام رضي الله عنه له كعب الاحبار رضي الله عنه سره د عمر رضى الله عنه په مجلس کې یو ځای شو نو ورته ویې ویل: د علم خاوندان څوک دي؟ هغه ځواب ورکړ: هغه کسان چې په علم عمل کوي، بیا یې ورته وویل: له زده کېدو وروسته د علماوو له زړونو څخه علم څه شی بېرته باسي؟ هغه ورته وویل: حرص، طمع او له خلکو څه غوښتل، عبد الله بن سلام رضي الله عنه ورته وویل، چې بلکل دې رښتیا وویل.

زبیر بن بکار وايي: خنساء رضی الله عنها د قادسیې جګړې ته ورغله او څلور زامن هم ورسره ول، نو د شپې په پیل کې یې دوی ته وویل: اې زامنو! تاسو په خپله خوښه اسلام راوړی او پخپله خوښه مو هجرت کړی، زما دې په الله قسم وي چې تاسو ټول (داسې یقیني) د یوه سړي زامن یاست، لکه چې د یوې ښځې زامن یاست، نه مې ستاسو له پلار سره خیانت کړی، نه مې ستاسو ماما شرمولی او نه مې ستاسو نسب بدل او شرف بدنام کړی دی. تاسو پوهېږئ چې الله له کفارو سره په جنګ کولو څومره ثوابونه په ځان منلي؟ په دې پوه شئ چې آخرت تر دنیا غوره او بهتر دی، الله تعالی فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ. آل عمران ژباړه: اې د ایمان خاوندانو! صبر کوئ او په صبر ټینګ اوسئ او په مورچلو کې محکم اوسئ، له الله نه وېرېږئ، چې کامیاب شئ.

که سبا ان شاء الله روغ رمټ را پاڅيد لاست، نو د کفارو جنګ ته لاړ شئ، له الله څخه په دښمنانو برى غواړئ او چې جنګ تود شي، او ريې په لمبو شي، نو ور ودانګئ او په خرپ وجنګيږئ! تاسو به يا د غنيمت او يا د تلپاتي ژوند خاوندان شئ. زامن يې د دې له نصيحت سره سم جګړې ته ووتل د جنګ ترانې يې زمزمه کولې، تر څو چې ټول شهيدان شول، کله چې خنساء رضى الله عنها ته د دوى د شهادت خبر ورسيد، ويې ويل: الله لره دې ثناء او صفت وي چې زه يې د دوى په شهادت ونازولم له الله څخه هيله لرم چې ما هم له دوى سره د خپل رحمت په انګړ کې يو ځاى کړي، عمر رضى الله عنه به د خپل وفات تر وخته خنساء رضى الله عنها ته د هغې د څلورو زامنو (داولاد) وظيفه چې د يوه نفر دوه سوه درهمه وه ورکوله، رضى الله عنهم وارضاهم.

نو اې مجاهده! ته د دې صحابيې مېرمنې غيرت ته وګوره چې د زامنو په شهادت د الله حمد وايي!

(۱۸) مجاهد ته ښايي چې له علماوو او نيکانو خلکو سره ناسته ولاړه ولري، ابو هريره رضى الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: المرء على دين خليله، فلينظر احدكم من يخالل. (احمد، ۸۰۲۸) ژباړه: سړى د خپل انډيوال په تګلاره وي نو تاسو ګورئ چې هغه له چا سره ملګرتيا لري؟

(١٩) مجاهد ته پکار ده چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر او د خلکو اصلاح یې له لویو اهدافو څخه وي، له حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«لأعطين هذه الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يَفْتَحُ الله عَلَى يَدَيْهِ»، قَالَ: فَبَاتَ النَّاسُ يَدُوكُونَ لَيْلَتَهُمْ أَيُّهُمْ يُعْطَاهَا، فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلَى رَسُولِ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كُلُّهُمْ يَرْجُو أَنْ يُعْطَاهَا، فَقَالَ: «أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ». فَقَالُوا: يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «فَأَرْسِلُوا إِلَيْهِ فَأْتُونِي بِهِ». فَلَمَّا جَاءَ بَصَقَ فِي عَيْنَيْهِ وَدَعَا لَهُ، فَبَرَأَ حَتَّى كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ، فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ، فَقَالَ عَلِيٌّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا؟ فَقَالَ: «انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الإِسْلاَمِ وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ الله فِيهِ، فَوَالله لَأَنْ يَهْدِيَ الله بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا، خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ» (البخاري، ٣٧٠١)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خیبر په ورځ وفرمایل: زه به سبا بیرغ هغه چا ته ورکړم چې الله د ده په لاس فتح او بری لیکلی دی، الله او د الله رسول له ده سره مینه لري او دی هم له الله او د هغه له رسول سره مینه لري، نو خلکو کړی شپه چورتونه وهل چې دا بختور به څوک وي؟ سبا چې ټول پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راجمع شول هر چا فکر کاوه او هیله یې لرله چې بیرغ ورکړل شي، په دغه وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: علي بن ابی طالب چیرته دی؟

خلکو ورته وویل: هغه د سترګو په ناروغۍ اخته دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: ورشئ ماته يي راولئ، كله چې راغى نو پيغمبرعليه السلام يې په ستر ګولا ړه ورپورې کړه او دعا يې ورته وکړه سمدستي يې ستر ګې داسې روغې شوې لکه بيخي يې چې رنځ ليدلى نه وي، نو بيرغ يې هغه ته په لاس ورکړ. على كرم الله وجهه ورته وويل: اې د الله رسوله! ترهغو به ورسره جنګيږم څو مسلمانان شي؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: په كرار دروم‌ه څو چې د دوى قلمرو ته ورسيږې، بيا دوى اسلام ته دعوت كړه او په هغو حقونويې پوه کړه چې د الله له لوري پردوى لازم دي، زما دې په الله جل جلاله قسم وي چې كه الله تعالى ستا په لاس يوه سړي ته هدايت وكړي، نو دا تا ته ترسرو اوښانو هم غوره ده.

الله تعالي فرمايي: كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ژباړه: تاسو (اې د محمد صلى الله عليه وسلم امته) بهتر د امتونو ياست، تاسو (خلكو) ته په نيكو امر كوئ او له بدو يې را ګرځوئ او په الله تعالى ايمان لرئ.

تفسير طبرى د دغه آيت په تفسير كې د قتادة رضى الله عنه روايت رانقل كړى چې وايي: عن قتادة قال: ذُكر لنا أن عمر بن الخطاب قال في حجّة حجّها ورأى من الناس رِعَة سيئة، فقرأ هذه: " كنتم خير أمة أخرجت للناس "، الآية. ثم قال: يا أيها الناس، من سره أن يكون من تلك الأمة، فليؤد شرط الله منها.

ژباړه: له قتاده رضى الله عنه روايت شوى، چې موږ ته د حضرت عمر رضى الله عنه په اړه وويل شول، چې كله هغه حج ادا كاوه، نو له خلكو څخه يې بې ادبي

ولیدله، نو دا آیت یې ولوست، "کنتم خیر امة اخرجت للناس" بیا یې وویل: اې خلکو! که څوک دا خوښوي، چې له دغه امت څخه شي، نو د الله تعالی شرط دې پوره کړي، چې له دغه امت څخه یې غوښتی دی. یعنی امر بالمعروف او نهی عن المنکر دې وکړي، ځکه الله تعالی دغه امت ته بهتري له همدې امله ورکړی دی.

(۲۰) مجاهد ته لازم دي چې د الله حقوق په ځان او کورنۍ کې رعایت کړي په ځانګړې توګه په خپل وخت په جماعت لمونځ کول او که مسجد ته نشوای وتلای پخپل کور کې په جماعت لمونځ کول، صلابي د خلفاؤ په تاریخ کې لیکي چې عمر رضی الله عنه خپلو والیانو ته ولیکل: ما ته ستاسو تر ټولو مهم کار د لمانځه ادا کول دي، چا چې د لمانځه پوره اهتمام وکړ خپل دین یې وساته او چا چې لمونځ ضائع کړ نور کارونه ضائع کول ورته ډېر اسانه دي، الله پاک په قرآن کریم کې فرمایي:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ (٦) التحریم. ژباړه: اې د ایمان خاوندانو! تاسو خپل ځانونه او خپل اهل له داسې اور څخه وساتئ چې د هغه خاشاک خلک او کاڼي دي، ډېر سخت خویه او قوي ملایکي پرې مقرر دي، هغوی په هغه څه کې د الله نافرماني نه کوي چې دوی ته یې حکم کړی وي او هغه څه کوي چې دوی ته یې حکم کېږي.

(۲۱) امیر ته په کار ده چې همېشه دې له پوه خلکو سره مشوره کوي، کله چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه د لښکر د مشر په توګه د یزید بن ابي سفیان د ټاکلو

اراده وکړه نو په توصیه کې یې ورته وویل: له ابو عبیده بن الجراح او معاذ بن جبل سره مشوره کوه او بغیر له دوی یو کار هم مه ترسره کوه. (کنزالعمال، ۱۴۰۸۹)

(۲۲) امیر باید د ښه تدبیر او تجربې خاوند وي، ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې پیغمبر علیه السلام فرمایي: الحرب خدعة(بخاري ۳۰۲۹) جنګ چل دی، معنا دا چې کمین پکې ونیول شي تعرض پکې وشي او د ښمن هر وخت تېر ایستل شي.

(۲۳) امیر او حاکم ته لازم دي چې د بندیانو او جاسوسانو په وژلو کې تلوار ونه کړي او د دوی په حق کې د هیڅا خبره ونه مني، بلکې ښه سوچ او فکر دې پرې وکړي، ځکه په قتل کې تر خطا په عفوه کې خطا ډېره اسانه (ښه) ده ، الله تعالی فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ. [الحجرات:٦]

ژباړه: اې د ایمان خاوندانو ! که تاسو ته کوم فاسق (بدکاره سړی) خبر راوړي، نو تاسو ښه تحقیق کوئ، په دې چې تاسو به یو قوم ته په ناخبري سره تکلیف ورسوئ بیا به تاسو په خپلو کړو باندې پښېمانه شئ.

حضرت عائشة صدیقه رضی الله عنها روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "ادرَءُوا الحُدودَ عن المسلمين ما استطعتم، فإن كان له مخرج، فخلوا سبيله، فإن الإمام أن يخطئ في العفو، خير من أن يخطئ في العقوبة" (رواه الترمذي، ١٤٢٤).

ژباړه: ترکومه چې ستاسو په وس کې کېږي له مسلمانانو څخه حدود دفع کړئ که يې د خلاصون کومه لاره وه نو خلاص يې کړئ، ځکه امام که په عفوه کې خطا شي تر هغه ډېر غوره ده چې په عذاب ورکولو کې خطا شي.

دعــاګـــانـــې

ابو داود او ترمذي له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت کړی:

چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي: هر هغه څوک چې هر سهار او ماښام (بسم الله الذي لا يضر مع اسمه شيء في الأرض ولا في السماء وهو السميع العليم)

درې ځلي و وايي هيڅ شی به زيان ورته ونشي رسولای.

کله چې مجاهدين جهاد ته روان وي دا دعا به کوي: اللّٰهُمَّ أَنْت عضدي ونصيري بك أجول وَبِك أصُول وَبِك أقَاتل ؟رواه الترمذي

کله چې دتعرض اراده وکړي دا دعا به کوي: اللّٰهُمَّ منزل الْكتاب ومجرى السَّحَاب وهازم الْأَحْزَاب اهزمهم وَانْصُرْنَا عَلَيْهِم؟ (رواه البخاري)

که چېرې د دښمن څخه وېرېدل چې حمله به را باندې وکړي دا دعا به وايي: اللّٰهُمَّ إِنَّا نجعلك فِي نحورهم ونعوذ بك من شرورهم : رواه ابن حبان

که چېرې مجاهدين دد ښمن لـه لـوري محاصره شوو دا دعـا بـه وايـي؛ اللّٰهُمَّ اسْتُرْ عوراتنا وَأمن روعاتنا ؟ رواه احمد

کله چې مجاهدين پر يو ځاي کاميا ب سي يو مشر به د ريږي مجاهدين به ټولـه شاته و دريږي دا دعا به کوي: اللّٰهُمَّ لَك الْحَمد كُله لَا قَابض لما بسطت وَلَا باسـط لما قبضت وَلَا هادي لما أضللت وَلَا مضل لمن هديت وَلَا معطـي لمـا منعـت وَلَا مَانع لما أَعْطَيْت وَلَا مقرب لما باعدت وَلَا مباعد لما قربت اللّٰهُمَّ ابْسُطْ علينا من بركاتك ورحمتك وفضلك ورزقك اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسأَلك النَّعيم الْمُقِيم الَّذِي لَا يحـول وَلَا يَزُول اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسـأَلك الْأمـان يَـوْم الْخَـوْف اللّٰهُمَّ إِنِّي عَائِـذ بـك مـن شَرّ مَـا أَعطيتنَا وَمن شَرّ مَا منعتنا اللّٰهُمَّ حبب إِلَيْنَا الْإِيمَان وزينه فِي قُلُوبنَا وَكـره إِلَيْنَـا الْكفْر والفسوق والعصيان واجعلنا من الرَّاشِدين اللّٰهُمَّ توفنا مُسلمين وألحقنا بالصالحين غير خزايا وَلَا مفتونين اللّٰهُمَّ قَاتـل الْكَفَـرَة الَّذيـن يكـذبُون بِيَـوْم الدّين ويكذبون برسلك ويصدون عَن سَبِيلك وَاجعَل عَلَيْهِم رجـزك وعـذابك إِلَه الْحق آمين؟ (رواه النسائي)

عطا بن ابي رباح وايي : ماته حديث رسيدلی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: څوک چې د ورځې په پيل کي سورة يس تلاوت کړي د ټولي ورځي اړتياوي (حاجتونه) به يي پوره شي.(سنن الدارمي/٣٤٦١).

سبحان الله و بحمده سبحان الله العظيم وصلی الله علی خير خلقه اجمعين برحمتک يا ارحم الراحمين

لړلیک

مــــقــدمـــــه........ ٥
مجاهدینو ته د شریعت په رڼا کې لارښوونې........ ٩
نیـــت او اهمــیــت یــې............ ١٠
د نیـــت گـــټې: ١٨
د نیت د اخلاص په باره کې د سلفو اقوال:........ ٢٨
تـقـوی او اهمیــت یــې................................ ٣١
د تقوی گټې: ٣٣
نیــک اخــــلاق ٣٧
د الله پــــه لاره کــې جــــهــــاد................................ ٤١
دالله د دین ترحاکمیته به جهاد روان وي........ ٤١
د في سبيل الله جهاد اهداف:........ ٤٤
د مسلمـانانـو د نصـرت او بـري لاملــونه........ ٥٥
دنده او مشري یو امانت دی: ٥٦
د دندو د حرص زیانونه: ٦٥
د آمــــر اطـــاعـــت ٦٨
د امیر اطاعت د امتیازاتو په شرط ناروا دی........ ٧٢

د الله په نافرماني کې د امير اطاعت نشته................ ۷۳
په امام او مسئولينو بايد نېک گومان ولرئ.......................... ۷۴
د بدگوماني زيانونه ۷۶
تــواضـع ۷۷
دتواضع گټې: ۷۹
تواضع او سلف صالحين.. ۷۹
اميــرانو او واکمنانـو تــه نصيحت.. ۸۲
دقوم پالنې بد والى ۸۸
همغږي او يووالى.. ۹۰
د اولس د حقوقو ساتنه.. ۹۲
د اســلامي حکــومت (خلافت او امارت) ارزښــت........................ ۹۷
مجاهدين دې په عشر اوزکات کې بې ځايه تصرف نه کوي ۱۰۰
له بنديانوسره بايد غوره چلند وشي ۱۰۲
مــجـاهـد تــه آداب ۱۰۷
دعـاگـانـې.. ۱۳۰

* * *